رومانتیک

# نارنج کلاء

ناول



Ketabton.com

لیکوال: نیک محمد بارک "موسوي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم: نارنج کلاء (( ناول))

لیـــــکوال: نیک محمد بارک ((موسی))

کمپوز او کمپیوټری چارې: نیک محمد بارک ((موسی))

خپروندویه ټولنه: بارکزای خپروندیه ټولنه

د چاپ شمیر:

چاپ کال: ۱۲/۶/۱۳۹۹

د لیکوال سره اړیکې:

موبایل او واټسف: **0702110371**

ایمل ادرس: naikbarak786@gmail.com

**کافی رایټ:** د کافی رایت د قانون مطابق هیڅوک دا حق نلری چی د لیکوال لیکنې د هغه د اجازې پرته په شخصی توګه استفاده کړی.

د کافی حق یوازې د ناشر سره خوندی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبرې

د پاک او لا یزال خدای په ستر نامه؛

ټولـــو ګرانـــو لوســـتونکو تـــه الســـلام علـــیکم هیلـــه ده چـــی ټول به روغ او جوړ یاست،

یـــو ځـــل بیـــا د پـــاک رب شـــکر ادا کـــوم چـــی مـــا تـــه یـــی ددي ناول د لیکلو توان او توفیق راکې،

نـــارنج کـــلاء نـــاول چـــی یـــو رومانتیکـــه کیســـه لـــری د پنځو میاشتو په شاوخوا کی ولیکل سو،

دې نـــاول تـــه ځکـــه د نـــارنج کـــلاء نـــوم ورکـــول ســـو تـــر څـــو نـــوی ځوانـــان د خپلـــو تـــاریخو ځـــایونو پـــه تـــاریخ خبـــر ســـی او پـــه اړه یـــی څیړنـــې وکـــې نـــارنج کـــلاء د افغانســـتان د ۵۰۰۰ کلـــن تـــاریخ څخـــه د راپاتـــه ســـوو اثـــارو یـــو نمونـــه ده چـــی د کنـــدهار پـــه تـــاریخی ښـــار کـــی موقعیـــت لـــری چـــي پـــه تفصـــیل ســـره بحـــث بـــه د نـــاول پـــه پای کی پر ورکو،

کـــه څـــه هـــم دا نـــاول د کنـــدهار د تـــاریخی ښـــار د نـــارنج کـــلاء ســـره کـــوم ارتبـــاط نلـــری خـــو نـــوم مـــو ورتـــه ځکـــه انتخـــاب کـــې چـــی تـــر څـــو د خپلـــو نیکـــه ګـــانو کارنـــامې وپیژنـــو او د هغـــو پـــه تـــاریخ ځـــان خبـــر کـــو همـــدا یـــی تـــر ټولـــو ښـــه لاره وه چـــی اوســـنی ځوانـــان د نـــارنج کـــلاء د نامه سره اشنا سی او تاریخ مطالعه کې،

ددې نـــاول پـــه ویلـــو ســـره شـــاید تاســـو تـــه یـــوه پوښـــتنه حتمـــاً پیـــدا ســـی ددې پوښـــتنې د جـــواب لپـــاره مـــوږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناول په پای کې پر همدې موضوع بحث کړیدی چې تر ناول ویلو وروسته ستاسو توجو ورته غواړم او شاید په هغه بحث ستاسو نور شکونه هم لیری سی چې شاید د هغو شکو سره تاسو په ژوند کې مخ سوی یاست،

او یو بله مهمه موضوع ده چې باید رڼا پر واچوم هغه په ناول کې مینه ده د زما د مینې د ناول د لیکلو څخه مطلب دا دی چې مینه داسې تعریف کم چې مینه یوازې د شهوت مړول نه وی او نه هم مینه د پسخند او ټوکو کار دی چې د پیسو په څیر یې استعمال کو چې نن د یوه سره وی سبا د بل سره انسان په ټول ژوند کې یو وار مینه کوی او هغه لومړۍ مینه هیڅکله نه هیروی او نه هم هیریږی په دي شرط چې رښتینی وی خو نن وینم چې زیاتره مینه او انجلۍ د یو ټوکر پڅیر استعمالوی چې کله یې استعمال کې هغه چټل سی او د یو مردار شی پڅیر یې پر کچره دانۍ وغورځوی زه پخپلو ناولو کې نه د مذهب او نه د کلتور خلاف څه لیکم او نه دی هم څوک زما ناول د مذهب او کلتور خلاف کاروی زما هدف د خپل تاریخ را ژوندی کول، ځوانان د غربی او جنسی فلمو پر ځای مطالعی ته تشویقول او د خپلی مورنۍ ژبۍ پښتو بډایه کول دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو ګرانو لوستونکو څخه هیله کوم چې د نورو ناولونو د لاښه لیکلو لپاره په دې ناول کې زما حقیقي نیمګړتیاوې را په ګوته کې او خپل نظرونه مو را سره شریک کې.

## په درنښت

لیکوال: نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناول

د محکمې مختــه د خلکــو ګڼــه ګونــه وه ټــول ســره را ټــول ســوی وه څــه وخــت وروســته د پولیســو مــوټران راغلــل او یــو د بنــدیانو مــوټر هــم ور ســره وو وروســته یــی د بنــدیانو د مــوټر څخــه یــو ځــوان راکښــته کــې پــه دې ســره د خلکــو پــه میــنځ کــی ګڼــه ګونــه ســوه او نــارې یی کړی: مرګ پر شهاب! مرګ پر شهاب!،

بنــدې ځــوان شــهاب پولیســو دننــه محکمــې تــه ننباســی او د مجرمــانو پــه ځــای کــې یــی ودروی څــه وخــت وروســته محکمــه پیــل ســوه او یــو وکیــل وویــل: قاضــی صــاحب داغــه ځــوان چــی ولاړ دی دا شــهاب نــومیږی دې ځــوان خپــل د کوچنیــوالی ملګــری مشــهوره ځــوان تجــار ســاحل د پیســو او د هغــه د کمپنیــو لپــاره وژلــی دی ټــول ولــس غــواړې چــی دا ځــوان د مــرګ پــه ســزا محکوم سی،

قاضــی شــهاب تــه وویــل: ایــا تــه د ځــان د بــی ګنــاه ثابتولو لپاره کوم ثبوت لری؟

شــهاب هــیڅ نــه وویــل څــه وخــت وروســته د محکمــې د دروازې څخــه یــو پــوخ عمــره ســړی ږغ وکــې او ویویــل: هــو قاضــی صــاحب مــوږ دده د بــی ګنــاه ثــابتولو لپاره ثبوت یو،

ټولــو شــاته وکتــل ویلیــدل چــی یــو دا پــوخ عمــره ســړی وو چــی ږغ یــی وکــې او یــوه ښــځه او څــو ځوانــان ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـره وه، کلـه چـي هغـوی د قاضـی مختـه را ورسـیدل نو قاضی تری پوښتنه وکړه چی تاسو څوک یاست؟

پـوخ عمـره سـړی وویـل: زمـا نـوم کـریم دی زه د ساحل پـلار یـم دا زمـا و څنګتـه ولاړه ښـځه د ساحل مور او دا ځوانان یی ورونه دي،

قاضـی شـهاب تـه اشـاره وکـړه او بیـا یـی د سـاحل پـلار تـه وویـل: ایـا تاسـو دا نفـر پیژنـی او تاسـو دا څنګـه ویلای سی چی دی بی ګناه دی؟؟

کـریم وویـل: قاضـی صـاحب دا نفـر زمـا د زوی د کوچنیـوالی ملګـری دی زمـا زوی او دی ډیـر سـره ګـران وه البتـه تـر مرګـه پـوری زمـا د زوی او دده همداسـی ټینګـه ملګرتیـا وه زمـا زوی ده نـه دی وژلـی بلکی هغه د زړه د حملی لکبله مړ سو............،

قاضـی او ټـول خلـک ډیـر حیـران سـول او څـه وخـت وروسـته قاضـی شـهاب تـه وویـل: ایـا تاسـو دا راتـه ویـلای سـی چـی ستاسـو پـر ملګـری مشـهوره تجـار ساحل څنګه د زړه حمله راغله؟؟

د شـهاب تـر سـترګو اوښـکې وبهیـدلی یـو څـه وخـت چوپ پاته وو او بیا یی وویل:........

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نارنج کلاء

سهارګاه وه کوچنی ساحل په خواږه خوب بیده وو مور یی راغلل او ساحل ته یی وویل: ساحله! ساحله!،

ساحل د خوبه ډکی سترګې مور ته وکتل او ویویل: ها مور څه شی دی؟

مور یی وویل: هله ولاړ سه ناوخته دی پلار به دی هم د مسجد څخه را ورسیږی که یی په داسی حالت کی ولیدلی نو بیا دی وهی،

ساحل د پلار د نامه په اوریدو سره د ځایه پورته سو تر ناشتی وروسته مکتب ته د تلو لپاره اماده سو او د مکتب پر خوا د نورو ورونو سره روان سو د ساحل پلار د ساحل سره هیڅ مینه نه کول خو دده د نورو ورونو سره به یی ډیره مینه کول خو ساحل به یی زیات تهدیدوی د ساحل نورو ورونو ته به یی د خوراک او د بازی شیان ور رانیول خو ساحل ته به یی نه ور رانیول د ساحل زړه به ډیر غمګین سو د ساحل ډیرو فکرو او اندیښنو دده حافظی ته زیات تاوان ورسوی کله چی به د صنف د خلاصیدو وخت رانیږدی سو او امتحانونه به واخیستل سوه ساحل به ډیر تیاری ورته نیولی وو خو کله چی به استاذ د امتحان ورقه ورکړل ده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

به سوالو ته وکتل نو ټول شیان به یې هیر سول او د امتحان پارچه به یې همداسې خالي ورکړل کله چې به نتیایج اعلان سول نو دده نور وروڼه به ټول اول نمره او دوهم و دریم نمره وه خو ساحل به ناکام وو یا به هم د صنف تر ټولو شاګردانو ورستني وو کله چې به یې پلار د نورو ورونو نتایج او د امتحان پارچې کتلې هغو ته به یې شاباسې ورکوی خو کله چې به یې د ساحل نتایج وکتل نو تر کتلو وروسته یې ساحل ته ټینګه چپلاخه ورکړل د ساحل ابتدایي او منځنۍ د صنف دوری او نتیایج همداسې په ناکامی او د پلار په چپلاخو تیر سول مور به یې کله کله د پلار څخه خلاصوی خو وروسته چې د ساحل ناکامی ډیری سوی نو بیا یې مور هم څه نه ویل ورونو به هم وهی او د ناکام ناکام پیغورونه به یې ورکول د ساحل اندیښنې او غمونه نور هم زیاتیدل کله چې د مکتب اخیری مرحلې شروع سوی نو ساحل هم ځوان سوی وو او د مکتب فارغه کیدو ته یې دوه صنفه لا پاته وه ساحل د ډیرو اندیښنو څخه شعرونه هم شروع کړه او غمګین غمګین شعرونه به یې ویل، یوه ورځ ساحل د مکتب په پارک کې د یو همصنفی سره ناست وو چې مخامخ یې پر یوی انجلۍ سترګې ولګیدی چې د مکتب پر طرف را روانه وه هغه ډیره ښکلې وه د ساحل سترګې په هغې کې پاته سوی او د هغې په ښایست کې غرق

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـو د سـاحل ملګـری سـاحل وښـوروی او ورتـه یـی وویل: ساحل! چیری غرق یی وروره،

سـاحل زهـرا تـه اشـاره وکـړه او ویویـل: دا څـوک ده اول وار یی په مکتب کی وینم؟

ملګـری یـی وویـل: دا زهـرا نـومیږی د یـو لـوړ پـوړی چـارواکی لـور ده دا هـم دلتـه مکتـب وایـی ډیـره مغروره ده،

سـاحل وویـل: خامخـا نـو د خـان سـړی لـور ده مغـروره خو به نو وی،

د سـاحل شـعرونه همداسـی شـروع وه څـه وخـت وروسـته یـوه ورځ سـاحل چـی کلـه د مکتـب د تفـریح وخـت سـو نـو د نـورو شـاګردانو څخـه لیـری تـر یـوی درختـی لانـدی کښینسـتی او خپـل د شـروع کتابچـه یـی خلاصـه کـړه او پـه شـعر لیکلـو یـی شـروع وکـړه او د ځانه سره یی داسی تکرار شروع کړ...

د زړه حال و چاته نسمه ویلای

د زړه حال و چاته نسمه ویلای

د زړه غم می چاته نسمه ښودلای

د رقیب له لاسه لیری یم له یاره

د رقیب له لاسه لیری یم له یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور می زړه له یاره نسم صبرولای

کله چی ساحل دا شعر وایه نو په دی وخت کی یی تر شا د یو چا د چکچکو ږغ سو ساحل چی کله ورته وکتل نو ویلیدل چی زهرا ده ساحل ډیر حیران سو، بیا زهرا وویل: واه واه څومره ښکلی شعر ایا دا تاسو خپل لیکلی دی؟

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: هو همداسی یی وبله،

زهرا وویل: ایا تاسو شاعر یاست؟

ساحل وویل: نه خو بس ناڅاپه می خولی ته راسی،

زهرا وویل: ایا تاسو پر یو چا عاشق یاست یا د یو چا سره مینه کوی؟

ساحل موسکی او ویویل: نه نه،

زهرا وویل: نو شعرونه خو داسی یو څوک لیکی چی مین وی یا هم ډیر غمگین،

ساحل وویل: د دنیا ژوند دی خامخا لوړی او ژوری لری،

زهرا وویل: ایا دا ستاسو د شعرو کتابچه کتلای سم،

ساحل وویل: هو ولی نه خو یو څه زړه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل خپل د شعرو کتابچه زهرا ته ورکړه زهرا د ساحل دوه دری شعرونه وویل د ساحل شعرو ډیر خوند ورکړ او بیا یی ساحل ته وویل: ماشاءالله څومره ښکلی شعرونه دی لیکلي دي ایا دا کتابچه زه نن د ځان سره وړلای سم،

ساحل وویل: هو ولی نه،

زهرا تری مننه وکړه او بیا د کور پر طرف رهی سول او ټوله شپه یی د ساحل د کتابچې شعرونه ویل او ډیر خوند یی ورکاوه نیمایی شپه یی په شعرو تیره کړه کله چی سهار سو نو ټول شاګردان مکتب ته راغلل او درسونه یی شروع کړل کله چی تفریح سوه نو ساحل په پارک کی تر درختی لاندی ناست وو چی شاته یی د زهرا ږغ سو چی ویل یی:

د یار د حُسن خیاله هدیری ته دی درځمه

په ژوند می نصیب نسوی جنازې ته دی درځمه

واه څه ښکلی شعر وو،

زهرا راغلل تر سلام وروسته یی د بستې څخه د ساحل د شعرو کتابچه راویستل او ساحل ته یی ورکړه، کله چی ساحل خپل کتابچه وکتل نو ویلیدل چی کتابچه یی په ډیر ښایسته پوښ کی نیول سوی وه ساحل ډیر حیران سو او زهرا ته یی وویل: واه څومره ښکلی پوښ دی ورکړیدی خو ولی مو دومره تکلیف کوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهـــرا وویـــل: د دومـــرو ښـــکلو شـــعرو کتابچـــه خـــو بایـــد سمه وساتل سی،

ساحل د زهرا څخه مننه وکړه،

د ســـاحل زړه بـــه د زهـــرا پـــه لیـــدو څـــه ناڅـــه ســـکون پیـــدا کـــوی او د هغـــۍ ســـره پـــه ناســـته او ولاړه کـــی ډیـــر خوشـــحالیدی کـــرار کـــرار یـــی د زهـــرا ســـره مینـــه پیـــدا ســـوه خـــو د زهـــرا د غـــرور لـــه وجـــی بـــه یـــی هـــیڅ هـــم نســـوای ورتـــه ویـــلای یـــوه ورځ د ســـاحل ملګـــری شـــهاب د ســـاحل څخـــه وپوښـــتل: ســـاحل ایـــا تـــه پـــر زهـــرا مین سوی یی؟

ســـاحل موســـکی ســـو او ویویـــل: نـــه یـــاره داســـی خبـــره نـــه ده،

شـــهاب وویـــل: یـــاره ســـتا د ســـترګو څخـــه خـــو داغســـی معلومیږی،

بیـــا شـــهاب وویـــل: ســـاحل دا د غټـــو خلکـــو لـــوڼی دی هـــیڅ وفـــا نـــه لـــری او زمـــوږ رکـــم د غریبـــو خلکـــو پـــر خـــوا لا نـــه ګـــوری مینـــه خـــو لا لیـــری خبـــره ده دا خـــوږی خـــوږی خبـــری چـــی تاتـــه کـــوی پـــه دي کـــی هـــم دوی یو مقصد لری،

ســـاحل وویـــل: نـــه یـــاره زه خـــو داســـی څـــه نـــه لـــرم چـــی دا دی یـــی د حاصـــلولو لپـــاره راســـره خـــوږی خـــوږی خبری وکی،

شهاب وویل؛ ساحل مقصد بیداره اوسه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل او زهرا به هره ورځ سره لیدل ساحل به هغې ته خپل شعرونه ویل او زهرا او ملګرو به یې د هغه څخه ډیر خوند اخیستی یوه ورځ زهرا او ساحل د مکتب په پارک کې سره ناست وه ساحل زهرا ته خپل شعر وایه زهرا د ساحل څنګته ور نیږدی سوه، ساحل د هغې طرف ته په مړاوو سترګو حیران وکتل خو بیرته یې خپل شعر شروع کې څه وروسته زهرا خپل لاس د ساحل په لاس کې ورکې او ټینګ یې ونیوی، ساحل ډیر حیران سو خو پوه سو چې زهرا مینه ور سره کوی،

د مکتب دوره یې شوخیانی ډیري پکښې کیږی ټول د مکتب شاګردان سره راټول سوی وه شراف او جمال یو پر بل مسخری سره کولی،

شراف وویل: د جمال خر ناروغه وو پلار یې غوا پر حلاله کړه،

ټولو شاګردانو وخندل،

بیا جمال وویل: د شراف کور ته غل ور اوښتی وو سپی یی په ګاډی کې پسی ځغلوی،

بیا ټولو وخندل،

شراف وویل: جمال یو وخت لیونی بزګر وو د غالۍ پر ګلانو یی اوبه را ایله کړی وی،

ټولو سره وخندل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا جمال وویل: لیونی ډاکټر یې سیروم ته دی مریض را څرولی دی،

شراف وویل: لیونی عسکر یې په مخابره کې دی نیټ فعاله کړیدی،

جمال وویل: چیک انجینر یې پر بام زیرخانه جوړوی،

د مکتب زنګ ووهل سو جمال او شراف په غیږ کې سره ونیول او ټول شاګردان صنفونو ته ننوتل،

د ساحل فارغه کیدو ته لږ وخت پاته وو پلار یې په درد سره ورته وویل: ګوره ټمبله که ددي واری هم ناکامه سوی نو بیا به دی خیر نه وی،

ساحل په دی اړه ډیر پریشانه وو غمونه او پریشانی یې نوری هم زیاتیدی خو ټول به یې په خپلو شعرو کې بیانول،

یوه ورځ ساحل ناست وو او شعر یې لیکه چې په دی وخت کې زهرا راغلل او تر څنګ یې کښینستل د ساحل څخه یې د شعرو کتابچه واخیستل او ویکتل او ویویل: واه دا خو دا ده ډکه سویده ته دا کتابچه ماته راکه زه به تاته بله راوړم،

ساحل وویل: وبخښه زهرا نه یې سم درکولای ځکه چې دا زما د دردو درک کونکی ده چې ما ورته خپل غمونه ویلی دی او زړه می څه کرار پیدا کړیدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهــرا وویــل: ســمده مــه یــی راکــوه خــو د نــن ورځـــې لپاره یی راکه سبا ته به یی بیرته درته راوړم،

ساحل وویل: سمده د نن لپاره یی در سره یوسه،

زهـــرا ولاړه او د ســـاحل د شـــعرو کتابچـــه یـــی د ځـــان ســـره یـــوړل او ســـبا تـــه یـــی د یـــوی نـــوی کتـــابچی ســـره بیرتـــه ورتـــه راوړل زهـــرا او ســـاحل بـــه هـــره ورځ ســـره لیـــدل تـــر دی چـــی د دواړو مینـــه ډیـــره ســـره ټینګـــه سوه او یو و بل ته یی د مینی لاسونه سره ورکړل،

د مکتـــب د امتحـــانو وخـــت ســـو ســـاحل کوښـــښ کـــاوه چـــی ډیـــر درس ووایـــو تـــر څـــو بریـــالی ســـی خـــو فکـــر بـــه یـــی بیـــا هـــم خـــراب وو ځکـــه د کوچنیـــوالی څخـــه تـــر اوســـه یـــی یـــوازی نفـــرط لیـــدلی وو نـــو ځکـــه یـــی هغـــو نفرطـــو دمـــاغ ور خـــراب کـــړی وو خـــو بیـــا بـــه یـــی هـــم کوښـــښ کـــاوه چـــی ســـخت درس ووایـــی تـــر څـــو بریـــالی ســـی ځکه چی اخیری صنف یی وو،

کلـــه چـــی امتحانـــات را ورســـیدل نـــو ســـاحل ښـــه امتحانونـــه ور کـــړه خـــو بیـــا هـــم پـــایلو تـــه پریشـــانه او فکـــرجن وو، یـــوه ورځ پـــه پـــارک کـــی ناســـت وو او پـــه فکـــرو کـــی غـــرق وو چـــی پـــه دی وخـــت کـــی زهـــرا راغلـــل او تـــری وپوښـــتل: ســـاحل ولـــی داســـی پریشـــانه یی خیریت دی څه پیښه ده؟

ســـاحل وویـــل: څـــه خبـــره نـــه ده خـــو پـــه امتحـــانو مـــی یـــو څه فکر خراب دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهــرا وویــل: دا خــو د اندیښــنې کومــه خبــره نــه ده کــه دی سم امتحان ورکړی یی نو کامیاب به یی،

څــــو ورځ وروســـــته نتـــــایج اعلانیـــــدل د نتـــــایجو د اعلانیــدو پــه ورځ ســاحل ســهار وختــی کښینســتی تــر عبــادت وروســته یــی الله تــه د کامیــابی دعــاوی شــروع کــړی او ډیــرې دعــاوی یــی وکــړی او د مکتــب پــر طــرف رهــی ســو کلــه چــی مکتــب تــه ور ورســیدی نــو ویلیــدل چــی ټــول شــاګردان ډیــر وارخطــا وه او نتــایجو تــه انتظــار وه څــه وخــت وروســته اســتاذان لــه اداری را ووتــل شــاګردان ټــول صــنفو تــه ننوتــل او د نتــایجو پــه انتظــار ســوه، اســتاذانو د نتــایجو اعــلان شــروع کــړ لــومړی' دوهــم او دریمــه درجــه شــاګردانو تــه یــی د هغــوی نتــایج پــاڼی ورکــړی بیــا اســتاذ وویــل: زده کوونکــو څلــورم مقــام مــو ستاســو همصــنفی ســاحل ګټلــی دی، ســاحل ډیــر حیــران او بیــا ډیــر خوشــحاله ســو اســتاذ تــه ورغلــی او د خپــل نتــایجو پاڼــه یــی څنــی واخیســتل، ورپســی د نــورو شــاګردانو نتــایج اعــلان ســوه کلــه چــی ټــول نتــایج خــلاص ســول نــو ســاحل د صــنف دبانــدی ووتــی د مکتــب پــه دروازه کــی یــی زهــرا ولیــدل چــی مــوټر تــه ختــل ســاحل زهــرا تــه پــه موســـکا د دریـــدو لاس وښـــوروی زهـــرا د ســـاحل طــرف تــه وکتــل خــو وروســته خپــل مــوټر تــه وختــل او ولاړل، ســاحل حیــران ســو لــږ وروســته د ســاحل ملګــری شــهاب راغلــی، شــهاب ولیــدل چــی ســاحل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریشانه وو نو یی ځنی وپوښتل: ساحل څه خبره ده ولی داسی پریشانه یی دا دی په ښو نمرو هم کامیابه سوی یی ایا نمرې دی نسوی خوښی؟

ساحل وویل: یا یاره په دی خاطر نه یم پریشانه ما غوښتل خپل د کامیابی په اړه زهرا ته ووایم ما هغې ته د دریدو لاس وښوروړی هغې زه وهم لیدم خو بیا هم موټر ته وختل او ولاړل ایا داسی خو به نه یی چی هغه ناکامه سوی یی؟

شهاب په دی وخت کی یوی روانی انجلۍ ته وویل: وبخښی اغلۍ راته ویلای سې چی ستاسو همصنفۍ زهرا څووم نمره سوی وه؟

هغې وویل: فکر کوم هغه اول نمره سوی وه هو هو اول نمره سوی وه استاذ هغې ته د اولی درجې جایزه هم ورکړه،

شهاب د هغې څخه مننه وکړه او بیا یی ساحل ته وویل: ساحل ما نه وه درته ویلی چی دا د غټو خلکو لوڼې هیڅ وفا نه لری خو تا نه منل،

ساحل وویل: نه یاره هغه داسی انجلۍ نه ده شاید کومه ستونزه ورپیښه وه،

شهاب وویل: نو سمده زه ملامت یم نو ولاړم نور د خدای په امان،

ساحل په شهاب پسی ناره کړه: شهاب شهاب ته راسه یاره چیری ځی یو ځای به ولاړ سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب د شا لخوا په رفتار کې وويل: نه نه زه نور ستا سره بحث نکوم او نه هم ستا سره ځم،

شهاب د کور پر طرف رهي سو او ساحل د خپل کور پر طرف روان سو کله چې کورته ورسيدی نو ويليدل چې دری ورونه يې د کور په مينځ کې ناست وه يوه يې ساحل ته وويل: څنګه سو ټمبله څوومه درجه سوی؟

بل په خندا وويل: اول نمره سوی به يی،

ټولو سره وخندل بيا دريم په خندا ساحل ته وويل: وای څلورم نمره سوی يی ټمبله،

ساحل ورته وويل: ستاسو پخير خاين نه يم چې په نقل اول مقام ونيسم تاسو خو هر وار په نقل اول او دوهم مقام نيسی،

ورونو يې يو وبل ته سره وکتل او په درد سره يې په ټولو ساحل پوری وهی ساحل هغو ته ورحمله کړه او ټول يې شاته پوری وهل او يو د بل سره يې جنګ شروع سو په دی وخت کې يوه ورور يې د ساحل د نتايجو پاڼه ور څيری کړه ساحل ددی په ليدو ډير په درد کې سو وينه يې پر جوش راغلل او هغه ورور ته يې پر مخ سوک ورکړ او د هغه خوله يې ور وينې کړه او بيا يې د ټولو سره حملې سوی تر څه وخت جنګ وروسته يې پلار پر راغلی او ټول يې سره ليری کړل کله چې د ساحل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــلار د ســـاحل د ورور خولـــه پـــه وینـــو لړلـــی ولیـــدل نـــو ورته یی وویل: دا چا وکړه؟

هغه وویل: ساحل په سوک ووهلم،

پلاریـی ډیـر پـه درد کـی سـو او سـاحل تـه یـی پـه چکـو او څپیـــړو ورکولـــو شـــروع وکـــړه او د کـــور د دروازی خواتــه یــی پــوری وهــی او پــه دی حالــت کــی یــی ورتــه وویـل چـی ووځـه بـی شـرمه زمـا د کـوره څخـه چـی بیـا دی ونه وینم هله ووځه،

ســاحل پــه ژړا ورتـــه وویـــل: بابـــا خـــو ده زمـــا د نتـــایجو ورقه را څیری کړه،

پـــلار یـــی همداســـی د کـــور د دروازی خواتـــه پـــه وهلـــو پوری وهه،

مــور چـــی یـــی کلـــه د کـــوټی څخـــه دبانـــدې راووتـــل نـــو ژر یـــی هغـــه زوی پـــه غیـږ کـــی ونیـــوی چـــی تـــر خولـــه یـــی وینـــی بهیـــدی ســـاحل مـــور تـــه ور نـــاره کـــړه چـــی مـــور! مـــور! خـــو مـــور یـــی هـــیڅ نـــه ورتـــه ویـــل او پـــه دی وخـــت کـــی یـــی پـــلار ســـاحل تـــر کـــور دبانـــدی پـــورې وهـــه او دروازه یـــی ورتـــه وتـــړل ســـاحل د کـــور مختـــه پـــه خـــاورو کـــی وموښـــتی او تـــر ســـترګو یـــی د ویـــالی پڅیـــر اوښکې روانی وی،،

څـــه وخـــت یـــی هلتـــه ژړل وروســـته یـــی د ملګـــری شـــهاب ســـره ولیـــدل او هغـــه تـــه یـــی ټولـــه کیســـه وکـــړه بیـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــهاب وويـــل: ســـاحل نـــو تـــه بـــه اوس چيـــرى ګـــزاره کوى؟

ساحل وويل: نه يم خبر ياره،

شـــهاب وويـــل: ســـاحل زمـــا پـــلار د موټرانـــو ورکشـــاف لـــرى زه هـــم هلتـــه اوس کـــار ور ســـره کـــوم تـــه هـــم هلتـــه را ســـره ولاړ ســـه د ورځـــې زمـــوږ ســـره کـــار کـــوه چـــى پـــه دى ســـره بـــه د جيـــب خـــرڅ هـــم پيـــدا کـــوى او د شـــپى به هلته اوسيږى هم،

ساحل وويل: خو ستا پلار؟

شـــهاب وويـــل: زمـــا هـــيڅ نـــه وايـــى هغـــه پـــه دى ســـره خوشحاله کيږى لا هم،

ساحل وويل: سمده درځه،

وروســـــته شـــــهاب او ســـــاحل دواړه د شـــــهاب د پـــــلار ورکشـــاف تـــه ولاړل شـــهاب ســـاحل و خپـــل پـــلار تـــه ور معرفـــى کـــړ د شـــهاب پـــلار ور ســـره ومنـــل، ســـاحل پـــه دى ســـره ډيـــر خوشـــحاله ســـو او پـــه ورکشـــاف کـــى يـــى کـــار ور ســـره شـــروع کـــړ، ســـاحل بـــه هـــره ورځ پـــه ورکشـــاف کـــى د شـــهاب ترخنـــګ کـــار کـــاوه کلـــه چـــى بـــه تفـــريح ســـوه نـــو ســـاحل بـــه تليفـــون راويســـتى او زهـــرا تـــه بـــه يـــى زنـــګ ووهلـــى زنـــګ بـــه ورغلـــى خـــو جـــواب بـــه يـــى نـــه وايـــه شـــهاب بـــه ســـاحل ليـــدى چـــى زهـــرا تـــه پرلپســـى زنګونـــه وهـــى خـــو هغـــه يـــى نـــه پورتـــه کـــوى وروســـــته شـــــهاب و ســـــاحل تـــــه وويـــــل: ســـــاحل يـــــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریېږده یې ما درته وویل چې دا د غټو خلکو لوبې وفا نلري،

ساحل وویل: نه یاره شاید په یو څه اخته وي؟

ساحل به هره ورځ تر کار وروسته زهرا ته زنګونه وهل خو هغې به جواب نه ورکوی ښه ډیر وخت تیر سو یوه ورځ ساحل په موټر اخته وو چې په دې وخت کې شهاب راغلی او ورته یې وویل: ساحل! ساحل،

ساحل وویل: ها شهاب څه وایې؟

شهاب وویل: ته راسه یو څه مې پکار یې،

ساحل خپل لاسونه پریول او د شهاب تر څنګ کښینستې شهاب ډیر خوابدی معلومیدی ساحل وویل: څه خبره ده یاره؟

شهاب خپل بستې ته لاس دننه کړ او یو کتاب یې را ویستی او ساحل ته یې ورکړ ساحل چې کله کتاب څنې واخیستی او خلاص یې کړ نو ویلیدل چې په کتاب کې ټول دده شعرونه لیکل سوي وه ساحل ډیر خوشحاله سو او شهاب ته یې وویل: اوه دا خو زما شعرونه دي،

شهاب په خوابدتیا سره ورته وویل: ساحل! د مخ پوښ یې وګوره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل چې کله د کتاب د مخ پوښ ته وکتل نو ویلیدل چې د شاعر د نامه پر ځای د "ارمان" نوم لیکلی وو، ساحل ډیر حیران سو او شهاب ته یی وویل: شهاب! دا ارمان څوک دی دا شعرونه خو ټول زما دی خو دا ارمان بیا د کومه سو په زما په شعرو خو تر ما وتا ماسیوا بل څوک نه وو خبر او نه هم ما چاته ستا بغیر زما د شعرو کتابچه ورکړیده،

شهاب وویل: ایا زما بغیر تا بل چاته نه وه ورکړی؟

ساحل حیران سو او په فکر کی سو چی دا خو ما زهرا ته ورکړی وه او بیا یی وویل: بنه نو دا چمبازی د زهرا ده،

شهاب وویل: ساحل! ما خو په اوله ورځ درته وویل چی په دې انجلۍ باور مکوه خو تا زما خبره کله منل پوهیږی چی ستا دا شعرونه کامیاب سویدی او جایزه یی دي بی غیرته ارمان ته ورکول کیږی دوې ورځې بعد یی مراسم دی،

ساحل ډیر حیران وو او بیا یی وویل: خو دا ارمان دی څوک او د زهرا سره څه تړاو لری؟

شهاب وویل: نه پوهیږم خو مراسمو ته به یی ورسو هلته به یی د نیږدیووینو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ورځــې وروســـته شـــهاب او ســـاحل ځـــان تيـــار کــړ او د مراســـمو پـــر خـــوا روان ســـول کلـــه چـــی هلتـــه ور ورســـيدل دوی غوښـــتل چـــی دننـــه غونـــډی تـــه ورســـی خـــو دروازه وان راوګرځـــول او ورتـــه يـــی وويـــل: وبخښې د غونډۍ کارډ راښکاره کړی،

شـــهاب وويـــل: مـــوږ کـــارډ نلـــرو خـــو دلتـــه مـــوږ راغوښتل سوی يو مراسمو ته،

دروازه وان وويـــل: وبخښـــې ښـــاغلو بـــی کـــارډه هـــيڅ چاته اجازه نسته،

شـــهاب او ســـاحل بيرتـــه شـــاته ســـول او غونـــډې تـــه نـــه پريښـــوول ســـوه، غونـــډه شـــروع وه د غونـــډۍ وينـــاوال وويـــل: دوســـتانو د ارمـــان د شـــعرونو کتـــاب چـــی يـــو زيـــات پلـــورونکی کتـــاب ســـو پـــه هيـــواد کـــی مـــوږ د غـــوره کتـــاب د جـــايزی لپـــاره ټـــاکلی دی د کتـــاب ټـــول شـــعرونه ډيـــر غمجـــن او ژړونکـــی شـــعرونه دی چـــې پـــه ډيـــر ښـــه طـــرز ســـره ليکـــل ســـويدي......، تـــر ډيـــرو خبـــرو وروســـته يـــی ارمـــان تـــه د غـــوره شـــعرونو د کتـــاب جـــايزه ورکـــړه زهـــرا او پـــلار يـــی ډيـــر خوشـــحاله وه او زيـــاتی چکچکـــی يـــی کـــولی کلـــه چـــی غونـــډه خلاصـــه ســـول زهـــرا پـــلار او ارمـــان يـــو ځـــای ســـره روان ســـول پـــه تـــګ تـــګ کـــی ارمـــان د خبريـــالانو ســـره د کتـــاب پـــه هکلـــه هـــم ږغيـــدی کلـــه چـــی د تـــالار دبانـــدی ووتـــل ارمـــان د زهـــرا پـــلار تـــه وويـــل: کاکـــا تـــا او زهـــرا در روان سی زه به د پارکينګ څخه موټر راوباسم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهـــرا او پـــلار ســـره روان وه چـــی د شـــا لخـــوا یـــی د چکچکــو ږغ واوریـــدی دوی چـــی کلـــه شـــاته وکتـــل نـــو ویلیـــدل چـــی ســـاحل چکچکـــی کـــولی زهـــرا ډیـــره حیرانـــه ســـوه بیـــا ســـاحل زهـــرا تـــه ور نیـــږدی ســـو او ورتـــه یـــی وویـــل: مبـــارک! مبـــارک! مبـــارک! نـــن بـــه تـــه او ســـتا کورنی ډیر ستایل سوی یاست،

د زهرا پلار زهرا ته وویل: دا هلک څوک دی؟

ســـاحل پـــه جـــواب کـــی ورتـــه وویـــل: زه بـــه درتـــه ووایـــم چـــی زه څـــوک یـــم دا نـــن ورځ چـــی تاســـو د کـــوم کتـــاب پـــه شـــعرو وســـتایل سواســـت د هغـــه کتـــاب شـــعرونه ټـــول زمـــا دی چـــی ســـتا لـــور پـــه چمبـــازی زمـــا څخـــه زمـــا د شـــعرو کتابچـــه اخیســـتی وه او دا دی ددی کتـــاب لپـــاره یی په غلا کافی کړیدی،

د زهـــرا پـــلار ســـاحل تـــه وویـــل: ګـــوره ځوانـــه زه یـــو سیاســـتمدار یـــم د پلویـــانو د پیـــدا کولـــو لپـــاره هـــر رکـــم تکتیـــک اســـتعمالوم ســـتا پـــه دي شـــعرو ســـره زه ډیـــر مشـــهوره ســـوی یـــم انتخابـــات را روان دی زمـــا ســـره ډیـــر کمـــک کـــوی زهـــرا ماتـــه دا وړانـــدیز وکـــی او مـــا پخپـــل مصـــرف ســـره د ځـــان پـــه ګټـــه چـــاپ کـــړ تـــه چـــی یـــی پـــه بدلـــه کـــی هـــر څـــه غـــواړی زه بـــه یـــی درکـــم خـــو که دی کوم اقدام وښوی نو بیا به دی خیر نه وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: افسوس افسوس افسوس ستا پخیر پر سیاستمدارانو چی د چوکی او پیسو لپاره هر رکم خیانت او چمبازی کوی،

د زهرا پلار په درد سره ساحل ته وویل: چپ سه بی عقله که نه د ژوند څکه ولاکه راخخه وکی،

ساحل هم په درد سره ورته وویل: ته چپ سه که نه اوس دی د دا ټولو رسنیو او خلکو ومخته په شرمونو شرموم د وطن خاینه ته چی د چوکی د لاسته راوړلو لپاره د بل سره خیانت کولای سی نو ددی توقع خو ولاکه در پکښی وینم چی ته دی سبا دي وطن ته خدمت وکی صرف به د خپل جیب لپاره کار کوی،

ساحل وروسته زهرا ته وکتل او ویویل: او ته زهرا تا خو زما سره مینه کول تا ولی زما سره داسی چم وکړ او دا ارمان څوک دی؟

زهرا موسکۍ سوه او ویویل: مینه او ستا سره؟ هاهاها زما ساتیری ته مینه وایی،

ساحل د زهرا په دی خبره ډیر حیران سو او بیا زهرا وویل: زه صرف په یو چا خپل ساتیري کوم او پاته سوه د ارمان خبره هغه دی هغه دی شاته ولاړ دی هغه به خپله درته ووایی،

ساحل چی کله شاته وکتل نو ارمان ولاړ وو ارمان راغلی د زهرا تر څنګ ودریدی او بیا یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د زهــرا راتلــونکی خاونــد یــم او ســتا کتــاب مــا پــه خپـل نامـه چـاپ کـړ تـر څـو مـا او زمـا خوسـر تـه ګټـه ورسیږی،

ســاحل موســکی ســو او ویویــل: یعنــی ټولــه کــور خاینــان او چمبازان یاست؟

ددې خبــری پــه اوریــدو ارمــان د ســاحل غــاړی تــه لاس ور واچــوه ســاحل هــم هغــه تــر کــالو ونیــوی او ســره جنــګ یــی ســو د زهــرا پــلار او زهــرا دوی ســره خلاصــول د زهــرا پــلار ارمــان تــه وویــل: ارمــان! ارمــان! رســنی او خلــک ګــوری زه بدنامــه کیــدای ســم راځه پریږده یی،

ارمــان هــم ســاحل پریښــوی او د مــوټر پــر طــرف د زهــرا او د هغــی د پــلار ســره روان ســو تــر خولــه یــی وینی هم روانی وی،

ســاحل پــه زهــرا پســی نــاره کــړه او ویویــل: زهــرا! زمــا شــعرونه چــی دی ددي بــی غیرتــه پــر نامــه کــړه پــروا نکــوی خــو چــی زمــا پــه مینــه دی پســخند او ملنــډی ووهلی نو پریږدم دی نه،

وروســته ارمــان زهــرا او پــلار یــی پــه مــوټر کــی کښینستل او ولاړل،

ســاحل پــه ورکشــاف کــی تــر کــار وروســته خپلــی کــوټی تــه ولاړی او ډیــر یــی وژړل څــه وخــت وروســته شــهاب راغلــی او ســاحل تــه پــه کتــو ډیــر حیــران ســو بیــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلی او ساحل یې په غیږ کې ونیوی او ورته یې وویل: ساحل! ساحل! دا څه کوې یاره ته ژاړې؟

ساحل په ژړا وویل: د کورنیه مې امید پرې سو امید مې زهرا وه خو هغې هم زما امیدونه د خاورو سره خاورې کړه،

شهاب وویل: ساحل! دا خود دنیا ژوند دی یاره لوړې او ژورې لري خو موږ باید خپل همت د لاسه ور نه کو که الله رابانــدي یوه لار وتړی لس نوری راته خلاصوی،

ساحل څه ناڅه ارام سو او بیا یې وویل: غوښتل مې چې سخت کارونه وکم او ځان یو ځای ته ورسوم او بیا د زهرا لاس د واده لپاره د هغې له پلاره وغواړم خو هغې مې ټول ارمانونه او امیدونه را خاورې کړه،

شهاب وویل: ساحل! موږ باید خپل قیمتي امیدونه په چا پوری ونه تړو که نه د خپلو امیدونو سره به یو ځای خاورې سو،

ساحل به هره ورځ په فکرو کې غرق وو کار ته به یې زړه هم نه کیدی شهاب به ساحل ته امیدونه ورکول خو ساحل به هغسې غمجن وو، یوه ورځ شهاب د ورکشاف مخته ناست وو چې ساحل راغلی او د شهاب مخته یې د کاغذ یو پاکټ کښیښوی شهاب حیران سو او ویویل: ساحل! دا څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــاحل وویـــــل: دا زمـــــا اســـــتعفا لیـــــک دی زه نـــــور دا وظیفه پرېږدم،

شـــهاب حیـــران ســـو او ورتـــه یـــی وویـــل: ولـــی څـــه خبـــره ده ایا یو چا څه درته وویل؟

ســاحل وویــل: نــه یــاره داســی خبــره نــه ده هیچــا هــیڅ نــه دی ویلی راته خو بس نور می زړه نه غواړی،

شـــهاب وویـــل: ســـاحل! کـــه دی دا وظیفـــه نـــه وی خوښـــه زه به بابا ته ووایم چی تاته بله وظیفه درکی،

ســاحل وویــل: نــه یــاره د خوښــی او ناخوښــی خبــره نــه ده خبــره دا ده چــی زه نــور نــه غــواړم پــه ښــار کــی پاتــه سم،

شهاب وویل: خو ولی خبره څه ده؟

ســاحل پــه ژړغــونی اواز وویــل: پــه دی ښــار کــی نــو زمـــا اوس څـــه پاتـــه ســـوه پـــلار د کـــوره ویســـتم مینـــی مـــی دوکـــه راکـــړه ایـــا پـــه داســـی ښـــار کـــی بـــه څـــوک ژونـــد وکولای سی؟

شهاب وویل: ولی یاره زه دی هیڅ نه یم؟

ســاحل وویــل: شــهاب! تــه زمــا هــر څــه یــی زه ســتا د ملګرتیـــا احســـانمند یـــم تـــا او بابـــا زمـــا ســـره ډیـــر کمـــک او همکـــاری وکـــړه مننـــه زه بـــه ستاســـو دا احســـان هیڅکلـــه نه کړم هیر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: ساحل! ته زمونږ مینی او ملګرتیا ته احسان وایی داسی حالت ته را ورسیدل ستا ملګرتیا؟

ساحل وویل: نه یاره داسی خبره نه ده ته زما تر سکه ورور هم زیات راباندی ګران یی ځکه ورونو تل ماته غم راکړیدی خو تا ماته خوشحالی او مینه راکړیده،

شهاب وویل: نو د مینی نتیجه دا سوه چی ته یی احسان بولی؟

شهاب د ساحل ښخه مخ واړوی او خوابدی سو، ساحل ور ولاړ سو او شهاب یی په غیږ کی ونیوی او ورته یی وویل: شهاب ته زما زړه یی بیله تا به زه نیمګړی یم ماته بخښنه وکه یاره،

شهاب وویل: په یوه شرط چی ته به ما یوازی نه پریږدی،

ساحل وویل: یاره زه به هیڅکله تا نه کړم هیر خو هیله کوم ما مه راګرځوه په داغه کی زما خیر او خوشحالی ده،

شهاب وویل: خو ته به ځی چیری؟ او د چا سره به اوسیږی؟ کوی به څه؟ خوری به څه؟.

ساحل وویل: نارنج کلاء ته ځم هلته به د څه وخت لپاره اوسیږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــهاب ډیــر حیــران ســو او بیــا یــی پــه درد ســره وویــل: ســاحله تــه لیــونی ســوی یــی کــه دی عصــابو کنټــرول د لاســـه ورکړیـــدی تـــه پـــوهیږی هغـــه کـــلاء ځـــومره خطرناکه ده هغه د پیریانو مرکز دی،

ســاحل موســکی ســو او بیــا یــی وویــل: شــهابه تــا هــم د خلکــو پــه جــوړو ســوو درواغــو بــاور وکــړی دا صــرف مازی اوازې دي هیڅ پیری میری نسته،

شـــهاب وویـــل: ســـاحله دا درواغ نـــه دی زمـــوږ د یـــو خپـــل زوی هلتـــه صـــرف د معلومـــاتو لپـــاره تللـــی وو چـــی پیریـــانو د نـــارنج کـــلاء د دریـــم منـــزل ځخـــه راغورځــولی وو خــدای خــو هغــه مــرګ ځخــه وســاتی خو لاسونه او پښی یی دواړه مات سول،

ســاحل وویــل: شــهابه ښــه او بــد د الله لــه طرفــه دی هغــه چـی ځــه پیښـوی هغــه نــه پــه بلــه کیــږی او بیــا زه دا پیــری میــری مــنم نــه پیــری نســته دا هســی داســتانی خبـــری دی چـــی پیـــری داســـی وکـــړه پیـــری هاســـی وکړه،

شــهاب وویــل: ســاحله صــحی دی چــی هــر ځــه د الله لــه طرفــه دی خــو د ځــان ســاتنه هــم فــرض ده او بــل پاتــه ســوه د پیــری موجــوده او نــه موجــوده الله جــل جلالــه پــه قرانکــریم کــی فرمــایلی دی { وَمَــا خَلَقْــتُ ٱلْجِــنَّ وَٱلْإِنــسَ إِلَّا لِيَعْبُــدُونِ } چــی وایــی: مــا پیریــان او انســانان لــه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتــه چـي زمــا بنــدګي وکــړي د بـل څــه کــار لپــاره نــدي پيدا کړي،

نـــو ددی ایـــت څخـــه معلـــومیږی چـــی پیریـــان موجـــود دی،

ســـاحل وویـــل: شـــهاب! زه مـــنم چـــی پیریـــان موجـــود دی خـــو هغـــه پـــه پخوانیـــو وختونـــو کـــی وه اوس انســـانان سره ډیر سول دوی د انسانانو څخه لیری ولاړل،

شـــهاب وویـــل: نـــو نـــارنج کـــلاء خـــو هـــم د انســـانانو څخـــه لیری په صحرا کی ده،

ســاحل وویــل: نــه یــاره هلتــه یــو وخــت زمــا د انــا او نیکــه کـــور وو اوس هـــم فکـــر کـــوم چـــی هلتـــه بـــه زمـــوږ خپلـــوان وی کلـــه کلـــه بـــه د هغـــو ســـره هـــم اوســـیږم کـــه دلتــه وم نــو هیڅکلــه بــه پــر ارامــه ژونــد ونــه کــم پــه داغــه کی زما خوشحالی ده،

شـــهاب وویـــل: ســـاحله زه خـــو درتـــه وایـــم چـــی هـــیڅ چیــری مــه ځــه همدلتــه زمــوږ ســره پاتــه ســه کــه دی کــار تــه زړه نــه کیــږی مــه یــی کــوه تاتــه هیڅــوک هــیڅ نــه ســی ویــلای نــور څــه خــو مــی پــه طاقــت کــی نــه دی تاتــه خـــو زمـــوږ حالـــت درمعلـــوم دی چـــی مـــوږ هـــم غریبـــه طبقه خلک یو،

ســـاحل وویـــل: نـــه یـــاره ستاســـو یـــی کـــور ودان زه مـــو ډیـــر احســـانمند یـــم خـــو زه نـــور پـــه ښـــار کـــی نســـم اوســـیدلای زه چـــی څـــومره مـــی د کورنیـــه او د زهـــرا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځــه لیــری یــم هغــومره بــه خوشــحاله یــم ســبا تــه زه روانیږم انشاءالله،

ســبا تــه وختــی ســاحل او شــهاب ویښ ســول ســاحل خپــل ســامانونه ســـره ټـــول کـــړل او د ورکشـــاف د ملګـــرو ښځــه یــی خــدای پــه آمــانی واخیســتی او د شــهاب ســره دبانــدی راووتـــی او بیـــا یـــی شـــهاب تـــه لاس ونیـــوی او ورتـــه یـــی وویـــل: نـــو یـــاره زه ځـــم ماتـــه یـــی اجـــازه راکړه؟

شهاب وویل: درځه ساحل زه دی تر تمځایه رسوم،

ســاحل وویــل: نــه یــاره تــه تکلیــف مکــوه زه خپلــه تــلای سم،

خـــو شـــهاب ســـر زوری کـــول چـــی زه دی تـــر تمځایـــه رســـوم، وروســـته شـــهاب او ســـاحل د تمځـــای پـــر طـــرف روان ســول تــر څــه مــزل وروســته تمځــای تــه ورســیدل او ســـاحل د شـــهاب ښځـــه خـــدای پـــه امـــانی واخیســـتی او پــه بــس کــی کښنیســتی کلــه چــی بــس روانیــدی نــو ســاحل یـــو وار خپـــل د ښـــار وخواتـــه وکتـــل تـــر ســـترګو یـــی اوښـــکې روان ســـوی او بیرتـــه خپـــل پـــر ځـــای کښینســـتی تــر څــه وخــت مــزل وروســته مــوټر ودریــدی او څــو د لاری مســـافرین بـــس تـــه ور وختـــل چـــی یـــو د هغـــو ښځـــه د ســـاحل تـــر څنـــګ کښینســـتی او د ســـاحل ســـره یـــی روغبــړ وکــړ وروســته هغــه نفــر ســاحل تــه وویــل: زمــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــــوم ســــــردار دی پـــــه ښـــــار کـــــی پوهنتـــــون وایـــــم او اوس خپل کلی ته روان یم،

ساحل وویل: زما نوم ساحل دی،

سردار وویل: تاسو چیری ځی،

ساحل وویل: نارنج کلاء ته ځم،

ســــردار ډیــــر حیــــران ســــو او بیــــا یــــی پــــه موســــکا ســــره وویل: ولی مرګ ته خو دی نیت نه دی؟

ســــاحل هــــم موســــکی ســــو او بیــــا یــــی وویــــل: ولــــی څــــه خبره ده؟

ســــردار وویــــل: ولــــی تــــه نــــه یــــی خبــــر چــــی پــــه هغــــه کــــلاء کی پیریان دي،

ساحل وویل: ایا تاسو خپله لیدلی دی؟

ســــردار وویــــل: نــــه مــــا خــــو خپلــــه نــــه دی لیــــدلی خــــو زمــــوږ د کلــــی خلــــک یــــی کیســــی کــــوی دا کــــلاء زمــــوږ د کلــــی څخه په یو لږه فاصله کی پرته ده،

ســــــاحل وویــــــل: دا هســــــی اوازې دي چــــــی پیــــــری دی و فلانکی دی هیڅ شی نسته،

ســــردار وویــــل: نــــو تاســــو بــــل ځــــای تــــه ولــــی نــــه ځــــی چــــی خاص دا کلاء ته ځی،

ســــاحل وویــــل: زه چــــی ډیــــر کــــوچنی وم مــــوږ بــــه چــــی کلــــه د انــــا کورتــــه راغلــــو نــــو دې کــــلاء تــــه بــــه ورتلــــو ډیــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیـــات ســـاعت بـــه مـــو پکښـــی تیریـــدی خـــو ژر بـــه یـــی بیرتـــــه ځنــــی را ویســــتلو د کوچنیـــوالی څخـــــه مـــــی دا ارمـــان وو چـــی غـــټ ســـم او پـــه دي کـــلاء کـــی ښـــه ډیـــر وخـــت تیـــر کـــم اوس غـــټ ســـوی یـــم او دا ارمـــان مـــی پوره کوم،،،

تــــر ډیــــر مــــزل وروســــته بــــس ودریــــدی او ســــاحل تــــری کښـــته ســـو کلـــه چـــی بـــس روان ســـو ســـاحل شـــاوخوا وکتــل هــر څــه بــدل ســوی وه لار نــه ور معلومیــدل تــر زیــات مــزل وروســته ســاحل یــو رود تــه ورســیدی د رود پـــه بغـــل کـــی روان وو چـــی مختـــه د انجونـــو خنـداوی یـی تـر غـوږ سـوی سـاحل هـم قـدم غـټ کـی او د هغــو پــر طــرف ور روان ســو مختــه چــی ولاړی نــو ویلیـدل چـی څـو انجـونی د رود پـه بغـل کـی ناسـتی وی مولونــه یــی وهلــې وه او یــو پــر بــل یــی اوبــه پاشــلی او خنــدل یــی ســاحل د هغــو پــر طــرف ور روان وو کلــه چـی هغـو تـه ورسـیدی نـو یـی هغـو تـه سـلام ووایـه، هغــوی ټــولې ډیــری حیرانــی ســوی او ژر د یــوی انجلــی چــی پــه تــور پــوړنۍ یــی مــول وهلــی وو د هغــی شـاته پـوټې سـوی، بیـا سـاحل هغـو تـه وویـل: وبخښـی زه د ښــار څخــه راغلــی یــم څــو کلونــه کیــږی چــی دا ځـای مـی نـه دی لیـدلی تاسـو راتـه ویـلای سـی چـی نارنج کلاء چیری ده،

تــور پــوړنۍ مــول ولا انجلــی پــه موســکا وویــل: څــه یــی په کوی ځوانه پیریان خو به نه شناخته کوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولې انجونې په خندا سوی او یو و بل یی په ځنګونو وهل، ساحل په موسکا ورته وویل: همداسی فکر وکه،

تور پوړنۍ مول ولا انجلۍ وویل: نو هغوی خو د انسان ذاته سره خپلوی نه کوی،

بیا ټولې انجونی په خندا سوی بیا ساحل وویل: نه زه غواړم هلته و اوسیږم تاسو یی ماته ادرس را ښولای سی،

ټولې انجونې حیرانی سوی او یو و بل ته یی په حیرانی سره وکتل بیا هغۍ تور پوړنۍ انجلۍ وویل: مخته ورسه هلته یو سپینږیری بوډا بزګر اخته دی هغه به یی در وښوی،،

ساحل تری مننه وکړه او بیا مخته روان سو تر څه مزل وروسته یی یو سپین ږیری ولیدی هغه ته ورنیږدی سو تر سلام وروسته یی ورته وویل: بابا نارنج کلاء ته کومه لار تللی ده؟

سپین ږیری ورته وویل: مخته ولاړ سه بیا راسته طرف ته وګرځیږی نارنج کلاء به ووینی،

ساحل د اوبو لوښی ته ورغلی او اوبه یی وڅیښلی او بیا یی هغه سپین ږیری ته وویل: بابا ایا دلته نیږدی کلی سته همدا رود ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین ږیری وویل: نه زویه نسته تر نارنج کلا چی لږ مخته ولاړ سی هلته څو کلي سته نور دی خواته د رود په خوا کی نسته،

ساحل وویل: نو هغه انجوني چی د رود بغلته هلته ناستی وی ایا هغه د هغو لیری کلیو څخه دلته راغلي دي؟

سپین ږیری وویل: کومي انجوني زویه؟

ساحل وویل: هلته د رود په بغل کی چی ناستې وی،

سپین ږیری وویل: نه زویه زه همدا اوس د هغی خوا نه راغلم ما خو کوم څوک نه ولیدل،

ساحل وویل: بابا هغو ته ماته راوښولی هغو ته لیدلی وی،

سپین ږیری وویل: نه پوهیږم زویه خو شاید زما فکر سوی نه وی ورته،

ساحل د سپین ږیری څخه اجازه واخیسته او د کلاء پر طرف روان سو تر څه مزل وروسته کلاء ته ورسیدی او د کلاء په لیدو ډیر خوشحاله سو کله چی د کلاء دورازی ته ورسیدی نو ویلیدل چی د کلاء دروازه په یو کوچنی ځنځیر تړل سوی وه او ډیری خاوری او دوړی پر پرتې وې ساحل د کلاء دروازه خلاصه کړه او ور ننوتی کله چی کلاء ته نیږدی سو نو هر خوا د جولاګیانو ځالې او دوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ساحل هغه سره وشکولی او کلاء ته ننوتی په کلاء کی شاوخوا کوترې سره والوتي شاوخوا ځایونه ټول په دوړو ککړ وه وروسته ساحل د کلاء دوهم منزل ته پورته سو او یوی کوټې ته ننوتی د کوټې دوړی یی سره لیری کړی او خپل سامان یی په کښی کښیښوی وروسته ساحل د کلاء بام ته پورته سو هلته هم د کوترو ځالې او دوړی زیاتی وی د کلاء پر بام لاندې څه لیری کلی ټول معلومیدی او د کلاء مخته تیره سوی لار هم ټوله معلومیدل،

ساحل د اوسیدو کوټه ټوله پاکه کړه او د ځان لپاره یی ښه تیاره کړه کله چی د صفاکاری څخه فارغه سو نو شپه وه او پر خپل کټ پریوتی او بیده سو،

سهار وخت سو د مرغانو شورماشور وو ساحل راکښینستی اودس او لمونځ یی وکړ وروسته د نوری کلاء په صفا کولو اخته سو ټوله کلاء یی څه ناڅه صفا کړه خپل د استوګنی ځایونه یی تیار کړل دوی ورځې تیری سو د کلاء په صفا کولو کی دریمه ورځ وروسته ساحل څه پر کراره سو څو ورځې تیری سوی ساحل به هره شپه تر ډوډی وروسته په خپل کوټه کی شعرونه لیکل او خپل غمونه به یی پکښی بیانول یوه شپه چی کله ساحل ډوډی وخوړل نو خپلی کوټې ته ولاړی او په شعرو لیکلو یی شروع وکړه یو څه وخت وروسته په کلاء

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــی د پانزیـــب د شــــرنګیدو ږغ ســـو کـــرار کـــرار ږغ زیاتیـــدی د ســـاحل ورتـــه فکـــر نـــه وو خـــو څـــه وخـــت وروســـته یـــی ورتـــه غـــوږ ونیـــوی خـــو د پانزیـــب ږغ ورک ســـو ســـاحل بیـــا پـــه شـــعر لیکلـــو اختـــه ســـو څـــه وخـــت وروســـته بیـــا د پانزیـــب شـــرنګهاری شـــروع ســـو او کـــرار کـــرار زیاتیـــدی ســـاحل بیـــا غـــوږ ونیـــوی او شـــاته یـــی وکتـــل خـــو د بیـــری احســـاس یـــی نکـــوی د پانزیـــب ږغ بیـــا ورک ســـو او ســـاحل هـــم پـــه خپـــل لیکنـــه اختـــه ســـو خـــو څـــه وخـــت وروســـته بیـــا د پـــانزیبو د شـــرنګیدو ږغ ســـو خـــو دا واری تـــر هغـــه نـــورو وارو تیـــز وو پـــه دی ســـره یـــو دم ســـاحل پـــه درد ولاړ ســـو او د کـــوټې دبانـــدی ووتـــی او پـــه کـــلاء کـــی یـــی شـــا وخـــوا وکتـــل خـــو هیڅـــوک یـــی ونـــه لیـــدل بیرتـــه خپـــل کـــوټې تـــه راغلی د کوټې دروازه یی وتړل او بیده سو.

شـــپه تیـــره ســـوه ســـهار وخـــت ســـو ســـاحل د خوبـــه را کښینســـتی لمـــونځ یـــی اداء کـــړ او وروســـته یـــی پـــه کـــلاء کـــی وکتـــل چـــی مابنـــام څـــه پیښـــه وه ایـــا کـــوم غـــل خـــو بـــه نـــه وو راغلـــی ټولـــه کـــلاء یـــی وکتـــل خـــو څـــه یـــی نـــه کـــړه پیـــدا چـــی د غـــل راتلـــو ثبـــوت دی وی بیـــا یـــی د کـــلاء دروازه وکتـــل هغـــه هـــم قلـــف وه بیـــا یـــی د کـــلاء دروازه خلاصـــه کـــړه او دبانـــدی ووتـــی کـــرار کـــرار یـــی قـــدم واهـــه چـــی رود تـــه ورســـیدی ســـاحل اوبـــو تـــه ورنیـــږدی ســـو او پـــه لاس کـــی یـــی اوبـــه را اخیســـتی او څیښـــلی یـــی څـــه وخـــت وروســـته چـــی کلـــه ســـاحل اوبـــه څیښـــلی نـــو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجونـو خنـدا یـی تـر غـوږ سـول سـاحل ددی پـه اوریـدو سـره غـوږ ونیـوی شـا وخـوا یـی وکتـل خـو څـوک یـی ونـه لیـدل وروسـته بیرتـه د کـلاء پـر طـرف روان سـو پـه کـلاء کـی یـی درختـی او ګـلان سـره سـم کـړل اوبـه یـی ورکـړی چـي بانـدی مابنـام سـو تـر ډوډی وروسـته ساحل یـو وار بیـا د شـعرو پـه لیکلـو اختـه سـو څـه وخـت وروسـته بیـا د پانزیـب شـرنګیدو ږغ سـو سـاحل پـه خپـل لیکنـه اختـه وو د پانزیـب ږغ یـی نـه واوریـدی څـه دقیقـې وروسـته بیـا د پانزیـب شـرنګهارې سـو ساحل لیکنـه پریښـوول او غـوږ یـی ونیـوی د پانزیـب شـرنګهارې کـرار زیاتیـدی سـاحل یـو دم د کـوټې څخـه دبانـدی ووتـی تـر څـو وګـوری چـی دبانـدي څـوک دی خـو کلـه چـی د کـوټې دبانـدی ووتـی شـاوخوا یـی وکتـل هیڅـوک یـی ونـه لیـدل هـر خـوا تـوره تیـاره وه سـاحل پـه کـلاء کـی تـر ګرځیـدو وروسـته بیرتـه خپـل کـوټې تـه راغلـی او دروازه یـی وتـړل کلـه چـی پـه لیکنـه اختـه سـو نـو بیـا د پـانزیبو شـرنګهاری سـو سـاحل یـو وار لیکنـه پریښـوول او غـوږ یـی ونیـوی خـو وروسـته یـی بیـا خپـل لیکنـی تـه دوام ورکـی د پـانزیبو شـرنګهاری بیـا شـروع سـو او داسـی معلومیـده لکـه څـوک چـی پـه کـلاء کـی د پـانزیبو سـره یـو ځـای ګرځـې تـر ډیـر وخـت وروسـته سـاحل پـه درد سـره قلـم پـر میـز کښیښـوی او پـه درد سـره یـی د کـوټې دروازه خلاصـه کـړه او پـه لـوړ اواز یـی وویـل: څـوک یـی بـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقلــه چــي د ښــځو پــه پــانزيبو کـــی شــاوخوا ګرځــی کــه نر یی نو مخامخ راسه،

د ســـاحل پـــه دي خبـــرو ســـره د پـــانزيبو شـــرنګهاری ورک ســـو وروســـته ســـاحل خپـــل کـــوټۍ تـــه راغلـــی او پخپلـــو شـــعرو ليکلـــو اختـــه ســـو ډيـــر وخـــت تيـــر ســـو خـــو بيـــا يـــی کـــوم څـــه نـــه واوريـــده ســـاحل ډيـــر وخـــت هلتـــه پـــر ميـــز پـــه ليکلـــو بوخـــت وو چـــی ســـترګی يـــی د خـــوب ډکـــي ســـوی او پـــر هغـــه ځـــای بيـــده ســـو، د ســـاحل د کـــوټۍ مختـــه داســـی معلوميـــده لکـــه د هغـــه و کـــوټۍ تـــه چـــــی څـــــوک را روان وی بيـــــا د ســـــاحل د کـــــوټۍ د دروازی بنـــد کښـــته ســـو خـــو دروازه قلـــف وه بيـــا د دروازي پـــه ســـوری کـــی وکتـــل ســـوه ســـاحل پـــر ميـــز بيـــده ســـوی وو او تـــر ســـترګو يـــی اوښـــکي بهيـــدلي وروســـته د دروازی بنـــد پريښـــوول ســـو او هغـــه بنـــد بيرتـــه خپـــل ځای ته پورته سو،

شـــپه تيـــره ســـوه ســـهار ســـو د ســـاحل خپـــل مـــور ډيـــره ياديـــدل نـــو يـــی هغـــی تـــه تليفـــون وکـــړ خـــو چـــا ورتـــه جـــواب نـــه ووايـــه ســـاحل بيـــا مورتـــه تليفـــون وکـــړ خـــو بيـــا چـــا ورتـــه جـــواب ورنـــه کـــړ ســـاحل پـــه دي ســـره ډيـــر غمګـــين ســـو تليفـــون يـــی کښيښـــوی او د کـــلاء د ســـر بـــام تـــه وختـــی او هلتـــه د بـــام پـــر ديوالـــه کښينســـتی او پـــه فکـــرو کـــی ډوب ســـو او تـــر ســـترګو يـــی اوښـــکي روانـــی وی فکـــر يـــی کـــاوه چـــی مـــور مـــی هـــم هـــيڅ پـــه فکـــر کـــی نـــه ده او زمـــا هـــيڅ انديښـــنه نـــه ده ور ســـره پـــه همـــدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکــرو کــی یــی تــر شــا داســی معلومــه ســوه چــی دده پــر طــرف یــو خــوک را روان دی کلــه چــی ده تــه نیــږدی کیــدی نــو ســاحل یــو دم ژر شــاته ورتــه وکتــل نــو ویلیــدل چــــی هغــــه د رود تــــور پــــوړنۍ مــــول ولا انجلــــۍ وه ســاحل اول زیــات وبیریــدی او بیــا ډیــر حیــران ســو او پــه وارخطــا لهجــه یــی ورتــه وویــل: تاســو! تاســو دلتــه څه کوی؟

تــور پــوړنۍ مــول ولا انجلــۍ ورتــه وویــل: وبخښــه زه ددی کــلاء مختــه تیریــدم نــو ومــی لیــدل چــی د کــلاء دروازه خلاصــه وه نــو ځکــه راغلــم چــی وګــورم چــي په کلاء کی څوک دی،

ســاحل د کــلاء دروازی تــه وکتــل چــی بنــده وه او بیــا یــی پــه حیرانتیــا ورتــه وویــل: د کــلاء دروازه خــو تړلــی ده نو څنګه تاسو راغلاست؟

تــور پــوړنۍ مــول ولا انجلــۍ ورتــه وویــل: نــه زه چــی تیریــدم دروازه خلاصــه وه شــاید بــاد یــا هــم کــوم غلــه خلاصه کړی وی،

ساحل وویل: شاید همداسی وی،

بیــا ســاحل پــه مســکا ســو او ویویــل: زه دی وبیــرولم مــا فکر کاوه چی د کلاء پیری دی،

تــور پــوړنۍ مــول ولا انجلــۍ پــه مســکا ســوه او بیــا یــی وویل: همداسی می وبوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل په مسکا وویل: نه نه ته خو پیری نسی کیدای ته خو زموږ پځیر انسان ذاته یی،

بیا ساحل ورته وویل: زما نوم ساحل دی د ښار ځخه راغلی یم،

تور پوړنۍ مولا ولا انجلۍ وویل: زما نوم زینت ده ددی کلاء وبخښه ددی کلی اوسیدونکۍ یم،

ساحل وویل: ستاسو سره په هغه ورځ هغه نورې انجونې څوک وې؟

زینت وویل: هغه زما ملګرې وې،

د کلاء دباندی دوه خلک روان وه چی ساحل ته یی خورا حیران حیران کتل ساحل هم د هغو خواته متوجی سو وروسته یی زینت ته وویل: دا ستاسو کلیوال خو به دلته ستا په راتلو بدګمان نکوی؟

زینت وویل: ایا تاسو بدګمان کوی؟

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: نه نه زه به ولی بدګمان کوم ما خو داغسی پوښتنه وکړه،

زینت وویل: خلک هغه ګمان کوی چی موږ یی کوو د انسانانو جوړښت همداسی دی،

بیا زینت وویل: وبخښه ښاغلی ساحل زه باید ولاړه سم د خدای په آمان،

ساحل د زینت سره خدای په آمانی وکی او زینت ولاړه، شپه سوه ساحل تر ډوډی وروسته خپل کوټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــــه ولاړی او پـــه لیکنـــه بوخـــت ســـو تـــر څـــه وخـــت وروســـته بیـــا د پـــانزیبو شـــرنګهارې ســـو ســـاحل د کـــوټې د دروازی خواتـــه وکتـــل د پـــانزیبو شـــرنګهاری لا هـــم شـــروع وو ســـاحل د درده میـــزه پـــه ســـوک ووهـــی او بیرتـــه خپـــل پـــه لیکنـــه اختـــه ســـو د پـــانزیبو شـــرنګهاری لا هـــم شـــروع وو تـــر څـــه وخـــت وروســـته کـــرار کـــرار یـــو نامعلومـــه بړنګهـــاری هـــو ورســـره شـــروع ســـو لکـــه یـــو څـــوک چـــی د ځانـــه ســـره غـــزل وایـــی، ســـاحل ددی پـــه اوریـــدو حیـــران ســـو او د دروازی پـــر طـــرف ور رهـــی ســـو لاســـی څـــراغ یـــی هـــم د ځـــان ســـره واخیســـتی کلـــه چـــی د کـــوټې دبانـــدی ووتـــی نـــو داســـی ورتـــه معلومـــه ســـوه چـــی پـــانزیبو ولا دبانـــدی وځـــی نـــو ســـاحل هـــم ژر د کـــلاء د دوهـــم منـــزل څخـــه راکښـــته ســـو او د پـــانزیبو پـــه شـــرنګهاری پســـی پســـی ســـو د کـــلاء تـــر ودانـــۍ ووتـــی داســـی ورتـــه معلومـــه ســـوه چـــی پـــانزیبو ولا د کـــلاء وشـــاته روان دی ســـاحل هـــم هغـــه طـــرف تـــه پســـی ور وځغســـتل خـــو د پـــانزیبو شـــرنګهاری هـــم داســـی ســـو لکـــه پـــانزیبو ولا چـــی ځغلـــی ســـاحل پـــر کـــلاء شـــاوخوا را وګرځیـــدی د پـــانزیبو شـــرنګهاری ورک ســـو خـــو څـــوک نـــه معلومیـــدل وروســـته ســـاحل د کـــلاء دروازه وکتـــل هغـــه هـــم قلـــف وه ســـاحل حیـــران ســـو چـــی دا څـــوک دی او د کومـــه راغـــی دروازه هـــم تړلـــی ده وروســـته خپلـــی کـــوټې تـــه ولاړی او بیـــده ســـو د کـــوټې دبانـــدی بیـــا داســـی معلومیـــده لکـــه یـــو څـــوک چـــی د کـــوټې د دروازی پـــر طـــرف را روان وی د دروازی پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوری کې یې وکتل ساحل بیده وو بیا پر شا ولاړی،

کله چې سهار سو ساحل د کلاء پر بام ناست وو چې اربوړمې یې کولی چې شاته یې یو دم زینت ور ږغ کړه او ویویل: څه خبره ده ساحل صاحب ماښام دی خوب نه دی کړی؟

ساحل د زینت په یو دم ور ږغ کولو سره ډیر وبیریدی زینت پخپل مول او حجاب کې ولاړه وه ساحل ورته وویل: اغلۍ زینت دا دې دوهم وار دی چې نابیره ږغ راباندی وکی او ما وبیروی،

زینت موسکۍ سوه او بیا یې وویل: وبخښه ښاغلی ساحل خو تاسو ولې دومره زیاتی اربوړمې باسی تاسو لکه چې د شپې ناوخته بیدیږی؟

ساحل وویل: هو یو څه ناوخته بیدیږم خو دا څو ورځې کیږی کله چې زه بیدیږم یو څوک کلاء ته دننه راسی او پانزیبونه راته شرنګوی چې دباندی پسې راووځم بیا نه وی تښتیدلی وی د کلاء دروازه هم چې کله زه بیدیږم قلف کوم یې نه پوهیږم د کومې لاری څخه راځی؟؟

زینت وویل: شاید تر دیوال را اوړی،

ساحل وویل: د کلاء خو دا دی دومره لوړ دیوالونه دی هغه خو څه مرغه نه دی چې په هوا تری را اوړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ساحل وویل: یو خبره وکړم اغلۍ زینت؟

زینت وویل: هو مهربانی،

ساحل وویل؛ ایا دا خلک چی وای دلته په دې کلاء کی پیریان دی ایا دا رشتیا ده؟

زینت یو څه وخت د ساحل سترګو ته کتل او بیا په خندا سوه او ډیر یی وخندل ساحل هم ور سره موسکی سو او بیا یی په خندا کی وویل: هاهاها پیریان؟

ساحل موسکی سو او ویویل: خیر ته دا پریږده ته راسه دلته کښینو،

ساحل او زینت دواړه د کلاء د بام پر دیوال سره کښینستل ساحل وویل: اغلۍ زینت دا ستاسو په کلی او باغو کی به مو کله وګرځوی په منظره؟

زینت موسکۍ سوه او بیا یی وویل: ته زموږ کلی ته نسی را سره تللای زموږ خلک تا نه پریږدی خپل کلی ته،

ساحل وویل: ولی زه پیری یم چی نه می پریږدی؟

زینت موسکی سوه او بیا یی وویل: هو،

ساحل زینت ته په درد وکتل او بیا زینت وویل: ښاغلی ساحل تاسو د ښاره ولی راغلاست په ښار کی خو ښه د ژوند اسانتیاوی برابری وی ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکتبونــــه وی ښــه پوهنتونونــــه وی دلتــــه خــــو هــــیڅ شــــی هم نسته،

ســــاحل وویــــل: چــــی ژونــــد دربانــــدی تنــــګ ســــی همــــدا د اســــانتیاوو ښــــار بــــه درتــــه زنــــدان ســــی زمــــا د مکتــــب او پوهنتون څخه بد کیږی کرکه ځنی کوم،

زینت وویل: خو مشکل څه دی؟

ساحل وویل: بس بد می ځنی کیږی،

زینــــت وویــــل: ســــاحل! مکتــــب او پوهنتــــون زمــــوږ راتلــــونکی جــــوړوی کــــه مــــوږ هغــــه ســــم ووایــــو زمــــوږ لپــــاره بــــه راتلــــونکی جنــــت وی خــــو کــــه یــــی خــــراب ووایــــو نــــو راتلــــونکی بــــه مــــو دوږخ وی تــــا ســــم کوښــــښ نــــه دی کــــړی پــــه درســــو کــــی نــــو ځکــــه داســــی وایــــی کــــه تــــا کوښــــښ کــــړی وای نــــو نــــن بــــه دی داســــی کرکــــه نــــه وای پــــه زړه کــــی،

ســــاحل وویــــل: نــــو کوښــــښ مــــی څنګــــه کــــړی وای ټــــول مــــاغزه مــــی اندیښــــنو او د پــــلار وهلــــو وخــــوړل خــــو کلــــه چــــی کامیــــاب ســــوم پــــه هغــــه ورځ یــــی د کــــوره وایســــتم مــــور تــــه چــــی تلیفــــون وکــــم رابانــــدی بنــــد یــــی کــــړی زه مــــی د مور او پلار څخه کرکه کوم،

زینــــت د ســــاحل پــــر لاس خپــــل لاس کښیښــــوی او بیــــا یــــی وویــــل: ســــاحل! ســــتا مــــور او پــــلار تــــه تــــه تــــر ټولــــو ګــــران یــــی هغــــوی تــــه ځکــــه د کــــوره و ایســــتلی چــــی تــــه ځــــان خپلــــه راپورتــــه کــــړی او خپلــــه ځــــان یــــو ځــــای تــــه ورســــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشــــکلاتو ســــره عــــادت ســــی مشــــکلات دی چــــی مــــوږ د کامیابیو په لور بیایی،

ســاحل وویــل: زینــت! تــه زمــا پــلار نــه پیژنــی هغــه ډیــر ظالم دی سم ادولف هټلر دی،

زینــت موســکی ســوه او بیــا یــی وویــل: ســاحل ایــا تــا پوهنتون ویلی دی؟

ســاحل وویــل: نــه زه پــه مکتــب کــی تــل ناکــام ناکــام وم نو پوهنتون به می څنګه ویلی وای،

زینــت وویــل: ســاحل! تــه پوهنتــون شــروع کــه زه پــه داډ سره درته وایم چی ته به تر ټولو لایقه محصل سی،

ســاحل وویــل: اغلــۍ! تمبــل راتــه ووایــه تمبــل همــدا کلمــه خو د کوچنیوالی اورم،

زینت وویل: ساحل شرط را سره تړی؟

ساحل وویل: د څه شی شرط؟

زینــت وویــل: دا چــی تــه بــه د پوهنتــون تــر ټولــو لایقــه محصل جوړیږی،

ساحل وویل: ناممکینه ده اغلۍ،

کلــه چــی ســاحل او زینــت خبــری ســره کــولی د کــلاء د مخــه خلــک ســره تیریــدل د ســاحل خواتــه یــی وکتــل ســاحل تــه یــی پــه لاس اشــاره وکــړه او ویخنــدل د ســاحل هغــو تــه پــام ســو او زینــت تــه یــی وویــل: دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولــی چــی هــر وار دلتــه تیریــږی مــوږ تــه حیــران حیــران ګوری نن خو یی وخندل هم لیونیان خو به نه وی؟

زینــت هغــو تــه پــه درد ســره وکتــل او بیــا یــی ســاحل تــه وویل: پریږده یی لیونیان به وی،

بیــا زینـــت ویـــل: ســـاحل! تـــه خـــو یـــی امتحـــان کـــه زه باوری یم چی ته به هتماً کامیابیږی،

ساحل وویل: خو که ناکام سوم؟

زینــت ویــل: بیــا چــی تــه هــر څــه وایــی زه یــی در ســره منم ووایه شرط دی قبول دی؟

ســاحل ویــل: او کــه مــا شــرط بــایلوی نــو تــه بــه څــه شــی راڅخه غواړی؟

زینــت ویــل: بیــا چــی زه هــر څــه وایــم تــه بــه یــی راســره منی،

ساحل وویل: سمده قبوله مه ده،

ســـاحل او زینـــت لاس ســـره ورکـــړ او شـــرط یـــی ســـره وتـــړی ســـاحل خپـــل تلیفـــون راوکښـــی او شـــهاب تـــه یـــی تلیفـــون وکـــړ او تـــر روغبـــړ وروســـته یـــی شـــهاب تـــه وویــل: شــهاب یــاره تــه راتــه ووایــه چــی پوهنتونونــه کلــه شروع کیږی؟

شهاب وویل: ولی څه یی کوی؟

ساحل وویل: شروع کوم یی یاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــهاب وويـــل: واه دا لمـــر د کـــومی خـــوا راوختـــی څنګـــه دی زړه ورته مایل سو؟

ســـاحل موســـکی ســـو او بیـــا یـــی وویـــل: د یـــو چـــا ســـره می شرط تړلی دی،

شهاب وویل: په پوهنتون دی شرط تړلی دی؟

ســـاحل وویـــل: هـــو هغـــه راتـــه وایـــی چـــی تـــه بـــه هتمـــاً تـــر ټولو اول کیږی خو زه یی نه ور سره منم،

شـــهاب وویـــل: ښـــه درتـــه وایـــی مـــا خـــو اول لا درتـــه وویـــل چـــی پوهنتـــون وروایـــه وروایـــه خـــو تـــا بـــه نـــه منـــل را ســـره د هغـــه یـــی کـــور ودان چـــی تـــه یـــی ورتـــه تشـــویق کړی یی،

ســـاحل وویـــل: شـــهاب یـــاره تـــه راتـــه وروایـــه چـــی پوهنتونونه څه وخت شروع کیږی؟

شـــهاب وویـــل: زه بـــه پوښـــتنه وکـــم بیـــا بـــه تلیفـــون درتـــه وکړم او درته وبه وایم،

ساحل وویل: سمده مننه،

زینـــت لا هـــم ســـاحل تـــه انتظـــار ولاړه وه بیـــا ســـاحل ورتـــه وویـــل: ملګـــری مـــی ویـــل چـــی زه بـــه پوښـــتنه وکـــم چـــی پوهنتونونـــه کلـــه شـــروع کیـــږی چـــی هغـــه حـــال راکی بیا به ورسم او شروع به یی کم،

زینـــت وویـــل: ســـمده ښـــه بخـــت درتـــه غـــواړم زه نـــو اوس باید ولاړه سم ډیر ناوخته دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: مننه کوم،

زینت وویل: د الله په امان،

ساحل وویل: الله دی مل سه پخیر ولاړه سی،

زینـــت ولاړه او ســـاحل پـــر بـــام پاتـــه ســـو ســـاحل شـــاوخوا کتـــل چـــی شـــاته یـــی ګـــین پـــروت وو ســـاحل هغـــه ګـــین راواخیســـتی او بـــازې یـــی پـــه شـــروع کـــړی او ګـــین یـــی د مځکـــی واهـــه څـــه وخـــت وروســـته ســـاحل ګـــین پـــه زور ســـره ګـــین ووهـــه او هغـــه پـــه هـــوا ســـو او د کـــلاء دبانـــدی وغورځیـــدی ســـاحل نـــاری کـــړی چـــی څـــوک ســـته؟ څـــوک ســـته؟ دا ګـــین راوغورځـــوی، خـــو څـــوک نـــه وه وروســـته ســـاحل خپلـــه د کـــلاء د بـــام څخـــه راکښـــته ســـو او غوښـــتل یـــی چـــی ګـــین راواخلـــی کلـــه چـــی د کـــلاء دروازی تـــه ورســـیدی د کـــلاء دروازه قلـــف وه ســـاحل کیلـــۍ د جیبـــه راوکښـــل او دروازه یـــی خلاصـــول چـــي پـــه دی وخـــت کـــی قلـــف پـــه لاس حیـــران پاتـــه ســـو یـــو څـــه وخـــت پـــه فکـــرو کـــی ډوب وو خـــو وروســـته یـــی قلـــف خـــلاص کـــړ ورغلـــی او ګـــین یـــی راواخیســـتی، ماښـــامی وو چـــی ســـاحل تـــه د تلیفـــون زنـــګ راغلـــی ســـاحل نمبـــر تـــه وکتـــل شـــهاب وو تـــر روغبـــړ وروســـته شـــهاب وویـــل: ســـــاحل! پوهنتـــــون تـــــه ورغلـــــی وم د شـــــروع کیـــــدو معلومات می وکړل،

ساحل وویل: ښه نو څه یی ویل؟

شهاب وویل: راتلونکی اوونۍ کی شروع کیږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: مننه یاره چې زما لپاره دی تکلیف وکړ؟

شهاب وویل: بې عقله د اندیوالانو په مینځ کې دا د مننې لغات خوند نه کوی،

ساحل وویل: بیا هم مننه یاره،

شهاب وویل: توبه خدایه!!!!!

شپه تیاره سوه هری خوا توره تیاره وه هغه دوه کسان چې د کلاء ومختته به تیریدل او خندل به یې د شپې دواړه د کور په مینځ کې بیده وه توسان یې پر ځان اچولی وه چې د دواړو څخه توسان کش سوه دوي د خوبه وه بیرته یې ځان ته راکش کړل خو څه وخت وروسته بیا ځنې کش کړل سوه دوي بیا ځانته راکش کړه د دواړو سر لڅ وو په دی وخت کې نامعلومه چا یو په چپلاخه ووهه هغه د خوبه کښینستی او خپل ملګری ته یې وکتل فکر یې وکړ چې دا دی وو نو یې ځکه هغه دوه دري چپلاخې ووهه هغه هم ولاړ سو او دواړه په جنګ سره اخته سوه لږ وروسته نامعلومه کس دواړه په چپلاخو ووهل چې په دی سره دواړه جام سول او بدنونه یې په ریږدیدو سوه او د کور پر طرف یې وځغستل او ناري یې کړی چې پیری دی پیری دی،

ساحل په خپل کوټه کې د لیکنې پر میز بیده سوی وو د کوټې دروازه یې هیره سوی وه چې قلف کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـــی وای لـــړ وروســـته بـــاد را والـــوتی او او کلکینـــان یـــی ســـــره ودربـــول پـــه دی ســـــر ســـــاحل هــــم د خوبـــه راکښینســـتی شـــاوخوا یـــی وکتـــل بیـــا یـــی کوټـــه او کلکینـــان وتـــړل او بیـــده ســـو تـــوس اچـــول یـــی پـــر ځـــان هیـــر ســـول کلـــه چـــی یـــی ســـترګې پـــوټی ســـوی پـــه دی وخـــت کـــی یـــی تـــوس خپلـــه پـــر بـــدن کـــش کـــړل ســـو خـــو ســـاحل بیـــده وو خبـــر نســـو، څـــه وخـــت وروســـته ســـهار ســـو ســـاحل د زینـــت لیـــاره د کـــلاء دروازه خـــلاص کـــړل او دی پـــر بـــام ورتـــه انتظـــار ســـو تـــر ډیـــره وختـــه پـــر بـــام وو چـــی غرمـــه رانـــوی ســـول خـــو د زینـــت درک لا نـــه وو معلـــوم ســـوی لمـــر تـــود ســـو ســـاحل غوښـــتل چـــی نـــور لانـــدی ولاړ ســـی چـــی پـــه دي وخـــت کـــی زینـــت پـــه زینـــو کـــی بـــام تـــه راختـــل هغـــی د نـــاوی پڅیـــر کـــالی اغوســـتی وه تـــــور مـــــول (نقـــــاب) یـــــی وهلـــــی وو بـــــادامي غټـــــې ســـترګې یـــی معلومیـــدلي ســـاحل د زینـــت ښایســـت جـــذب کـــړ او پـــه هغـــی کـــی یـــی خپلـــی ســـترګې ښـــخې کـــړی وی لـــړ وروســـته زینـــت د کـــلاء بـــام تـــه ورســـیدل خـــو ســـاحل د هغـــــی ښایســـــت دومـــــره جـــــذب کـــــړی وو چـــــی د هغـــــی څخـــه یـــی ګرســـره ســـترګې نـــه اوښـــتلی، زینـــت حیرانـــه ســـول چـــی ســـاحل ولـــی داســـی جـــام دیتـــه ګـــوری بیـــا یـــی د ســـــاحل ســـــترګو تـــــه لاس وښـــــوروی او ویویـــــل: ســـــاحل! ساحل؟

پـــــه دی ســـــره ســـــاحل یـــــو دم وغورځیـــــدی بیـــــا زینـــــت وویل: څه پیښه ده ولی داسی جام وی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل موسکی سو او ویویل: هیڅ خبره نه ده بس داغسی خو ته ولی دومره وځنډیدی زما اندیښنه وه چی هسی نه کوم مشکل کی یی د تلیفون نمبر دی هم نه وو را سره،

زینت وویل: د مور سره په کار اخته وم نو ځکه رابانددی ناوختــه وو زمــا د پوښتنی لپاره تلیفونه ته حاجت نسته صرف ما یاده که زه به درته راسم،

ساحل موسکی سو او ویویل: ولی ته پیری یی؟

زینت موسکې سوه او ویویل: همداسی فکر وکه،

ساحل وویل: ملګری می تلیفون راته کړی وو ویل یی چی راتلونکی اوونی کی پوهنتون شروع کیږی راتلونکی اوونۍ ته ځلور ورځې پاته دی زه به دری ورځې وروسته روان سم اِنْ شاءالله،

زینت وویل: کوښښ وکه چی ځان کامیاب کړی په کامیابی کی ستا خوښې پټه ده،

ساحل وویل: زینت! یو خبره درته وکم؟

زینت وویل: هو مهربانی،

ساحل وویل: زینت! زه د ژونده ډیر ستومان وم البته زما ځخه خوښی او مسکاء هیره وه خو دا څو ورځې چی می ستا سره لیدلی دی زه داسی فکر کوم چی ما غم هیڅ لیدلی نه دی داسی خوشحاله یم چی د اندیښنې فکر لا نکوم دا ټول ستا له برکته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینــت وویــل: کــه غــواړی چــی خوشــحالی دی نــوره هــم ډیــره ســی او زه همداســی دلتــه راځــم نــو تــه بــه دی پوهنتــون پــه پــوره زیــار ســره وایــی کــه نــه نــو نــه بــه بیــا خوشحالی ووینی او نه هم ما،

ســاحل وویــل: ســمده زه کوښــښ کــوم خــو زینــت زمــا حافظــه ډیــره کمــزوری ده شــیان مــی هــیڅ یــاد کــی نــه پاتیږی،

زینت وویل: ته خو کوښښ وکه،

ســاحل وویــل: ســمده خــو دا څلــور کاله بــه زه دلتــه نــه راځم او ستا سره به څنګه وینم؟

زینــت وویــل: پــه ښــار کــی زمــوږ د ډیــرو خپلوانــو کورونــه دی کلــه بــه زه درځــم او کلــه چــی ســتا پوهنتون رخصتیدی بیا به ته دلته راځی،

ساحل وویل: سمده،

ســاحل ښــار تــه د تلــو امــاده ګــی نیــول ســبا تــه روانیــدی پــه ماښــام کــی یــی پخپــل خونــه کــی بســتی تــه شــیان اچــول چــی دبانــدی د یــو چــا د قــدمو ږغ ســو ســاحل غــوږ ونیــوی پــه دی ســره د قــدمو ږغ هــم ورک ســو کلــه چــی ســاحل بیــا پخپــل کــار اختــه ســو بیــا د قــدمو ږغ ســو پــه دی ســره یــو دم ســاحل د دروازې پــر خــوا وځغســتل او دبانــدی ووتــی کلــه چــی یــی دبانــدی وکتــل هیڅــوک نــه وو خــو د کـــلاء دننــه دروازه خلاصــه ســوی وه ســاحل د خپــل کــوټی څخــه لانــدی کښــته ســو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د کـــلاء دننـــه دروازه یـــی وتـــړل او بیرتـــه خپـــل کـــوټې تـــه ننـــوتی کلـــه چـــی ســـاحل ننـــوتی پـــه دی ســـره ســـم د کـــلاء دننـــه دروازه بیـــا خلاصـــه ســـوه او د پـــانزیبو ولا قدمونــه بیــا کــلاء تــه ننوتــل، ســاحل خپــل شــیان ســره ټــول کـړل او وروســته خپـل کـټ تـه پورتــه ســو او بیــده ســو کلـه چـی پـه خـوب کـی غـرق سـو نـو یـو چـا د سـاحل د کـــوټې دروازه هـــم خلاصـــه کـــړه او دننـــه کـــوټې تـــه ننــوتی د ســاحل کــټ تــه نیــږدی ســو او د ســاحل پــر ســر یـــی لاس ونیـــوی او د ســـاحل پـــر ســـر یـــی ریـــګ تـــوي کـړل بیـا یـی پـر سـاحل تـوس کـش کـړ او بیرتـه د کـوټې څخـــه ووتـــی او دروازه د دننـــه طـــرف څخـــه بیرتـــه وتــړل ســوه څــو ســاعته وروســته ســهار ســو کلــه چــی ســاحل د خوبــه راکښینســتی نــو پــر ســر یــی لاس ونیــوی سر یی څه ناڅه درد کوی،

ســاحل د ســهار تــر ناشــتی وروســته خپــل بســته د کــوټې څخــه کــلاء تــه را وایســتل چــي پــه دی وخــت کــی زینــت هــم راغلــه ســاحل تــه یــی ســلام وروایــه د زینــت پــه لاس کـــی یـــو د خـــواړو لوښـــی هـــم وو وروســـته یـــی ســـاحل تـــه وویل: ښه نو ساحل ته نور ځی؟

ســـاحل د غـــم ســـاه و ایســـتل او ویویـــل: هـــو نـــو بـــس ده نـــور تـــه مـــی دلتـــه نـــه پریـــږدی چـــی پاتـــه ســـم نـــو زه هـــم ځم،

زینـــت هـــم د غـــم ســـاه واخیســـتل او بیـــا یـــی ســـاحل تـــه وویـــل: ســـاحل زړه خـــو مـــی نـــه غـــواړی چـــی تـــه ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـی خـو بیـا هـم مجبوریـت دی تـه بایـد خپـل راتلـونکی خپله جوړ کړی،

سـاحل وویـل: بـس بـس دا خـوږو خـوږو خبـرو مـی مـه خطاباسـه راکـه پـه دا لاس کـی دی څـه شـی راتـه راوړیدی؟

زینـت هغـه لوښـی سـاحل تـه ورکـی او پـه موسـکا یـی وویـل: دا مـی سـهار د وختـه سـتا لپـاره یـو لـږ انـدازه خواږه تیار کړل،

سـاحل غوښـتل چـی د هغـه لوښـی سـر خـلاص کـی او خونـد یـی وګـوری خـو زینـت یـو دم پـری ږغ کـړ او ویویـل: سـاحل! هیلـه کـوم چـی ښـار تـه ورسـیدی بیـا یـی وخوره اوس نه،

سـاحل حیـران سـو او بیرتـه یـی د لوښـی سـر ور وتړی او ویویل: سمده،

وروسـته سـاحل خپـل بسـته واخیسـتل او روانیـدی د تلـو پـه وخـت کـی یـی پـه زړه کـی راغلـل چـی کـاش یـو ځـل مـی د زینـت مـخ لیـدلی وای نـو یـی تـر شـا زینـت تـه وکتـل او غوښـتل یـی چـی ورتـه ووایـی خـو زینـت یـی خبـره پـری کـړه او ورتـه یـی وویـل: سـاحل! زه پـوهیږم چـی تـه څـه فکـر کـوی او څـه وایـی خـو هیلـه کوم ددی خواهیش څخه دی واوړه،

سـاحل حیـران سـو او بیـا یـی پـه موسـکا وویـل: مـا څـه ویل غوښتل زینت؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینت وویل: داغه چې تا باید زما ښیهره لیدلی وای،

ساحل حیران سو او بیا موسکی سو بیا یی وویل: ښه ته زما د زړه په خبره څنګه پوه سوی؟

زینت وویل: ستا د رنګه څخه راته معلومه سوه،

ساحل وویل: زینت! تاته خو دا معلومه سوه چې ما هم دا ویل غوښتل خو دا نسوه درته معلومه چې ما ولی غوښتل تا ووینم،

زینت وویل: ښه ووایه ولی دی غوښتل چې ما ووینی؟

ساحل وویل: زینت! په ژوند باور نسته داسی نه چې بیا زه تا ونه وینم،

زینت وویل: ساحل! په هغه ورځ به زه ستا بیی غوښتنی خپل ښیهره در ښکاره کم په کمه ورځ چې ته په پوهنتون کی لومړی مقام لاسته راوړی ځکه زه به وپوهیږم چې ته زما لپاره دا کولای سی او که نه،

ساحل وویل: خو زینت داسی نه چې ستا د لیدلو مخکی مړ سم،

د ساحل په دي ویلو سره زینت ژر د هغه پر خوله لاس ونیوی او بیا یی وویل: نه الله دی نکوی،

ساحل د زینت او زینت د ساحل په سترګو کی سترګی ښخي کړی وی چې لبز وروسته یو دم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل ستړګو درد شروع کړ او ژر یې پر سترګو لاس ونیوی، زینت وویل: څه پیښه سول ساحل ایا ته ښه یې؟

ساحل وویل: هو هو زه ښه یم بس سترګو مې یو څه درد وکړ،

زینت وویل: ایا اوس سم سوی؟

ساحل وویل: هو سم سوم د تشویش وړ خبره نه ده،

وروسته ساحل خپل بسته او شیان واخیستل او روان سو زینت د کلاء تر دروازې ور سره وه کله چې ساحل د کلاء څخه وتی نو یې زینت ته وویل: زینت! ته اوس کومې خواته ځې ایا کور ته ځې؟

زینت موسکې سوه او بیا یې وویل: زموږ کور خو داغه دی،

ساحل هم موسکی سو او بیا یې د زینت څخه خدای په آماني واخیستي او روان سو کله چې څه مخته ولاړی او د کلاء څخه لیری سو نو هغه دوه نفران په مخ ورغلل چې د کلاء مخته به تیریدل او خندل به یې هغوی د ساحل په لیدو ډیر وارخطاء سول او بیا د ساحل پښو ته ټیټ سول او د ساحل پښې یې ونیولې او ورته یې وویل چې موږ وبخښه موږ وبخښه بیا به داسې نکوو،

ساحل حیران وو چې دا څه وایي وروسته یې فکر وکړ چې دا لیونیان دي نو یې په موسکا ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویـل: ورځـي ورځـي مـا بخښـلی یاسـت خـو بیـا داسـی مکوې،

هغوی وویل: سمده بیا مو توبه ده،

سـاحل چـی د هغـو څخـه روان سـو نـو د ځـان سـره یـی وخندل چی دا خو لیونیان وه،

سـاحل چـی کلـه بـس تـه وختـی او د ښـار پـر طـرف روان سـو پـه لار کـی سـاحل د زینـت پـه فکـرو کـی سـر د بـس پـر کلکـین اچـولی وو او دبانـدی یـی کتـل چـی ناپامـه یـی د یـوی غونـډۍ پـر سـر زینـت ولیـدل چـی ده تـه یـی کتـل سـاحل فکـر وکـړ چـی زمـا د سترګو دیـد بـه کنـزوزی سـوی یـی نـه یـی ژر سـترګې وموښـلی او بیـا یـی هغـې غونـډۍ تـه وکتـل خـو هلتـه هـیڅ شـی هـم نـه وه سـاحل د ځـان سـره موسـکی سـو فکـر یـی وکـړ چـی پـر زینـت عاشـق سـوی دی، څـه وخـت وروسـته ښـار تـه را ورسـیدی د بـس پـه تـم ځـای کـی شـهاب ورتـه انتظـار وو کلـه چـی سـاحل د بـس څخـه کښـته سـو نـو شـهاب ولیـدی او دواړو ټینـګ پـه غیـږ کـی سـره ونیـول وروسـته دواړه د شـهاب ورکشـاف تـه ولاړل هلتـه یـی بانـډار سـره شـروع کـړ وروسـته سـاحل وویـل: شـهاب! پوهنتـون څـه وخـت شروع کیږی؟

شهاب وویل: سبا ته ان شاءالله شروع کیږی،

ساحل وویل: ولا یاره ډیر ورته واخطاء یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: هیڅ فکر مه خرابوه توکل پر الله که هر څه به الله خیر کی خو ساحل ته دا راته ووایه چی پوهنتون ته دی ځنګه تلوسه سوه؟؟

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: یو چا ورته تشویق کړم او مجبوره یی هم کړم چی باید ویوایم،

شهاب وویل: اررر څوک ده په کلی کی خو به عاشق سوی نه یی؟

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: یا داسی خبره نه ده یاره،

شهاب وویل: ته راته کیسه وکه چی څه خبره ده یاره؟

ساحل وویل: بیا پر کراره درته وایم اوس نه او اوس به دا خواړه وخورو دا د هغه کس د لاس دی،

ساحل چی کله د خواړو د لوښی سرپوښ ور خلاص کړ نو ویلیدل چی شیر برنج وو نو شهاب په ګوته سره د هغه څخه لږ څه وخوړل کله چی شهاب هغه وخوړل نو یی سترګی غټی کړی ساحل حیران سو او ویویل: څه خبره ده؟

شهاب بیا ګوته لوښی ته ور دننه کړه او بیا یی لږ څه ځنی را واخیستل او ویخوړل خو بیا یی سترګې غټی ونیولی ساحل حیران سو چی څه پیښه ده نو یی خپل ګوته هم ور دننه کړه او لږ څه یی ځنی وخوړل ساحل هم حیران پاته سو وروسته شهاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل د لاسه هغه د شیر برنجو لوښی حمله کړ او ویویل: دا زما دی دا زه خورم،

ساحل هم پر لوښی ور سره حملې کړی تر ډیره وخته یی سره حملې وی چې په دی وخت کی د شهاب پلار راغلی ساحل او شهاب دواړه ودریدل د شیر برنجو لوښی د شهاب په لاس کی ورغلی، د شهاب پلار د شهاب پر طرف ورغلی او د شیر برنجو سرپوښ یی ور خلاص کړ او یو لږ څه یی په ګوته ځنی وخوړی کله چې یی خوند وکتی نو یی د شیر برنجو لوښی د شهاب د لاسه واخیستی او مخ د خپل دفتر پر خوا یی وځغستل ساحل د شا ورپسی ناره کړه: کاکا کاکا موږ ته هم یو څه راکه،

شهاب هم وویل: بابا بابا یوازی یی مه خوره موږ ته هم یو څه راکه،

کله چې د شهاب پلار د شیر برنجو څخه خپل اندازه وخوړی نو یی لوښی بیرته ساحل ته ورکړ هغه پاتی ساحل او شهاب وخوړی بیا د شهاب پلار ساحل ته وویل: زویه ایا دا تا پوخ کړی وو؟

ساحل وویل: نه کاکا د کلی څخه چې راتلم زما یو ملګری راکړ،

د شهاب پلار وویل: زویه باور می نه کیږی چې دا دي انسان پوخ کړی وی هتماً کوم پیری پوخ کړی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل موسکی سو او ویویل: نه کاکا هغه دا زموږ او ستاسو پخیر انسان دی،

د شهاب پلار وویل: افرین دی سی باندي ډیر ښایسته شیر برنج یی پوخ کړی وو بل وار چی کلی ته تللی نو هتماً به زما لپاره یو څه نور شیر برنج ځنی راوړی،

ساحل وویل: سمده کاکا ولی نه،

سبا ته ساحل د وخته د خوبه کښینستی او د شهاب سره پوهنتون ته روان سو کله چي پوهنتون ته رسیدی نو ساحل یو دوکان ته ورغلی شهاب ورته وویل: ساحل! څه کوی؟

ساحل وویل: یو څه نخود رانیسم،

شهاب وویل: نو په پوهنتون کی یی خوری خو چی د پوهنتون څخه راووتی بیا به یی رانیسی،

ساحل وویل: یا یاره زما اوس اشتهاء ورته وسوه،

شهاب وویل: نو سمده ته نخود رانیسه زه ځم صنف ته می او ته ولاړ سه خپل صنف ته دی،

ساحل وویل: نو ته زما څخه جلا یی؟

شهاب وویل: هو یاره زه په دویم سمیستر کی یم ته دی د اول سمیستر صنف ته ولاړ سه،

وروسته شهاب ولاړی او صنف ته ننوتی ساحل نخود رانیول پوهنتون ته ننوتی ټول محصلین

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنفونو ته ننوتلی وه ساحل په پوهنتون کی په لومړی صنف پسی ګرځیدی چی وروسته یی پیدا کړ ساحل پټ صنف ته وکتل ټول محصلین ناست وه خو استاذ نه وو، ساحل فکر وکړ چی راسه محصلین خطاباسه او یو شوخی وکه نو یی ځان سره سم کړ او د استاذ پځیر صنف ته ننوتی ټول شاګردان ورته ولاړ سول، ساحل په خندا سو او ویویل: زه محصل یم،

لږ وروسته استاذ راغلی خو یو هم نسو ولاړ ځکه دوی بیا فکر کاوه چی محصل دی، وروسته درس شروع سو استاذ وویل: محصلینو کله چي د لومړی ځل لپاره په کال ۱۹۶۰ کی د بخار ماشین جوړ سو نو ددې سره سم موټر هم اختراع سو وروسته کښتې او بیا اورګاډی اختراع سول د کښتیو په اختراع سره نړیوالو ډیر کشفیات وکړل چي هغه وخت هم کښتی د بخار پواسیطه سره چلیدل،

د استاذ خبرې لا نه وی خلاصی چی ساحل د پوښتنی کولو لپاره لاس پورته کړ خو استاذ ورته کوم اهمیت ورنه کړ او خپلو خبرو ته یی جریان ورکړ خو ساحل بیا لاس پورته کړ استاذ ورته وویل: د درس په مینځ کی څوک پوښتنه نه کوی،

ساحل وویل: خو استاذه بیا می هیریږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سره په صنف کې ټول محصلین په خندا سول استاذ دردمن سو او ویویل: لاس کښته که بې ادبه،

ساحل وویل: اسانه پوښتنه ده استاذه مه وارخطا کیږه،

محصلین ټول په خندا وه استاذ ساحل ته وویل: ته مهرباني وکه زما د صنف څخه ووځه !

ساحل وویل: څه شی مې وکړل خو صرف مې یو پوښتنه کول تاته درد ولی درغلی،

په دې سره بیا ټول محصلین په خندا سول استاذ نور هم قهرجن سو او ساحل ته یې وویل: ووځه زما د صنفه !

ساحل وویل: خو ولې؟

استاذ وویل: بس ووځه!

ساحل هم ولاړ سو او د صنف څخه ووتې او دباندې په ساعتیرې بوخت سو لږ وروسته تفریح سوه ټول محصلین دباندې راووتل شهاب ولیدل چې ساحل د ټولو دمخه د صنف څخه راوتلې دی نو یې ورته وویل: ساحل ولې دومره وختي د صنف څخه راوتلی یې؟

ساحل وویل: استاذ د صنف څخه ویستلم،

شهاب وویل: خو ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: استاذ درس وایه ماته یو پوښتنه پیدا سوه چې کله مې لاس پورته کړ ویل لاس دی کښته که ما ویل پوښتنه لرم وای بیا یې وروسته وکه ما ویل بیا مې هیریږی بس دا مې وویل استاذ ویل ووځه د صنفه زه هم راووتم،

شهاب وویل: هتماً تا یو څه زیات ویلي دي چې استاذ د صنف ویستلی،

دوهمه ورځ بیا د ساحل د هغه استاذ سره جنجال سو او استاذ بیا تر صنف ویستی کله چې شهاب بیا ساحل دباندی ولیدی نو یې ورته وویل: ساحل ته دلته د څه شي لپاره راغلی یی؟

ساحل وویل: د پوهنتون لپاره،

شهاب وویل: ولی راغلی یی،

ساحل وویل: د یو چا سره مې شرط تړلی دی هغه مجبوره کړی یم،

شهاب وویل: ساحل زه تا له کوچنیوالی پیژنم چې ته صادقه انسان یې خو که هغه چې تا شرط ور سره تړلی دی او ستا څخه یې دا هیله کړیده چې ته به پوهنتون وایې که هغه تا داسې ووینې نو ته فکر وکه چې څومره زیات به درڅخه خوابدی او خفه سی ایا دا ته زغملای سی؟

ساحل وویل: نه یاره هغه پر ما زیاته ګرانه ده او زه یی زیات قدر کوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب موسکی سو او ویویل: ښه بیا د مینی کیسه ده؟

ساحل هم موسکی سو او ویویل: هو یاره زه بیا مین سوی یم،

شهاب موسکی سو او بیا یی وویل: ساحل ته باید خپلی مینی ته دوکه ور نه کړی او داسی چی هره ورځ ته د صنف ښخه راوځی دا د هغی سره دوکه ده،

ساحل هم ځان متوجی سو او د ځان سره یی وویل چی نور به په صنف کی بی ځایه خبری نکوی،

شپه سوه ساحل خپل اطاق ته ولاړی تر ډوډی خوړولو وروسته بیده سو شپه نیمایی سوه داسی معلومیده چی د ساحل د اطاق خواته یو څوک روان دی کله چی اطاق ته ورسیدی نو د اطاق دروازه یو دم خلاصه سوه زوړ او غالمغال یی جوړ کړ ساحل هم د خوبه راکښینستی او دروازې ته یی وکتل ویلیدل چی باد دروازه شرنګول ساحل ولاړ سو او دروازه یی وتړل او بیرته پر خپل کټ بیده سو خو چی سترګې یی بندې سوی بیا دروازه خلاصه سول ساحل یو دم او په بیره د خوبه راکښینستی او شاو خوا یی وکتل څوک نه وه باد دروازه شرنګول وروسته ساحل د خوبه کښینستی او بیا نسو بیده سهار وختی پوهنتون ته روان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلــه چــی صــنف کــی کښینســتی نــو خــوب ډیــر ځنګــوی یــو ســاعت یــی درس تــه غــوږ نیــولی وو خــو کلــه چــی د ریاضــی ســاعت ســو لــږ وخــت یــی ریاضــی تــه غــوږ وو خــو وروســته یــی پــر میــز ســر کښیښــوی او بیــده ســو څــه وخــت وروســته پــه صــنف کــی غالمغــال ســو ســاحل چــی کلــه ســر راپورتــه کــړ نــو ویلیــدل چــی رخصــتی ســوی وه او ټــول محصــلین وتــل ســاحل هــم خپــل کتابونــه ســره ټــول کــړل او غوښــتل یــی چــی د صــنف څخــه ووځــی چــي پــر تختــه یــی دري د ریاضــی ســوالونه ولیــدل ســاحل فکــر وکــړ چــی اســتاذ محصــلینو تــه کــورنۍ دنــده ورکړیــده نــو یــی د بســتې څخــه کتابچــه را وایســتل او هغــه ســوالونه یــی ولیکــل کلــه چــی خپــل اطــاق تــه ولاړی نــو یــی کتابچــه د بســتې نــه را وایســتل او د ســوالو پــه حلولــو لګیــاء ســو ســاحل ډیــر کوښــښ وکــړ چــی هغــه ســوالونه حــل کــړی خــو حــل کــولای یــی نســوای ســاعتونه ســاعتونه یــی بانــدی تیــر کــړل خــو ســوالونه یــی نســوای حــل کــولای چــي بانــدی شــپه ســول او ســاحل د لیکنــی پــر میــز ســر پــر کتابچــه ایښــی وو او بیــده ســوی وو څــه وخــت وروســته چــی کلــه شــپه نیمــایی ســوی وه د ســاحل پــه اطــاق کــی د پــانزیبو شــرنګهاری ســو لــږ وخــت وروســته ســاحل راکښینســتی او شــاوخوا یــی وکتــل خــو څــوک نــه وه بیــا یــی د اطــاق دبانــدی وکتــل خــو هلتــه هــم څــوک نــه وه وروســته خپــل کــاری میــز تــه راغلــی او بیــا پــه ســوالو حلولــو اختــه ســو خــو ددې واری یــی ســوالونو تــه جوابونــه ولیکــل خــو ســاحل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطمـــــئن نــــه وو چــــی صــــحی دی وی، څـــه وخـــت وروســـته ســـهار ســـو ســـاحل تـــر ســـهار ناشـــتی وروســـته د پوهنتـــون بســـته واخيســـتل او د پوهنتـــون پـــر خـــوا رهـــی ســـو لـــومړی درســـی ســـاعت د رياضـــۍ وو کلـــه چـــی استـاذ صـنف تـه داخـل سـو ټـول محصـلين يـی درنـاوی تـــه ولاړ ســـول لـــږ وروســـته ســـاحل د ځايـــه ولاړ ســـو کتابچـــه يـــی د ځـــان ســـره واخيســـتل او اســـتاذ تـــه ورغلـــی ساحل استاذ ته وويل: استاذه! کورنۍ دنده ګوری؟

استاذ وويل: کومه کورنۍ دنده؟

ســـاحل اســـتاذ تـــه کتابچـــه ورکـــړه او ورتـــه يـــی وويـــل: هغه تيره ورځ چی تا پر تخته ليکلی وه،

اســتاذ چــی کلــه د ســاحل ســوالونه ولیــدل نــو ډيــر حيــران ســو او حيــران حيــران يــی ســاحل تــه کتــل او بيــا يــی ساحل ته وويل: ايا دا تا حل کړل؟

ساحل وويل: هو استاذه ايا صحی دی؟

اســـتاذ نـــور هـــم حيـــران ســـو او ســـاحل تـــه يـــی وويـــل: تـــه لږ صبر زه بيرته راځم،

اســـتاذ د صـــنف څخـــه ووتـــی او د ســـاحل کتابچـــه يـــی هـــم د ځـــــان ســـــره واخيســـــتل ټولـــــو محصـــــلينو ســـــاحل تـــــه حيـــران کتـــل او بيـــا يـــوه محصـــل وويـــل: څـــه خبـــره ده ساحل خيريت وو؟

ســـاحل وويـــل: نـــه پـــوهيږم اســـتاذ زمـــا ســـوالونه وکتـــل او بيا يی وويل چی ته صبر زه بيرته راځم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــړ وروســـته د ســـاحل اســـتاذ د پوهنتـــون ریـــس او څـــو د پوهنتـــون نـــور لـــوړ رتبـــه اســـتاذان او د پوهنتـــون شـــاګردان صـــنف تـــه راغلـــل ســـاحل ډیـــر وارخطـــاء ســـو چـــي څـــه پیښـــه ده، وروســـته د پوهنتـــون ریـــس چـــی د ســـاحل کتابچـــه یـــی پـــه لاس کـــی وه و ســـاحل تـــه رامختـــه ســـو او ســـاحل تـــه یـــی وویـــل: ایـــا دا ســـوالونه تـــا حـــل کړیدی؟

ســـاحل چـــی وارخطـــاء وو وویـــل: هـــو ریـــس صـــاحب مـــا حـــل کړیـــدی تیـــره ورځ چـــی زه پـــه صـــنف کـــی د زیـــاتي بـــدخابۍ لـــه وجـــی بیـــده ســـوی وم چـــی کلـــه راکښینســـتم صـــنف رخصـــتیدی اســـتاذ پـــر تختـــه کـــورنۍ دنـــده راکـــړی وه نو دا ده ما حل کړه،

د ریاضـــی اســـتاذ وویـــل: ســـاحله! هغـــه کـــورنۍ دنـــده نـــه وه بلکـــی پـــه ریاضـــۍ کـــی د نـــړی هغـــه ســـوالونه وه چـــی هیچـــا تـــر اوســـه نـــه وه حـــل کـــړی او هیچـــا یـــی معقـــول جـــواب نـــه وو پیـــدا کـــړی خـــو تـــا هغـــه دري ســـوالونه حـــل کړیـــدی او معقـــول او صـــحي جوابونـــه دی ورتـــه لیکلـــی دی دا دی څنګه وکړه؟

ســـاحل هـــم حیـــران وو او بیـــا یـــی وویـــل: ټولـــه شـــپه مـــی ورتـــه تیـــره کـــړه چـــی حـــل یـــی کـــړم خـــو بیـــا بیـــده ســـوی وم چی راکښینستم نو می داغه جوابونه ورته ولیکل،

د پوهنتـــون ریـــس ســـاحل تـــه وویـــل: ســـاحله تـــه پـــوهیږی چـــی پـــه دی ســـره بـــه ســـتا پـــه ســـبب زمـــوږ پوهنتـــون ډیـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختــــګ وکـــړی او ډيـــر وياړونــــه بــــه مـــو پـــه برخــــه ســــی، بيـــا د پوهنتــــون ريــــس محصــــلينو تـــــه وويــــل: محصــلينو ستاســو همصــنفی ســاحل نــن داســی يــو کــار کړيــدی چـــی د نـــړی لـــوړ لـــوړ رياضـــی پوهـــان ورتـــه عـــاجزه يعنـــی ورتـــه پاتـــه راغلـــی وه نـــو د ســـاحل پـــه ويـــاړ بنـــه ويـــاړلی چکچکـــی وکـــړی، ټولـــو محصـــلينو د ســـاحل پـــه ويـــاړ بنـــه ډيـــري چکچکـــی وکـــړی او بيـــا ريــس وويــل: او يــو بلــه خبــره مــوږ بــه پــه پوهنتــون کــی د ســاحل پــه ويــاړ يــو غونــډه او يــو ميلــه جــوړه کــړو، پــه دی ســـره د ســـاحل ملګـــری شـــهاب او نـــور محصـــيلن ډيــر خوشــحاله ســوه او ټولــو ســاحل پــه اوږو کښــينوی او خوشـــحالي يـــی کـــولی، دوې ورځـــې وروســـته د ســاحل پــه ويــاړ غونــډه نيــول کيــده خــو ســاحل غوښــتل چــی پــه دې غونــډه کــی زينــت هــم ګــډون وکــړی خــو نــه د زينــت نمبــر ور ســره وو او نــه هــم پوســتخانی دومــره ژر ور رســـولای ســـوای نـــو يـــی د زينـــت څخـــه زړه صـــبر ســـو دوې ورځـــې وروســـته غونـــډه جـــوړه ســـوه لـــوړ پـــوړو چـــارواکو اســـتاذانو او ټولـــو محصـــلينو ګـــډون پکښـــی کـــړی وو تـــر ميلمســـتيا وروســـته د پوهنتـــون ريـــس د مائـــک طـــرف تـــه ورغلـــی او ويويـــل: دوســـتانو لکــه څنګــه چــی تاســو خبــر ياســت چــی دا ميلمســتيا مــوږ زمـــوږ د يـــو نابغـــه محصـــل لپـــاره نيـــولی ده نـــو اوس وخــت را رســيدلی دی چــی نومــوړی محصــل پــه ښــکلو ډاليـــو ســـره ونـــازوو تـــول محصـــلينو او لـــوړ پـــوړو چـــارواکو خپـــل ډالـــې پـــه لاســـو کـــی ونيـــولی پـــه محصـــلينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــی د ســـاحل ورونـــه هـــم ولاړ وه هغـــو هـــم ډالـــې پـــه لاس کـــی نیـــولې وی خـــو پـــه دی نـــه وه خبـــر چـــی دا محصـــل بـــه څـــوک وی، لـــږ وروســـته د پوهنتـــون ریـــس وویل: نو بلنه ورکوو ښاغلی ساحل ته،

ټولـــو یـــی پـــه ویـــاړ چکچکـــی وکـــړی او ســـاحل هـــم د ســـټیج مختـــه راغلـــی خـــو ورونـــو یـــی بیـــا هـــم ونـــه لیـــدی ټولـــو خپـــل ډالـــې پـــه لاس کـــی نیـــولی وی او یـــو یـــو د ســـاحل خواتـــه ورتلـــی او ســـاحل تـــه بـــه یـــی ډالـــې ورکـــولې نوبـــت او واری تیریـــدی چـــی پـــه دی وخـــت کـــی د ســـاحل ورونـــو تـــه هـــم نوبـــت ورســـیدی کلـــه چـــی هغـــوی ســـاحل تـــه ورســـیدل د ســـاحل مـــخ بـــل طـــرف تـــه وو کلـــه چـــی یـــی ورونـــه ورتـــه را ورســـیدل ســـاحل هغـــو تـــه پـــه موســـکی مـــخ ور واړوی کلـــه چـــی یـــی ورونـــو ســـاحل او ســـاحل خپـــل ورونـــه ولیـــدل نـــو ډیـــر ســـره حیـــران ســـول او یـــو و بـــل تـــه یـــی حیـــران حیـــران کتـــل پـــه دی کـــی زیـــات وخـــت تیـــر ســـو بیـــا ریـــس د ســـاحل ورونـــو تـــه وویـــل: محصـــلینو لـــږ ژر مـــو تحفـــی ســـاحل تـــه ورکـــی ملګـــری زیـــات دی هغـــوی هـــم د ســـاحل ســـره وینـــی، د ســـاحل ورونـــو پـــه حیرانتیـــا ســـره ســـاحل تـــه خپـــل ډالـــې ورکـــړی، کلـــه چـــی ډالـــې ورکـــول خـــتم ســـول نـــو د پوهنتـــون ریـــس وویـــل: او دوســـتانو مـــوږ د ســـاحل لپـــاره یـــو ډیـــر ښـــه خبـــر لـــرو هغـــه دا چـــی څـــو اوونـــۍ وروســـته زمـــوږ امتحانـــات شـــروع کیـــږی پـــه هغـــه امتحـــان کـــی مـــوږ د نابغـــه محصـــلینو لپـــاره یـــو امتحـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــرو چـــی مـــوږ د هغـــوی څخـــه د ټولـــو پاتـــه سمیســـټرانو امتحـــان اخلـــو کـــه هغـــوی پـــه هغـــه امتحـــان کـــی بریـــالی سـول نـو زمـوږ سـره بـه د پوهنتـون فارغـه محصـل وشـمیرل سـی او د فراغـت اسـناد بـه یـی ورتـه ورکـو مـــوږ د هغـــه امتحـــان لپـــاره ســـاحل اوس لا انتخـــاب کړیـدی او زه پـه دی مطمـئن یـم چـی سـاحل بـه پـه هغـه امتحان کی تر ټولو اول او غوره محصل وی،

پـه دی وخـت کـی سـاحل تـه د زینـت خبـره ور یـاد سـول چـی هغـی ویـل: سـاحل تـه کوښـښ وکـه زه باوری یم چی ته به تر ټولو اول یی،

پـه دی سـره سـاحل موسـکی سـو او زینـت یـی ډیـره ویادیـدل، وروسـته غونـډه او میلمسـتیا خلاصـه سـول سـاحل د خپلـو تحفـو سـره د پوهنتـون څخـه د وتلـو پـه حـال کـی وو چـی پـه دی وخـت کـی یـی سـترګی پـر زینـت ولګیـدی چـی د پوهنتـون پـه پـارک کـی ولاړه وه سـاحل ډیـر حیـران سـو او ژر یـی د هغـی پـر طـرف ور وځغسـتل او پـه حیرانیـاو موسـکا یـی زینـت تـه وویل: زینت ته دلته څنګه؟

زینـت موسـکی سـوه او ویویـل: سـاحل سـتا د ویـاړ مراسم وه او زه به نه راتلم؟

سـاحل موسـکی کیـدی او ویویـل: خـو دا ځـای تـه څنګـه پیدا کړ او ته څنګه خبره سوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینت وویل: ما درته ویلی وه چې ما یاده که زه به دی په حضور کې حاضره سم تیره ورځ تا زه یاده کړم او زه دا یم راغلم،

ساحل موسکی سو او ویویل: نه نه هتماً یو چا درته ویلی دی تا خو ویلی وه چې زمونږ دوستان هم په ښار کې اوسیږی هتماً په هغو کې یو چا درته ویلی دی،

د ساحل د خبرو په وخت کې شهاب هم د پوهنتون څخه غوښتل ووځی چې په دی وخت کې یې ساحل ولیدی شهاب ساحل ته ډیر حیران حیران او په تعجب سره کتل،

زینت موسکی سوه او بیا یې وویل: خیر ته دا پریږده مبارکی درته وایم وای په ټوله پوهنتون کې وځلیدی،

ساحل موسکی سو او ویویل: مننه خو دا ټوله ستا د برکته که تا زه نه وای تشویق کړی نو نن به زه دلته نه وای ویاړل سوی دا خو ټوله ستا فیرزوینه ده،

شهاب ولاړ وو او ساحل ته یې حیران حیران کتل خو ساحل هغه نه لیدی وروسته د ساحل هم شهاب ته پام سو ورته یې وکتل او موسکی سو څه وخت وروسته شهاب د پوهنتون څخه ووتی او ولاړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینــت وویــل: نــه نــه دا خــو ســتا لیاقــت وو چــی تــه یــی تــر دی ځایــه را ورســولی او بخښــنه ډېــره ډېــره غــواړم چی ستا لپاره می تحفه نه راوړل،،،

ســاحل وویــل: زینــت! تــه چــی مــی ولیــدی همــدا زمــا لپاره یو ستره تحفه ده،

زینــت خپــل ســترګې د ســاحل پــه ســترګو کــی ښــخې کــړی او یــو د بــل ســره یــی مینــه نــوره هــم پــه زړه کــی زیاتــه ســوه، وروســته زینــت وویــل: ســاحل زه بایــد اوس ولاړه ســم دلتــه د یــو دوســت کورتــه راغلــی وم اوس بیرته ځو،

ساحل وویل: زینت نور څوک در سره دي؟

زینت وویل: زموږ دوستانو دی،

ســاحل وویــل: خــو یــو څــو ورځــې بــه همدلتــه پاتــه ســوې وای،

زینــت وویــل: نــه بــس مــازې مــی تــه لیــدلی اوس بیرتــه ځــم خــو ډیــر ډیــر مــی مــه یــادوه کــه نــه هــر واری بــه ســتا مخ ته ولاړه یم،

ســـاحل موســـکی ســـو او ویویـــل: زه خـــو همداغـــه غواړم،

وروســـته زینـــت د ســـاحل څخـــه خـــدای پـــه آمـــانی واخیســتی او روانــه ســوه ســاحل پــر هغــه ځــای ولاړ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته یې یو خبره په فکر کې راغلل چې زینت ته یې وکړی نو یې ژر ور ناره کړه: زینت؟

خو کله چې یې مخ ور واړوی نو هلته هیڅوک نه وه ساحل موسکی سو او د ځان سره یې وویل: لکه چې زیات تلوار یې وو،

د ساحل ورونو خپل پلار ته وویل: بابا زړه ته به دی ونه لویږی ساحل د ټولو پوهنتون یو ویاړلی نوم وګټی،

د ساحل مور او پلار ډیر حیران سول او بیا د ساحل پلار وویل: ایا تاسو ډاډه یاست چې هغه ساحل وو؟

د ساحل ورونو وویل: بابا موږ هغه پخپلو سترګو ولیدی چې ساحل وو او موږ هغه ته نیږدی هم ورغلو او ډالۍ مو هم ورکړی،

د ساحل د مور او پلار تر سترګو اوښکې وبهیدلی د ساحل پلار وویل: زه پوهیدم چې دا بې عقل به یو وخت هتماً یو لوړ مقام ته رسیږی خو فکر مې نه وو کړی چې دومره ژر به رسیږی،

کله چې ساحل خپل اطاق ته ولاړی هلته یې ډالۍ کتلې چې په دی وخت کې د اطاق دروازه وټکیدل ساحل ور ولاړ سو او دروازه یې ور خلاصه کړه ګوری چې شهاب وو، ساحل شهاب ته وویل: اوه شهاب ته یې راځه مهربانی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــهاب هـــم د ســـاحل اطـــاق تـــه ور ننـــوتی ســـاحل ډيـــر خوشـــحاله معلوميـــدی بيـــا شـــهاب د ســـاحل تنـــدي تـــه لاس ونيـوی او سـاحل تـه يـی وويـل: ايـا تـه خـو بـه ښـه يـی او خورا خوشحاله معلوميږی څه خبره ده؟

ساحل وويل: هو ښه يم ولی دی دا پوښتنه وکړه؟

شهاب وويل: بس داغسی می وويل،

بيـــا شـــهاب و ســـاحل تـــه ډالـــۍ ورکـــړه او ورتـــه يـــی وويـــل: ســـاحل واخلـــه دا ډالـــۍ درتـــه زمـــا بابـــا راليږلـــی ده،

ســـاحل وويـــل: اوه يـــاره ولـــی مـــو دومـــره تکليـــف کـــوی خو هغه دی تاسو راکړل ډالۍ،

شـــهاب وويـــل: هغـــه خـــو زمـــا وه خـــو دا د بابـــا ده بابـــا ســـتا پـــه هکلـــه ډيـــر خوشـــحاله وو خـــو يـــاره تـــه دا راتـــه ووايـــه چـــی دا ســـوالونه تـــا څنګـــه حـــل کـــړل هغـــه هـــم داســـی ســـوالونه چـــی د نـــړی لـــوی رياضـــۍ پوهـــانو نکړل حل؟

ســـاحل موســـکی ســـو او بيـــا يـــی وويـــل: البـــرټ انشـــټين می په خوب وليدی هغه راوښول،

شـــهاب هـــم موســـکی ســـو او ويويـــل: هغـــه خـــو د فزيـــک عالم وو،

پـــه دی ســـره ســـاحل او شـــهاب دواړو ډيـــر وخنـــدل بيـــا ســـاحل وويـــل: نـــه پـــوهيږم يـــاره زه هـــم خپـــل ځانتـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیــران یــم پــه هغــه ورځ چــی اســتاذ دا ســوالونه پــر تختــه لیکلــی وه او بیــا مــا ولیکــل نــو چــي دلتــه اطــاق تــه راغلــم ټولــه ورځ مــی بانــدی تیــره کــړه خــو حــل مــی نکــړل بیــا پــه شــپه کــی تــر نیمــایی شــپی ناســت وم خــو بیــا یــو دم خــوب رابانــدي غالبــه ســو او بیــده ســوی وم لــږ وروســته مــی یــو ږغ واوریــدی چــی راکښینســتم او کتــابچی تــه مــی وکتــل نــو لاســو مــی خپلــه اتمــات کــار شــروع کــړ او ددی ســوالو جوابونــه مــی ولیکــل، شــهاب هــم حیــران ســو فکــر یــی وکــړ چــی ســاحل لکــه چــی عصبی تکلیف لری،

ســاحل بــه هــره ورځ پــر وخــت پوهنتــون تــه تلــی او درســونو تــه بــه یــی ســمه توجــو کــول د اســتاذانو یــی نــور قــدر کــوی اســتاذانو یــی هــم ډیــر قــدر کــوی څــو ورځــې وروســـته د درو ورځـــو لپـــاره عمـــومی رخصـــتی وه ســاحل هــم شــیان ســره تیــار کــړل تــر څــو د روخصــتی دا ورځــې د زینــت ســره تیــری کــړی پــه کلــی کــی نــو د کلــی پــه نیــت روان ســو او تــر څــه وخــت وروســته کلــی تــه ورســیدی لکــه څنګــه چــی نــارنج کــلاء د بســانو د اډې څخــه لیــری وه نــو ســاحل بیــا پــه پښــو روان ســو تــر څــه وخــت وروســته بیــا د کلــی رود تــه ورســیدی ســاحل د رود تـــر غـــاړی روان وو چـــي بیـــا یـــی د انجونـــو خنــداوی واوریــدی ســاحل چــی کلــه مختــه ورغلــی نــو ویلیــدل چــی بیــا هغــه د تیــر واری انجــونی د رود تــر غــاړی ناســت وې او پــه اوبــو کــی یــی ســاعتیری کــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل د هغو ځخه څه لیری وو چې هغو هم ساحل ولیدی کله چې ساحل هغو ته ور نیږدی سی هغو حیران حیران ورته کتل بیا ساحل هغو ته سلام ووایه هغو د ساحل سلام جواب کړ او بیا هغو یو وبل ته سره وکتل او ویخندل یوې انجلۍ ساحل ته وویل: ولې اخښې زموږ د مشرۍ بغیر دی په ښار کې ژوند نسوای کولای که ځنګه چې داسې ژر راغلی؟

ساحل موسکۍ سو او ځان یې د دوې مختته داسې وښوی چې ګواکی زه ستاسو مشره نه پیژنم نو یې ورته وویل: کومه ستاسو مشره؟

هغوی وویل: اخښې ولې داسې ناخبره ځان ښیئ ته فکر کوی چې موږ نو نه یو خبرې موږ په هر څه خبرې یو،

ساحل موسکی سو او ویویل: تاسو په څه خبرې یاست؟

هغوې وویل: داغه چې تا او زموږ مشره یو د بل سره مینه کوی خو یو و بل ته نسی ویلای؟

تولې انجونې په خندا سوی، لږ هاخوا سپینږیری سړی په خپل مځکه کې اختته وو چې په دی وخت کې یې ساحل ته پام سو او هغه ته یې حیران حیران کتل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل هغوې ته وویل: نه نه داسې خبره نه ده ستاسو مشره ډېره حیاء ناکه او بااخلاقه انجلۍ دی زه یې ډېر احترام کوم،

هغوی بیا سره په خندا سوې او یوې پکښې وویل: نو ولې حیاء ناکې او بااخلاقې انجونې د مینې حق نه لری او که زړه نه لری؟

په دی سره بیا ټولې انجونې په خندا سوی او ساحل هم د دوی په خبرو موسکی کیدی،

یوه انجلۍ ساحل ته نیږدی سوه او ورته یې وویل: اخښې! هسې زړه غټ که او زموږ مشرې ته وایه چې مینه در سره لرم،

په دی سره د ساحل سترګې غټې سوی او انجونو ټولو وخندل ساحل موسکی سو او بیا یې وویل: تاسو عجبه خبرې کوی،

سپین ږیری بزګر لا هم ساحل ته هغسې حیران حیران کتل چې په دی وخت کې د ساحل هم ورته فکر سو نو یې انجونو ته وویل: سمده نو زه ځم خو ستاسو مشره نه معلومیږی هغه چیرې ده؟

انجونو وویل: ورسه ورسه اخښې هغه به درته په کلاء کی انتظار وی،

انجونو ټولو وخندل او بیا ساحل د هغوی څخه خدای په امانی واخیستی او ځنی روان سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــاحل د ســـــپین ږیـــــری پـــــر طـــــرف ور روان وو کلـــــه چـــی هغــه تــه ورنیــږدی ســو نــو د شــرمه یــی څــه ونــه ویــل او همداســی تــری تیــر ســو خــو ســپین ږیــری ډیــر حیران او په تعجب ساحل ته کتل،

څــه وخــت وروســته ســاحل کــلاء تــه ورســیدی گــورې چـــی د کـــلاء دروازه خلاصـــه وه او شـــاوخوا د اوبـــو اوبــه پاشــې ســوی وه ســاحل حیــران ســو او پــه کــلاء کــی یــی شــاوخوا وکتــل چــي دا صــفاکاری او دا اوبــه پاشــی چــا کړیــده خــو کلــه چــی یــی شــاوخوا وکتــل نــو پــه کــلاء کـــی هیڅـــوک نـــه وه وروســـته ســـاحل کـــلاء تـــه ننـــوتی گـــوری دننـــه پـــه کـــلاء کـــی هـــم صـــفاکاری ســـویده او څراغـــان لگیـــدلی دی ســـاحل هـــری خواتـــه حیـــران حیــران کتــل هیڅــوک نــه معلومیــدل ســاحل خپلــه بســته پــه خپــل اطــاق کــی کښیښــول او بیرتــه دبانــدي راووتــی او د کــلاء بــام تــه وختــی او د زینــت پــه انتظــار ســو لــږ وروســـته زینـــت راښـــکاره ســـوه ســـاحل د هغـــۍ پـــه لیـــدو ډیــر خوشــحاله ســو تــر روغبــړ وروســته ســاحل وویــل: زینــت! ایــا پــه کــلاء کــی دا هــر څــه تــا کــړی وه دیتــه څــه اړتیا وه خو ته به یی څومره ستړی کړی یې؟

زینت وویل: نه دا ما نه دی کړی کارکونکو وکړه،

ساحل وویل: خو ستا په لارښوونه یی کړیدی،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینـــت وویـــل: زه دا نـــه غـــواړم چـــی مـــوږ دی پـــه صـــفاء ځـــای کـــی و اوســـیږو او تـــه دی پـــه داســـی چټـــل ځـــای کی،

بیا زینت وویل: ساحل! ښه پخیر را ورسیدی؟

ساحل وویل: هو پخیر را ورسیدم،

زینـــت پـــه لاس کـــی د خـــواړو یـــو لوښـــی نیـــولی وو او ســـاحل تـــه یـــی وویـــل: ســـاحل راځـــه لانـــدی میـــز تیـــار دی تـــه بـــه وږی ســـوی یـــی مـــا ســـتا لپـــاره لـــږ څـــه شـــیان پاخـــه کړیدی،

ســـاحل وویـــل: ګـــوره نـــو زینـــت بیـــا دی هســـی ځـــان ستړی کړیدی،

زینـــت وویـــل: ســـاحل پـــوهیږی تـــا چـــی زمـــا غوښـــتنه ومنـــل او ښـــار تـــه پـــه پوهنتـــون ویلـــو پســـی ولاړی زه ډیره خوشحاله سوم دا د هغه لپاره،

ســـاحل موســـکی ســـو او بیـــا یـــی وویـــل: صـــرف پـــه دي خواړو نه خلاصیږی،

زینـــت موســـکۍ ســـوه او ویویـــل: تـــه اوس دا خـــواړه وخوره بیا چی ته هر شی غواړی هغه به درکړم،

ســـاحل او زینـــت لانـــدی کښـــته ســـول د خـــواړو میـــز تیـــار وو زینـــت ســـاحل تـــه پـــه خپـــل لاس خـــواړه ور تیـــار کـــړل او د ســـاحل مختـــه یـــی کښیښـــوول ســـاحل زینـــت تـــه وویل: ولی اغلۍ ته یی نه خوری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینت وویل: نه ما مخکی وخوړل،

ساحل دوهم خالی لوښی را واخیستی او خپل خواړه یی تقسیم کړه او زینت ته یی ورکړل او ورته یی وویل: دواړه به یی سره وخورو د خواړو خوند به نور هم زیات سی،

زینت هم ساحل ته نیږدی پر چوکۍ کښېنستل او دواړو په خواړو پیل وکړ ساحل چی کله لومړی ګوله وکړل ډیر خوندور خواړه وه نو زینت ته یی وویل: زینت دا خواړه تاسو څنګه پخوی پوهیږی هغه شیر برنج چی تا راکړی وو کله چی می ملګرو د هغه خوند وکتی نو د ټولو پر جنګ سو او یو د بل څخه مو څغلوی،

زینت په دی سره ډیر وخندل او بیا یی وویل: ما خو فکر کوی چی هیڅ به دی خوښ نسی،

ساحل وویل: څه وایی زینت! دومره ښایسته شیر برنج وو چي د ملګری پلار می راځخه وعده واخیستل چی ویل یی که بیا کلی ته ولاړی نو هتماً به یی بیا راته راوړئ ما ویل سمده،

لږ وروسته خواړه وخوړل سوه زینت ولاړه سوه او د لاس پریولو اوبه یی راوړلی او د ساحل لاس یی ور پریولی بیا زینت وویل: ساحل نو زه باید ولاړه سم اوس،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: دومره ژر بیا ځی خو همدا اوس راغلی،

زینت وویل: نه ډیر وخت کیږی چی راغلی یم،

ساحل خپل ساعت ته وکتل بیا موسکی سو او ویویل: اوه ربښتیا هم ډیر وخت تیر سویدی نو ځې؟

زینت وویل: هو ځم د الله په امان،

ساحل وویل: الله دی مل سه!

کله چی زینت روانیدل نو بیرته یی مخ را وګرځوی ساحل ته او ورته یی وویل: هغه ساحل زه د خپلو ملګرو لخوا بخښنه غواړم هغوی باید ستا سره داسی خبری نه وای کړی؟؟

ساحل وویل: کومی خبری؟

زینت وویل: داغه چی موږ یو د بل سره مممینه کوو،

ساحل موسکی سو او بیا زینت ته نیږدی سو د زینت لاس یی په لاس کی ونیوی او ویویل: نو ته زما په اړه کوم نظر لری؟

زینت وشرمیدل او څه یی ونه ویل بیا ساحل نور زینت ته نیږدی سو د هغې لاس یی نور هم ټینګ ونیوی او ویویل: زینت! پوهیږی چی د کله می ته ژوند ته راغلې یی زما د ژوند کولو سبب پیدا سو خوشحالی می په ژوند کی راغلل ساه می واخیستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند ته مې امیدونه پیدا سول هغه زخمونه چې مې کورنۍ راکړي وه هغه زخمونه چې یو کم اصلي مینې راکړي وه هغه زخمونه چې ناکامیو راکړي وه ټول تا را پټې کړل اوس مې ساه ګاني ستا سره تړلې ژوند مې ستا سره تړلی،

د ساحل تر سترګو اوښکې راغلې او بیا یې وویل: زه مینه در سره لرم زینت هو زه مینه در سره لرم،

په دی سره زینت خپل سترګې د ساحل په سترګو کې ښخې کړی او په خپل لاس یې د ساحل اوښکې ور پاکی کړی وروسته یې د ساحل پر اوږه سر کښیښوی ساحل هم خپل لاس د زینت په اوږه ونیوی دواړه همداسې ولاړ وه چې وروسته زینت د ساحل د اوږې څخه سر پورته کړ خپل لاس یې د ساحل په لاس کې ونیوی او ساحل ته یې وویل: ساحل تا خو ماته خپل د زړه خبره وکړه خو زه به خپل د زړه خبره هغه وخت درته وکم چې کله ته د پوهنتون څخه په اعلٰې او تر ټولو په اوله درجه فارغه سې،

ساحل موسکی سو او ویویل: اوف زینت یو خو ستا دا ډیرو شرطو زه لیونی کړم،

زینت هم موسکې سوه او ویویل: هو نو زه به وګورم چې ته زما لپاره دا کولای سې او که نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروســـته زینـــت د کـــلاء ځخـــه ووتـــل او ولاړل ســـاحل خپـــل کـــوټې تـــه ولاړی او بیـــده ســـو نیمـــه شـــپه ســـوه درختـــې پـــه رپیـــدو ســـوی بـــاد هـــم راوالـــوتی د کـــلاء شـــاوخوا دوړی ســـــوی د کـــــلاء د دیـــــوال دبانـــــدی معلومیـدل چـی څـوک کـلاء تـه ننوتـل چـي پـه دی وخـت کـــی د کـــلاء دننـــه د کـــلاء پـــر محـــل د اور دایـــره را وګرځیـــدل چـــي پـــه دی ســـره کـــلاء تـــه داخلیـــدونکي ودریـــدل او د کـــلاء ځخـــه لیـــری ســـول د کـــلاء دننـــه د ښـــځې د خنـــدا ږغ ســـو داخلیـــدونکي بیرتـــه شـــاته ولاړل،

ســـهار ســـو ســـاحل هـــم د خوبـــه کښینســـتی کلـــه چـــي د کـــوټې ځخـــه ووتـــی نـــو ویلیـــدل چـــی زینـــت پـــر میـــز د ســـهار ناشـــته تیـــاروی ســـاحل موســـکی ســـو او ویویـــل: اوه ته څه وخت رالي؟

زینت وویل: زه خو تل همدلته یم ستا سره،

ســـاحل وویـــل: هســـی وایـــی تیـــره ورځ خـــو داســـی ژر ولاړي،

وروســـته ســـاحل د ســـهار ناشـــته وخـــوړل او بیـــا دواړه د کـــلاء بـــام تـــه وختـــل ســـاحل هلتـــه د زینـــت پـــه غیـــږ کـــی خپـــل ســـر کښیښـــوی زینـــت خپـــل لاس د ســـاحل پـــه وریښـــتیانو ننایســـتی او بیـــا یـــی ورتـــه وویـــل: ســـاحل تـــا مخکی د چا سره مینه کړی وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل اوږده ساه وایستل او بیا یې وویل: زینت ما هغه چمبازه هیره کړیدی نه غواړم چې بیا یې په اړه فکر وکړم،

زینت وویل: ولې هغې ستا سره کومه چمبازي کړی وه؟

ساحل و زینت ته د زهرا تولـه کیسه وکړه او بیا زینت وویل: ساحل هغې چي بیا ستا شعرونه د خپل خاوند په نامه کړه نو تا کوم اقدام نه وښوی؟

ساحل وویل: نه ځکه چې د هغې پلار یو لوړ رتبه چارواکی وو زما په وس کی نه وه ورسره،

زینت وویل: اصل کی ساحل د همداسې کسانو سره تاسو هر څه کولای سی ځکه چي د هغو یو کوچنی غلطی هم د هغو سیاست او مقام ته تاوان رسولای سی نو ځکه هغوی نه غواړی چې کوم غلط کار وکی،

ساحل وویل: نو څه کول پکار دی؟

زینت وویل: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته ورسه او پر دوی د کافی رایټ د غلا قضیه خلاصه که زه باوری یم چی هتماً به یی ته ګټې،

ساحل په حیرانۍ سره د زینت د غیرږ څخه خپل سر پورته کړ او هغې ته یی په حیرانۍ کتل او بیا یی وویل: زینت ستا دماغ خو داسې چلیږی او کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــوی لکـــه د طیـــاری ماشـــین دا خـــو دي ډیـــر ښایســـته نظر راکړ اوس یی نو نه پریږدم،

د ســـاحل رخصـــتي پـــای تـــه ورســـیدل خپـــل ســـامان یـــی تیـــار کـــړ او د روانیـــدی پـــه وخـــت کـــی یـــی زینـــت تـــه وویل: زینت زما به ډیره یادیږی،

زینـــت وویـــل: کوښـــښ وکـــه درســـونه ووایـــه هغـــه امتحـــان چـــی وړانـــدیز یـــی درتـــه ســـویدی پـــه ښـــه ډول یـــی ورکـــه نو بیرته به ژر راسی،

ســـاحل وویـــل: اف دا خـــو هـــم ډیـــر وخـــت نیســـی بـــی تـــا بـــه یـــی څنګـــه تیـــروم نـــه پـــر موبایـــل خبـــری راســـره کـــوی نـــه خطونه رالیږی نو ظلم خو دی زما سره،

زینت وویل: ولی دی تلوار دی زه خو یم ستا،

ساحل وویل: خو........

زینـــــت وویـــــل: خـــــو خـــــو دی پریـــــږده اوس ولاړ ســـــه درسونه ووایه ځان ښه تکړه که،

ســـاحل د خپـــل جیـــب څخـــه موبایـــل راوکښـــی او زینـــت ته یی وویل: یو دانه سلفی خو را سره ونیسه،

ســـاحل زینـــت تـــه نیـــږدی ســـو او د هغـــې ســـره یـــی ســـلفی عکـــس ونیـــوی او بیـــا یـــی د زینـــت څخـــه خـــدای پـــه امـــانی واخیستی او مخ د ښار پر طرف رهی سو،

ســـاحل او شـــهاب څـــو ورځـــې وروســـته د اطلاعـــاتو او فرهنـــګ وزارت تـــه ورغلـــل او د زهـــرا پـــر ضـــد یـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضـیه خلاصـه کـړه کلـه چـی محکمـه دایـره سـوه سـاحل خپـل ثبوتونـه محکمـی تـه وړانـدی کـړل د قضـیه د ساحل پـه ګټـه روانـه وه خـو محکمـی د قضـیی فیصـله سبا تـه وغځـول کلـه چـی سبا سـو نـو ټـول حاضـر سـول خـو زهـرا نـه وه حاضـره سـوی محکمـی هغـی تـه څـه انتظـار وکـړ خـو زهـرا نـه راغلـل وروسـته قاضـی وویـل: د تیـرو څـو ورځـو محکمـه دی پـایلی تـه ورسـیدل چـي اغلـی زهـرا د سـاحل څخـه پـه چـم سـره د هغـه د شـعرو کتابچـه اخیسـتی وه او د خپـل راتلـونکی خاونـد پـه نامـه یـی د سـاحل شـعرونه چـاپ کـړی وه اغلـی زهـرا مجرمـه ثابتـه سـوه او د هیـواد د اساسـی قـانون مطـابق بـه زهـرا و سـاحل تـه د کتـاب څخـه پـه لاس راغلـي ټـولی پیسـې او امتیـازات ورکـوی ددی تـر څنـګ محکمـه زهـرا تـه د دوو میاشـتو بنـد سـزا هـم اوروئ،

پـه دی سـره شـهاب او سـاحل ډیـر خوشـحاله سـوه د قاضـی څخـه یـی د محکمـی فیصـله واخیسـتل او د پولیسـو سـره یـو ځـای د زهـرا د کـور پـر طـرف ور روان سـول کلـه چـي د زهـرا کورتـه ورسـیدل نـو ساحل پولیسـو تـه وویـل چـی تاسـو همدلتـه ودریـږی موږ دننه ورځو،

وروسـته شـهاب او سـاحل د زهـرا کـور تـه دننـه ورغلـل تـر څـو زهـرا تـه د محکمـی فیصـله ور ښـکاره کـړی خـو کلـه چـی دننـه د زهـرا کـور تـه ورغلـل نـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیـــدل چـــی د زهـــرا راتلـــونکی خاونـــد ارمـــان زهـــرا وهلــه پــه دی ســره ســاحل د زهــرا او ارمــان پــر طــرف ور وځغســـتل او ارمـــان یـــی د زهـــرا څخـــه لیـــری وغورځـــوی، ارمـــان ولاړ ســـو او ســـاحل تـــه یـــی ور حملــه کــړه خــو ســاحل پــر ارمــان قــوی وو نــو ځکــه یــی ارمــان ښــه ډیــر ووهــه چــی تــر خولــه او پــزه یــی وینــې وبهیــدلی تــر ډیــر جنــګ وروســته ارمــان ځــان وکښــی او ساحل ته یی وویل چی در سره ګورم به،

تــر څــه وخــت وروســته شــهاب زهــرا تــه وویــل: زهــرا وګــوره چــی مــوږ څــه راوړیــدی پــوهیږی محکمــې څــه فیصـــله وکـــړه؟ محمکـــې چـــی تـــه بـــه ټـــول د ســـاحل د کتـــاب امتیـــازات او پیســـې ســـاحل تـــه ورکـــوی او د دوو میاشـــتو بنـــد ســـزا بـــه هـــم وینـــئ ستاســـو د کـــور مختـــه پولیس ولاړ دی غواړی تا ونیسی همدا اوس،

زهــرا چــی تــر ســترګو یــی اوښــکې بهیــدلی پــه دی ســره ډیـــره حیرانـــه ســـوه، ســـاحل د زهـــرا مختـــه وکتـــل چـــی ډیـــره غمګینـــه وه او تـــر ســـترګو یـــی اوښـــکې روانـــی وی چـــي دا ځیهـــری یـــی پـــر ســـاحل ډیـــر اثـــر وکـــړ بیـــا یـــی شـــهاب تـــه وویـــل: شـــهاب! تـــه د محکمـــې فیصـــله او دوسیه راوړه،

شـــهاب د محکمـــې فیصـــله او دوســـیه راوړل او ســـاحل تـــه یـــی ورکـــړل، ســـاحل هغـــه دواړه واخیســـتل او ځیـــری یـــی کـــړل پـــه دی ســـره زهـــرا او شـــهاب دواړه حیـــران سول بیا شهاب وویل: ساحل دا دی څه وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل موسکی سو او ویویل: یاره ما خو ددې سره رښتینی مینه کول څه وسوه چې دې مینه نه راسره کول دې چې زما سره کوم بد وکړل د هغه سزا دا ده دې ولیدل،

وروسته ساحل د زهرا د کوره ووتی او پولیسو ته یی وویل: تاسو ولاړ سی ما خپله عریضه بیرته واخیسته،

ساحل د پوهنتون امتحانو ته ځان تیاروی څه ناڅه درسونه یی د ځان سره تکرار کړل وروسته علان وسو چې د نابغه محصلینو د امتحان مخکی د ستاذانو لخوا یو بل ازمایښتی امتحان اخیستل کیږی ټولو هغو محصلینو چې دې امتحان ته یی ځانونه انتخاب کړی وه تیاری شروع کړ او دوی ورځې وروسته ازمایښتی امتحان شروع سو ټول د پوهنتون استاذان او محصلین راغلی وه ساحل او څو نور محصلینو چې د نابغه ګانو امتحان ته یی ځان انتخاب کړی وو د ټولو محصلینو او استاذانو په وړاندې ناست وه او استاذانو پوښتنی ځنی شروع کړی استاذ وویل: د لومړی برخې سوالونه مو د تاریخ څخه دی او ډیر اسانه دی،

لومړی پوښتنه استاذ وکړل: په لومړی نړیواله جګړه کی څو جاپانیان مړه او څو ټپیان سول، څلور جوابه سوال دی جوابونه یی په لاندې ډول دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: ۲۰۰ مېره او ۲۰۰ ښځينه سول

ب: ۵۰۰ مېره او ۲۰۰ ښځينه سول

ج: ۷۰۰ مېره او ۹۰۰ ښځينه سول

د: ۳۰۰ مېره او ۹۰۷ ښځينه سول،

محصلين ټولو د جواب په اړه فکر شروع کړ او بيا يوه محصل وويل: په لومړي نړيواله جګړه کې ۳۰۰ جاپانيان مېره او ۹۰۷ ښځينه سول،

استاذ وويل: د سوال جواب بلکل صحی دی،

ټولو محصلينو چکچکې وکړی او وروسته استاذ دوهم سوال شروع کړ او ويويل: د روم ښار څو کاله مخکی او په کوم ځای کی جوړ سويدی صحی جواب يی انتخاب کړی،

الف: ۲۰۰۰ کاله مخکی تر ميلاد په مصر کی

ب: ۳۰۰۰ کاله مخکی تر ميلاد په روم کی

ج: ۱۰۰۰ کاله مخکی تر ميلاد په لاتيوم کی

د: ۵۰۰ کاله وروسته تر ميلاد په هسپانيه کی

ټولو محصلينو بيا د جواب لپاره فکر کول شروع کړل بيا يوه محصل وويل: ۱۰۰۰ کاله مخکی تر ميلاد په لاتيوم کی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ او نورو عمومي سوالونو او جوابونو لړۍ همداسې جریان درلودی ټول محصلینو جوابونه ورکړل او کریډیټ یې وګټل خو د ساحل پر ژبه د یوه سوال جواب هم نه راتلی ساحل ډیر وارخطاء وو، وروسته استاذ وویل: اوس هم د پروګرام اخیره ده او د سختو سوالونو واری دی د تیرو ټولو سوالو نمرې چې تاسو هر یوه ګټلی دی او ددې سوالو د یوه سوال د جواب نمری به د هغو سره برابری وی هیله ده چې په پوره هوښ او فکر به جواب راکوی ځکه دا سوالونه څلور جوابه نه دی نو لومړی سوال په دي ډول دی: که یوه مصنوعی سپوږمکی په دوو ساعتونو کې ۳۰۰۰ کیلو متره واټن ووهی نو په ۷۲ ساعتونو کې به څو کیلو متره واټ ووهی؟

ټول محصلین په فکر کې سول خو د هیچا یې هم جواب نه وو زده بیا استاذ وویل: محصلینو تاسو صرف ۶۰ دقیقې وخت لری،

بیا استاذ ساحل ته وکتل او ویویل: ښاغلی ساحل تاسو جواب ووایست تاسو خو یوه سوال ته هم جواب نه دی ویلی،

ساحل ډیر وارخطا وو په رږدیدلی لاس یې مایک راپورته کړ او ویویل: که یوه مصنوعی سپوږمکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۳ ساعتو کې ۳۰۰۰ کیلو متره واټن ووهي نو په ۷۲ ساعتونو کې به ۲۱۶۰۰۰ کیلو متره واټن ووهی،

په دی سره استاذ وویل: د سوال جواب مووووووو بلکل صحی دی،

په دی سره ټولو محصلینو چکچکې کړی ساحل چې ډیر وارخطا وو لږ یې وارخطایی کمه سول بیا استاذ وویل: دوهم سوال مو په دي ډول دی.....

ساحل د استاذانو ټولو پوښتنو ته جوابونه وویل شهاب او نور ټول محصلین ډیر خوشحاله وه وروسته نتیجې اعلانول شروع سول د اعلان لپاره د پوهنتون ریس ودریدی او ویویل: اوس هم راځو د اول مقام ګټونکی اعلانوو چې د ټولو څخه به یې زیاتي نمری وړی وی ستاسو په اند اول مقام به چا ګټلی وی؟

ټول پوهیدل چې سختو او ډیرو نمرو ولا سوالونه ساحل جواب کړل نو ټولو محصلینو وویل: ساحل! ساحل! ساحل!،

بیا ریس وویل: بلې هو لومړی مقام ساحل ګټلی دی ورته مبارک دی وی،

وروسته د پوهنتون ریس ساحل ته ستاینلیک او نوري جایزې ورکړی او ساحل یی ډیر تشویق کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــوه اوونـــۍ وروســـته د نابغـــه محصـــلینو امتحـــان شـــروع کیـدی ســاحل هغــه تــه تیــاری نیــوی چــی اوونــۍ پــای تــه پــری ورســیدل او امتحانـــات شـــروع ســـول ســـاحل هغـــه امتحانـــات ټـــول ورکـــړل پـــایلو تـــه یـــی پنځـــه ورځـــې وخـــت پاتـــه وو ســـاحل ډیـــر پریشـــانه وو شـــهاب ورتـــه وویـــل: ســـاحل یـــاره غـــم یـــی مکـــوه الله مهربـــان دی اول مقام به ستا وی،

ســاحل وویــل: یــاره دي تــه نــه یــم وارخطــا چــي زه بــه ناکــام ســم دي تــه وارخطــا یــم کــه ناکــام ســوم زه بــه کلــی ته بیا په کوم مخ ورځم هغه ماته ډیر امیدونه لری،

شــهاب وویــل: ســاحل الله بــه یــی خیــر کــی تــه فکــر مــه خرابوه،

څـــو ورځـــې وروســـته پـــایلې اعـــلان ســـوي شـــهاب او ســـاحل دواړه ســـهار د وختـــه پوهنتـــون تـــه راغلـــل ســـاحل وویـــل: شـــهابه تـــه ورســـه نتـــایج وګـــوره چـــي څـــه ګـــلان مو کرلی دی،

شهاب وویل: خو ته هم راځه؟

ســـاحل وویـــل: یـــا یـــاره زمـــا زړه دربیـــږی زړه مـــی مطمـئن نــه دی چــی کامیــاب ســوی دي یــم خــو تــه ورســه زه همدلته درته دریږم،

وروســـته شـــهاب ولاړی او نتـــایج یـــی وکتـــل څـــه وخـــت وروســـته بیرتـــه ســـاحل تـــه راغلـــی پـــه تنـــدي بانـــدي یـــی ګـــونځې وی او پریشـــانه معلومیـــدی ســـاحل پـــه حیرانـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـره وويـل: ځـه خبـره ده ولـې داسـې پریشـانه یـې ناکـام سوی یم؟

شـهاب اوږده سـاه وایسـتل او د څـه وخـت وروسـته یـې یـو دم پـه مسـکا وویـل: سـاحله تـا لـومړی مقـام ګټلـی دی،

سـاحل ډیـر حیـران سـو او بیـا یـې خپلـه د نتـایجو و طـرف تـه ور وځغسـتل او ویلیـدل چـې لـومړی دده نـوم وو نـو ډیـر خوشـحاله سـو او شـهاب یـې پـه غیـږ کـې ونیـوی او بیـا یـې تـر سـترګو اوښـکې راغلـې شـهاب چـې دده اوښـکو تـه وکتـل نـو حیـران سـو او ویویـل: ساحله دا د خوشحالی په ورځ ته ژاړی؟

سـاحل وویـل: یـاره دا ورځ مـا پـه خـوب کـې هـم نـه وه لیدلی،

شـهاب وویـل: سـاحله تـه بایـد د هغـه چـې څخـه ډیـره ډیـره مننـه وکـې چـې تـه یـې پوهنتـون ویلـو تـه تشـویق کړی،

وروسـته د پوهنتـون اسـتاذان او ریـس هـم راغلـل او سـاحل یـې پـه غیـږ کـې ونیـوی او مبـارکی یـې ورکـړه او بیـا ریـس وویـل: سـاحله ډیـر ډیـر دي درتـه مبـارک وی تـا زمـوږ د پوهنتـون نـوم را وځلـوی تاسـو د پروګـرام لپـاره تیـار سـې مـوږ ستاسـو لپـاره راتلـونکي اوونـۍ کـې یـو شـانداره فراغـت غونـډه جـوړه وو تاسـو خپل دوستان هم در سره راولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: سمده ریس صاحب،

وروسته شهاب وویل: ساحله ته ولی مراسمو ته هغه ستا د کلی دوسته هم نه راغواړی؟

ساحل وویل: نه یاره هغه نه راسره راځی،

شهاب وویل: نو ته دي د دوستانو څخه څوک راولی فراغت غونډی ته؟

ساحل وویل: ستا بابا او د ورکشاف نور کارکونکي؟

شهاب وویل: نو بابا خو زما له طرف راځی زه به یی راولم،

ساحل وویل: نه نه بابا زما له طرفه دی،

شهاب وویل: اسمده یاره چي څنګه ستا خوښه وی خو ساحل یو خبره وکم؟

ساحل وویل: هو،

شهاب وویل: ته ولی خپل مور او پلار او ورونه نه راولی؟

ساحل وویل: کوم مور او پلار او کوم ورونه هغه مور او پلار چی زه یی د کور څخه په ټیلو وایستلم هغه ورونه چی زه یی تل ترټلم او وهلم به یی هغوي نه زما خپل دی او نه به هم وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه اوونی وروسته د فراغت غونډه جوړه سوه ساحل او شهاب دواړه فارغه سول او ساحل ته ډیري جایزې ورکول سوې ساحل تر فراغت غونډې وروسته د ملګرو او شهاب څخه خدای په آمانی واخیستی او مخ د کلی پر طرف روان سو تر څه مزل وروسته نارنج کلاء ته ورسیدی ډیر سترې سوی وو نو یی پر چوکۍ څنګ واچوی پښې یی وغوځولي او سترګې یی پټې کړی څه وخت وروسته زینت پټه راغلل او د ساحل په سترګو باندي یی لاسونه ونیول، ساحل موسکی سو د زینت لاسونه یی دواړه ونیول د سترګو څخه یی لیری کړل او دواړه یی ښکُل(مچ) کړل زینت د ساحل په فارغه کیدو ډیره خوشحاله سوه ساحل خپل ټولې جایزې او مډالونه زینت ته ورکړل او ویویل: زینت! ددي ټولو جایزو اصلی حقداره ته یی که تا زه پوهنتون او درس ویلو ته نه وای استولی نو نن به ما دا جایزې او مډالونه نه وای تر لاسه کړی،

زینت وویل: ساحل ته هر وار د خپل لیاقت لامل ما ولی بولی دا خو ستا خپل لیاقت وو چی ته یی دي ځای ته ورسولی،

ساحل وویل: خو ددي لیاقت د راویښلو لامل همدا ته وی زینت اوس ژر کوه زما تحفه راکه زه خپل تحفه غواړم زه ددي تحفی د تر لاسه کولو لپاره دومره ژر راغلم چی یاد یی هم نه کیږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زينت وويل: ښه؟! او که يی زه نه درکم نو؟

په دي سره د ساحل تندی ګونځی سو او ولاړی پر چوکی کښينستی زينت موسکی سوه او ورغله د چوکي د شا لخوا يی پر ساحل لاسونه راوګرځول او ويويل: مينه در سره لرم،

ساحل موسکی سو او د زينت لاسونه يی ټينګ ونيول او ښکُل يی کړل،

ساحل و زينت ته وويل: زينت ته کله به می ستا د مور او پلار سره معرفی کې؟

زينت وويل: ته د هغو سره نه سی ليدلای هغوی زيات مصروفه وی ما ته هم وخت نه لری هغه زيات وخت د هيواد څخه بهر وی،

ساحل وويل: زينت! ستاسو کور چيريدی ماته يی نه را ښکاره کوی؟

زينت موسکی سوه او ويويل: ساحل! زما کور خو همدا کلاء ده،

ساحل موسکی سو او ويويل: مسخری کوی که دا ستا کور وی نو بيا ته هره ورځ چيری ځی؟

زينت موسکی سوه او ويويل: خير ته دا پريږده که ته غواړی چی زما د مور او پلار سره ووينی نو زما يو کار به کوی،

ساحل وويل: څنګه کار؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینـــت موســـکی ســـوه او ویویـــل: اســـانه دی وارخطـــاء کیږه مه ووایه کوی یی؟

ساحل وویل: ته خو ووایه چی ځنګه کار دی؟؟

زینــت ویــل: ســاحل! تــا پوهنتــون ووایــه او غــوره مقــام دی خپــل کــړ اوس کــه تــه د خپــل لیاقــت او د پوهنتــون ویلــو څخــه ګټــه وانخلــی نــو پوهنتــون او غــوره مقــام ګټــل ســتا لپــاره بــی فایــدی ســول تــه د اقتصــاد پــوهنځی څخــه فارغــه ســوی یــی زه غــواړم چــي تــه یــو کاروبــار شــروع کــې او خپــل ځــان تــر یــوه ځایــه پــوری ورســوی نــو زه بــه پــه ویــاړ ســره تــا و خپــل مــور او پــلار تــه ور معرفــی کــم زه خــو پــه هــر حــال پــه تــا ویــاړم خــو بابــا مــی هتمــاً دا پوښــتنه کــوی چــی ســاحل څــه کــار کــوی نــو زه بـــه پـــه ویـــاړ ورتـــه ووایـــم چـــی تـــه د اقتصـــاد پوهنځیڅخه فارغه سوی یی او اوس تجارت کوی،

ســـاحل موســـکی ســـو او ویویـــل: زه او تجـــارت؟ زینـــت تـــه خـــو پـــوهیږی چـــی زمـــا پـــه جیـــب کـــی د مـــوټر د کرایـــی پیســـی لا نســـته نـــو زه تجـــارت پـــه څـــه شـــی شروع کم،

زینــت ویــل: ددي حــل لاره هــم مــا درتــه لټــولی ده زمــا د اکــا زوی پــه بانــک کــی مــدیر دی هغــه بــه تاتــه د څــه وخــت لپــاره پیســی پــه قــرض درکــې تــه خپــل کاروبــار پــه شــروع کــه چــی پیــدا دی کــړی بیابــه یــی بیرتــه ورکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: خو......

زینت په خبره کی ور ګډه سوه او ویویل: خو مو یی پریږده ته به ژر تر ژره ځی او کاروبار به پیلوی،

ساحل وویل: دومره ژر بیا ولاړ سم خو یوه ورځ یی کیږی چی راغلی یم،

زینت وویل: ته ولاړ سه زه هم یو میاشت وروسته پسی درځم،

ساحل وویل: سمده خو دوې ورځې وروسته ځم اوس نه،

ساحل دوې ورځې د زینت سره تیری کړی وروسته یی د زینت څخه خدای په امانی واخیستی او روان سو خو زینت د شا لخوا پری ږغ وکې: ساحل بیا چی کله بانک ته ورتللی بیا د شپې لخوا ورسه ځکه چی هغه د ورځې نه وی،

ساحل حیران سو او ویویل: دا بیا څنګه بانک دی چی د ورځې نه وی د شپې وی؟

زینت موسکی سوه او ویویل: دا بیا زموږ بانک دی، وروسته ساحل د ښار پر طرف روان سو څه وخت وروسته ښار ته ورسیدی او د زینت د ورکړی ادرس مطابق د شپې د بانک په لټه روان سو د ادرس پوښتنه یی کول کول چی اخیر د بازار څخه بهر طرف ته ووتی شاوخوا یی وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

هــیخ هــم نــه معلومیــده د ډیــرو خلکــو څخــه یــی پوښــتنه وکــړه خــو هیڅــا تــه نومــوړی بانــک نــه وو ور معلــوم ساحل ډیــر ســتړی ســو او پــر ســړک ودریــدی لــږ. وروســته یــو دم یــو څــا د ســاحل د شــا لــه طرفــه وویــل: سلام!

پــه دی ســره ســاحل ډیــر وبیریــدی کلــه چــی یــی ورتــه وکتل نو یو ځوان یی شاته ولاړ وو،

ساحل وویل: وعلیکم السلام،

ځوان وویل: تاسو ساحل یاست اوه؟

ســاحل حیــران ســو او پــه حیرانــی یــی وویــل: هــو خــو تاسو ما څنګه پیژنی؟

ځوان وویل: زه حسام یم د زینت د اکا زوی،

ســاحل وویــل: اوه ښــه تاســو یاســت څنګــه یاســت جــوړ یاست پخیر یاست؟

حســام وویــل: هــو ښــه یــم ستاســو پــه اړه زینــت خــور راتــه ویلــی وه زه تاســو تــه پــه بانــک کــی انتظــار وم خــو تاســو وځنډیداســت بیــا مــی فکــر وکــړ چــی لار بــه درڅخــه ورکــه ســوی وی نــو ځکــه خپلــه درپســی راووتم،

ساحل وویل: دا ستاسو بانک جالبه نه دی؟

حسام وویل: ولی؟

ساحل وویل....... :

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــږ هــاخوا یــو کــوچنی دوکــان وو د دوکانــدار پــه ســاحل کــی فکــر ســو او ســاحل تــه یــی ډیــر حیــران حیــران کتــل د ســاحل هــم ورتــه فکــر ســو چــی دوکانــدار ولــی ده تــه حیــــران حیــــران ګــــوری دوکــــان تــــه نیــــږدی بانــــک وو ســـــاحل او حســـــام دواړه ورننوتـــــل دوکانـــــدار ســـــاحل تـــــه کتــل خــو یــو دم بــی ســده ســو او پــه دوکــان کــی راچپــه سو،

کلــه چــی ســاحل او حســام دواړه بانــک تــه ننوتــل نــو د بانــک کــارکونکو ټولــو کــار پریښــوی او ســاحل تــه یــی پــه خلاصــه خولــه حیــران حیــران کتــل ســاحل هــم حیــران ســو چــی دوی ولــی زمــا پــه لیــدو دومــره حیــران ســول بیــا حســام د ســاحل پــه پټــه کــارکونکو تــه اشــاره وکــړه چــی کــار مــو کــوی هغــوی بیرتــه خپــل کــار شــروع کــړ حســام ســاحل خپــل دفتــر تــه بــوتلی هلتــه یــی بانــډار شــروع کــړ او د څــه وخــت وروســته یــی ســاحل تــه څــو بســتې پیســې ورکــړی پیســې ډیــری زیــاتی وی ســاحل حیــران ســو او ویویــل: یــاره ټــول ښــار نــه رانیســم چــی دومــره زیــاتي پیســې راکــوی صــرف یــو کــوچنی فابریکــه جــوړوم چــی یــو لــږ انــدازه پیســو تــه ضــرورت لرم،

حســام موســکی ســو او بیــا یــی وویــل: ســاحل**!** دا پیســې ټــولې در ســره واخلــه چــی هــر څــومره دی پکــار ســوی هغه مصرف که چی پاته سوې هغه به بیرته راکې،

ساحل وویل: خو حسام دا بیخې زیاتی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسام وویل: نه دي زیاتې ته دا در سره واخله که دی نورو ته ضرورت سو نو بیا ماتهووایه،،،

ساحل وویل: سمده خو حسام زه د ضمانت لپاره داسی څه نه لرم چی تاسو ته یی په ضمانت کی درکم،

حسام موسکی سو او ویویل: ساحل دا تاسو څنګه خبری کوی زه به ستاسو څخه ضمانت غواړم!؟

ساحل وویل: حسام زما او ستا خپلوی او انډیوالی بیله ده مګر کاروبار بیل په کاروبارو کی ملګری نه چلیږی،

حسام وویل: ساحل! خپل او ملګری هم راته وایی او بیا د ضمانت راته وایی او پردی کوی می؟

ساحل وویل: خو حسام...

حسام یی خبره قطعه کړه او ویویل: ساحل زه ستا یوه خبره بله نه اورم ته دا پیسې در سره واخله که دی نورو ته ضرورت سو ماته ووایه،

ساحل وویل: مننه حسام،

ساحل ولاړ سو او د حسام څخه یی خدای په امانی اخیستی خو حسام وویل: ساحل درځه زه به دی تر کوره ورسوم،

ساحل وویل: نه نه مننه حسام زه خپله ځم تاسو تکلیف مکوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسـام وويـل: سـمده خـو درځـه تـر دروازی بـه در سـره ولاړ سم،

کلـه چـی سـاحل او حسـام د دفتـر څخـه ووتـل نـو د دفتـر کـارکونکو ټولـو سـاحل تـه د سـترګو تـر بغلـو کتـل ساحل هـم ډیـر حیـران وو او فکـر یـی پـه دوی کـی وو کلـه چـی د بانـک دبانـدي ووتـل نـو سـاحل د حسـام څخـه خـدای پـه امـانی واخیسـتی او مـخ د ښـار پـر طـرف رهـی سـو کلـه چـی د هغـه مخکینـی دوکانـدار و دوکـان تـه چـی ساحل تـه یـی حیـران حیـران کتـل ورسـیدی نـو سـاحل ولیـدل چـی هغـه دوکانـدار لا بـی سـده وو سـاحل ژر اوبـه واخیسـتی او د هغـه پـر مـخ یـی ور وپاشـلی څـه وخـت وروسـته هغـه پـه سـد کـی راغلـی خـو کلـه چـی یـی سـاحل تـه وکتـل نـو یـو دم یـی وځغسـتل او نـارې یـی کـړی چـی هلـه خلکـو پیـری دی پیـری دی.... سـاحل ډیـر حیـران سـو فکـر یـی وکـې چـي شـاید دا سـړی لیـونی وو، وروسـته سـاحل پـر خپلـه لار روان سـو کلـه چـی سـهار سـو نـو یـی د شـهاب سـره ولیـدل او ورتـه یـی وویـل: شـهاب! زه غـواړم چـي یـو فابریکـه جـوړه کـم سـتا پـه انـد کـم کـار بـه ډیـره ګټـه وکې؟؟

شهاب وویل: ساحل ته مسخری کوی؟

ساحل وویل: زه جدی یم یاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: ساحل نو ته به پیسی د کومه کوی نه خو ستا سره دومره پیسی سته چي فابریکه په جوړه کې او نه هم زما سره سته،

ساحل وویل: شهاب! ته د پیسو فکر مکوه زما سره ډیری پیسې سته چی یوه نه دوې فابریکې په جوړولای سم،

شهاب وویل: ساحل تا خو به کم بانک نه وی چور کړی؟

ساحل موسکی سو بیا یی وویل: همداسی فکر وکه،

شهاب وویل: نه ته رښتیا ووایه چی د کومه دي کړی پیسې؟

ساحل وویل: د یو ملګری څخه می په قرض واخیستی خو ته دا پریږده ته راته مشوره راکه چی څنګه فابریکه جوړه وو؟

شهاب وویل: نه پوهیږم یاره خو تا اقتصاد پوهنځۍ ویلی ده زه خو د عامه اداري د څانګی څخه فارغه سوی یم،

ساحل وویل: باید داسی یو فابریکه جوړه کړو چی د نورو فابریکو په اندازه یی فابریکې لږ وی او تولیداتو ته یی په بازار کی ډیره اړتیا وی ستا په فکر داسی فابریکه به د څه شی وی چي تولیدواتو ته یی د بازار زیاته تقاضاء وی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: نه پوهیږم یاره،

ســـاحل وویـــل: د بِســـکوټو کمپنـــۍ ځنګـــه ده داســـی کمپنـــۍ تر اوسه زموږ او ستاسو په ښار کی سته هم نه؟

شــهاب وویــل: دا خــو ډیــر ښــه نظــر دی خــو یــاره تــه بــه ددې کمپنۍ لپاره ماشینونه د کومه کوی؟

ســـاحل وویـــل: انلایـــن رانیـــول کیـــږی زمـــوږ تـــر ښـــاره یـــی را رســـوی او همدلتـــه یـــی خپـــل انجینـــران را نصبوی هم،

ســـاحل د بِســـکوټو انلایـــن ماشـــینان رانیـــول او نصـــب یـــی کـــړل کلـــه چـــی نصـــب ســـول نـــو د پرانیســـتلو لپـــاره ســـاحل خپـــل ټـــول ملګـــري دعـــوت کـــړی وه او د پرانیســـتلو پټـــۍ یـــی پـــه ګـــډه ســـره پریکـــړل او ماشـــینان یـــی چلانـــده کـــړل د څـــو ورځـــو وروســـته یـــی د لـــومړی ځـــل لپـــاره څـــو کارټنـــه بِســـکوټ جـــوړ کـــړل او پـــه مـــوټر کـــی یـــی بـــار کـــړل ســـاحل و بـــازار منـــدونکی تـــه وویـــل: کلـــه چـــي دی بِســـکوټ بـــازار تـــه ویـــوړل نـــو پـــه خپـــل وربانـــدی مصـــرف ســـوی نـــرخ یـــی ورکـــه تـــر څـــو ډیـــر پیرودونکي پیدا کړو،

د څـــو ورځـــو وروســـته د ســـاحل بِســـکوټو ډیـــر پیرودونکـــي پیـــدا کـــړل او وار پـــه وار یـــی پیرودنکـــي زیاتیـــدل مخکـــي بـــه یـــو نفـــر بـــازار منـــدونکی وو خـــو د درو اوونیـــو وروســـته بـــازار منـــدونکي ډیـــر زیـــات ســـول چـــي هغـــوی هـــم پـــه پیرودونکـــو نـــه رســـیدل وروســـته بـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرودونکـــي کمپنـــۍ تـــه ورتلـــل او بِســـکوټ بـــه یـــی رانیـــول ســـاحل اداريِ کارونـــه تـــول شـــهاب تـــه وســـپارل شـــهاب هـــم پـــه ښـــه توګـــه خپـــل وظیفـــه ســـرته رســـول، ســـاحل څـــه وخـــت وروســـته د ګرځیـــدلو لپـــاره مـــوټر رانیـــوی او دی او شـــهاب بـــه پکښـــی ګرځیـــدل د ســـاحل کمپنـــۍ ډیـــره مشـــهوره ســـوه او زیـــات کـــاریګر یـــی پـــه کـــار وګمـــارل رســـنیو بـــه کلـــه کلـــه د ســـاحل ســـره مرکـــې کـــولی او د هغـــه د ژر پرمختـــګ پـــه اړه بـــه یـــی پوښـــتنې ځنـــی کـــولی، د ســـاحل پـــلار او ورونـــه تـــول بیکـــاره ســـوی وه دوی د ســـهار ناشـــته کـــول د ســـاحل یـــوه ورور ورځپانـــه ویـــل او بیـــا یـــی یـــو دم وویـــل: بابـــا! بابـــا! هلـــي دلتـــه راســـی، دوی چـــی کلـــه ورغلـــل نـــو هغـــه وویـــل: بابـــا تاسو ورته وګوري څومره غټه کمپنۍ ده،

پـــلار یـــی وویـــل: بـــی عقلـــه زه کمپنـــۍ څـــه کـــوم چـــي دومـــره تیـــزه نـــاره دي راوکـــړه مـــا چـــي ویـــل څـــه پـــیښ سوه،

زوی یـــی وویـــل: بابـــا تـــه وګـــوره چـــي ددي کمپنـــۍ مشـــر څوک دی،

پـــلار یـــی عینکـــۍ پـــر ســـترګو کښیښـــولی او ورځپانـــه یـــی ځانتـــه ونیـــول کلـــه چـــی یـــی پـــر خـــط ســـترګې ولګیـــدی نـــو ویلیـــدل چـــي راغلـــی وه: ددې کمپنـــۍ مشـــر ښـــاغلی ســـاحل دی چـــي پـــه لـــږ وخـــت کـــی یـــی زیـــات پرمختـــګ وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساحل پلار ډیر حیران سو بیا یی ژر دوهمه پاڼه راواړول نو هلته یی د ساحل عکس هم ولیدی ډیر حیران سو او بیا یی تر سترګو اوښکې وبهیدی او یو دم یی د ساحل مور ته ور ناره کړه: ښځی؟ ښځی؟،

د ساحل مور وویل: ها څه وایی؟

د ساحل پلار ورځپاڼه وروړل او هغی ته یی د ساحل عکس ور ښکاره کړ، د ساحل مور ډیره حیرانه سول تر سترګو یی اوښکې وبهیدی او بیا یی وویل: دا خو ساحل دی،

د ساحل پلار وویل: هو خو ته ورته وګوره دا لویه کمپنی زموږ د زوی ده ورځپاڼی ولا یی زیات صفتونه کړیدی،

د ساحل د مور او پلار تر سترګو زیاتی اوښکې بهیدی،

ساحل د زینت د راوستلو لپاره کلی ته روان سو او زینت یی د کلی څخه ښار ته په خپل موټر کی راوستل او بیا یی خپل دفتر ور ښکاره کړ زینت ډیره خوشحاله وه ساحل زینت پر چوکی کښینول او خپله لاندي ورته کښینستی د زینت لاس یی په لاس کی ونیوی او بیا یی ورته وویل: زینت دا ټول ستا لکبله که چیری تا زما سره مرسته نه وای کړی نو نن به زه دي ځای ته نه وای را رسیدلی، ساحل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینت ته خپل د زړه حال وایه چي په دي وخت کی دفتر ته چوکیدار راننوتي کله چي چوکیدار دفتر ته ننوتی نو ډیر حیران سو او د حیرانتیا څخه یی ناری تیری کړی،

ساحل په غوسه سو او بیا یی وویل: بل وار زما دفتر ته بی اجازی مه راځه،

چوکیدار وویل: وبخښه صاحبه دباندي یو د ډیر عمر سړی راغلی دی وایی چی زه د ساحل پلار یم او څو ځوانان هم ور سره دی،

ساحل ډیر حیران سو او ژر یی د دفتر د کلکین څخه دباندي وکتل نو ویلیدل چی دده پلار او ورونه وه ساحل ډیر حیران او خوابدی سو او بیا یی د ځان سره وویل: اوس یی فیاد سوم،

ساحل چوکیدار ته وویل: ورسه ورته ووایه چي زه په دفتر کی نه یم او بیا دلته مه راځی،

چوکیدار وویل: سمده صاحبه،

کله چی چوکیدار ولاړی نو زینت هم ولاړه سوه او د دفتر په کلکین کی یی د ساحل ورونو او پلار ته وکتل هغوی ډیر ستړی او ناچاره معلومیدل زینت هغوی ته کتل او بیا یی ساحل ته وویل: تا ولی هغه نه را پریښول؟

ساحل وویل: زینت! زما اوس هم تیر وختونه فیاد دی چي زما ورونو زما سره څومره ظلمونه وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مـــی هـــم فيـــاد دی چـــي پـــلار مـــی د کـــوره پـــوری وهلـــم او دروازه يـــی راتـــه وتـــړل ورونـــو خـــو مـــی داســـی چلند را سره کوی لکه د يو پردی سره،

زينت وويل: ساحل! هغه ستا ورونه نه دی،

پـــه دی ســـره ســـاحل ډيـــر حيـــران ســـو او زينـــت تـــه يـــی وويل: تا څه وويل؟

زينت وويل: هغه ستا ورونه نه دی،

ســـاحل حيـــران حيـــران زينـــت تـــه کتـــل او بيـــا يـــی وويـــل: زينت ته په هوښ کی يی؟

زينـــت وويـــل: هـــو ســـاحل هغـــه ســـتا ورونـــه نـــه دی هغـــه ســـتا د اکـــا زامـــن دی ســـتا اکـــا او د هغـــه ښـــځه پـــه يـــو ترافيکـــی پيښـــه کـــی مـــړه ســـول ســـتا د اکـــا زامنـــو بـــل څـــوک نـــه درلـــودل چـــی ددوی روزنـــه يـــی کـــړی وای بيلـــه ســـتا د مـــور او پـــلار ماســـيوا کچيـــری ســـتا مـــور او پـــلار هغـــه يـــوازی پـــری ايښـــی وای نـــو هغـــه بـــه مـــړه ســـوی وای يـــا بـــه هـــم کوڅـــه ډبـــي ځنـــی جـــوړ ســـوی وای،

ســـاحل پـــه حيرانـــی وويـــل: زينـــت تـــه پـــه دي څنګـــه خبـــره يی؟

زينـــت وويـــل: ســـاحل ســـتا مـــور او پـــلار ســـتا ســـره ډيـــره مينه لری،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: زینت ته درواغ وایی که هغوی زما سره مینه کولای نو زه به یی داسی په پوري وهلو د کوره نه ایستلای،

زینت وویل: ساحل! ستا مور او پلار د کوچنیوالی څخه دا کوښښ کوې چی تا ښه تربیه یی کړی چی ته باید خپله خپل ځان راپورته کړی او خپل پر پښو ودریږی هغوی ته ځکه د کوره پسی واخیستی چی ته د ستونزو سره عادت سی او ستونزې دی چی چاته لوړ مقام ورکوی هغوی ته په دي نیت د کوره و ایستلی ځنی وخت د مور او پلار زیاته مینه اولاد خرابوی سُست او کهاله یی اوموخته کوی هغوی نه غوښتل چی ته داسی سی هغوی به ستا په جدایی کی هر شپه ډیر ژړل،

د ساحل د زینت خبری ربښتیا ونه ګڼلی نو په ځغاسته د دفتره ووتی تر څو د پلار څخه حقیقت وپوښتی خو چی دباندی ووتی هلته یی پلار او ورونه نه وه ساحل چوکیدار ته وویل: هغه سړی او هغه ځوانان څه سول؟

چوکیدار وویل: صاحب هغه خو ولاړل،

ساحل وویل: کومی خواته؟

چوکیدار وویل: داسی د پارک وخواته وګرځیدل،

ساحل په ځغاسته ورپسی ووتی د ساحل ورونه او پلار د پارک په بغل کی روان وه د ساحل پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړی سو نو یی زامنو ته وویل: تاسو درځی زه دلته لږ وخت استراحت کوم،

زامنو یی وویل: سمده بابا،

د ساحل ورونه ولاړل او د ساحل پلار په پارک کی پر یو چوکۍ کښینستی لږ وروسته ساحل هم پارک ته را ورسیدی شاوخوا یی وکتل څوک نه معلومیدل چی لږ مخته ولاړی نو یی پلار ولیدی چی پر چوکۍ ناست دی ساحل په ځغاسته ورغلی او د پلار مخته ودریدی او په ستړی اواز یی ورته وویل: سلیم، محمود، وصال زما څه دی،

پلار یی د ساحل په سترګو کی په حقیقت پوهیدل لیدل نو یی ورته وویل: هغه ستا د اکا زامن دی،

د زینت یوه خبره خو رښتیا سوه د ساحل تر سترګو اوښکي بهیدی بیا یی وویل: تا زه د کوره ولی پسی واخیستم؟

پلار یی وویل: ځکه چی ما غوښتل چی ته خپله خپل ځان پر پښو ودروی او ته د ستونزو سره ځان بلد کړی تر څو یو وخت یو مقام تر لاسه کې،

د ساحل تر سترګو نوري اوښکي وبهیدی او په ژړا یی وویل: ایا دا فکر مو نه کوی چی بی تاسو به زه څنګه ګزاره وکم بیله تا او موره به زه څنګه ژوند تیروم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلار تر سترګو يې هم اوښکې راغلې او ويې ويل: زويه ته نه يې خبر چي ستا د تللو سره به هره ورځ پر مور داسې تيريدل لکه په زندان کې چې يو څو څه مو کړي وای که مو داسې نه وای کړي نو تا به هيڅکله روښانه راتلونکی نه وای پيدا کړی،

ساحل پلار په غيږ کې ونيوی او په ژړا يې ورته وويل: بابا ته پر ما نه يې ګران،

پلار يې هم ساحل په غيږ کې ټينګ ونيوی او پر تندی او مخ يې مچوی(ښکلوی) وروسته دواړه د کور پر خوا روان سول د ساحل مور د لمانځه پر ځای ناسته وه او دعا يې کول چې ساحل ورغلی او د شا له خوا يې مور په غيږ کې ونيول مور چې يې کله لاسو ته وکتل نو وپيژندی چې ساحل دی نو يې په ژړا د ساحل لاسونه راپورته کړل او مچ يې کړل د مور سره تر روغبړ وروسته يې ورونه يعنې د اکا زامن يې راغلل او ټولو په غيږ کې سره ونيول تر څه بانده وروسته ساحل روان سو مور يې ورته وويل: چيرې ځې زويه،

ساحل وويل: مور هلته په دفتر کې يو څوک راته په انتظار دی بيرته ژر راځم،

مور يې وويل: سمده زويه ورسه،

ساحل په ځغاسته دفتر ته راغلی زينت ورته انتظار وه ساحل چې کله دفتر ته ننوتی نو يې زينت د مننې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه غیــږ کــی ونیــول او ورتــه یــی وویــل: ډیــره مننــه ډیــره مننــه زینــت ســتا لکبلــه نــن زه د خپلــی کــورنۍ ســره یــو ځــای ســوم تــا زه پــه حقیقــت خبــر کــړم خــو زینــت تــا نــه راتــه وویــل چــی تــه ځنګــه پــوه ســوی چــي زمــا ورونــه زمــا د اکــا زامــن دي او زمــا پــلار پــه مــا کــی د وړتیــا پیــدا کولــو لپــاره زه د کــوره وایســتم تــه پــه دي څنګــه خبره یي؟

زینـــت حیـــران د ســـاحل ســـترګو تـــه کتـــل او بیـــا یـــی وویل: ساحل هغه زه... ،

زینــت خبــره پــوره کــړی نــه وه چــي پــه دی وخــت کــی د دفتـــر دروازه وټکیـــدل ســـاحل د دننـــه ورتلـــو وویـــل ګـــوری چـــی چوکیـــدار وو هغـــه وویـــل: وبخښـــي صـــاحب پـــه انتظـــار ځـــای کـــی یـــو انجلـــی ناســـته ده غـــواړی ستاسو سره ووینی،

ساحل وویل: انتظار یی که زه اوس مصروف یم،

ســـاحل د زینـــت د چـــوکۍ مختـــه ناســـت وو چوکیـــدار د زینـــت چـــوکۍ تـــه وکتـــل او ډیـــر حیـــران ســـو او بیـــا پـــه حیرانی له دفتره ووتی،

لـــږ وروســـته کمپنـــۍ تـــه شـــهاب راننـــوتی ویلیـــدل چـــی د ســـاحل د دفتـــر څخـــه چوکیـــدار را روان وو شـــهاب و چوکیـــدار تـــه ور نـــاره کـــړه چـــی دلتـــه راســـه کلـــه چـــی هغـــه ورتـــه راغلـــی نـــو شـــهاب ورتـــه وویـــل: د کمـــه ځایـــه څخه راغلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوکیدار وویل: ساحل صاحب ته یو انجلۍ په انتظار ځای کی ناسته ده ما ساحل صاحب ته وویل خو ساحل صاحب ویل چی زه مصروفه یم،

شهاب د انتظار ځای و خواته ورغلی چی وګوری څوک انتظار ده کله چی هلته ورغلی نو ویلیدل چی زهرا په زړو کالو او زهیره څیهره په انتظار ځای کی ناسته وه شهاب ډیر حیران سو او بیا یی زهرا ته سلام ووایه وروسته تر روغبړ شهاب وویل: تاسو دلته؟

زهرا وویل: زه وظیفۍ ته اړتیا لرم خبره سوم چی تاسو یو خزاندار ته ضرورت لری که تاسو هغه وظیفه ما ته راکړی نو احسان به مو وی راباندي،

شهاب حیران سو او بیا یی وویل: تاسو دا وظیفه د ځان لپاره غواړی؟

زهرا وویل: بلی هو،

شهاب حیران وو چي د دومره لوی چارواکی لور څنګه دلته د وظیفۍ لپاره راغلي ده بیا یی وویل: سمده راځي زه به د ساحل سره خبری وکم د کمپنۍ مالک ساحل دی,

شهاب او زهرا د ساحل د دفتر خواته روان سول کله چی دفتر ته ورسیدل نو شهاب غوښتل د دفتر دروازه خلاصه کي خو دروازه د دننه خوا څخه بنده وه شهاب کوښښ وکي خو دروازه خلاصه نه سول شهاب ډیر حیران سو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یی زهرا ته وویل: ساحل لکه چی ډیر مصروف دی یا به هم بیده سوی وی د شپی لخوا زیات وخت ناست وی تاسو راځئ زما دفتر ته،

زهرا وویل: که تاسو مصروف یاست زه به بیا بل وخت راسم،

شهاب وویل: نه نه راځئ مهربانی،

زهرا او شهاب دفتر ته ننوتل شهاب وویل: تاسو څه څیښنی چای که یخی اوبه،

زهرا وویل: نه چای نه کوم،

شهاب زهرا ته یخي اوبه ورکړی زهرا هم تری مننه وکړه وروسته شهاب خپل پر چوکیکښینستی او خپل کمپیوټر یی چلانده کې او د کمپنۍ د ښار کیمرې یی په راوستلی شهاب د ساحل د دفتر عکاسی راوستل څه وخت یی ورته کتل او بیا ډیر حیران سو سترګې یی غټې کړی او په زیر زیر یی د ساحل دفتر ته کتل،

زینت وویل: ښه نو ساحل زه باید اوس ولاړه سم،

ساحل وویل: زه دی رسوم تر کوره پوری ځکه چی ما راوستلی یی،

زینت وویل: نه نه مننه زه یو وار د اکا کورته ورځم پر هغه باندی پوښتنه کوم بیا د هغه ځایه ځم،

ساحل وویل: خو د اکا تر کوره به دی زه ورسوم؟

زینت وویل: نه هغه دلته نیږدی دی زه خپله تلای سم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: سمده مخته ته دی ښه پر الله دی سپارم،

زینت د ساحل ښځه خدای په آماني واخیستې او ولاړه ساحل هم د څه وخت وروسته د دفتر ښځه ووتی کله چې د دفتر ښځه ووتی نو د شهاب سره مخ سو ساحل د شهاب په لیدو ډیر خوشحاله سو او ورته یی وویل: اوه ته څه وخت رالې یاره،

شهاب د خوابدی پڅیره ورته وویل: بس یو څه وخت کیږی چې رالم ته څنګه یی؟

ساحل موسکی موسکی کیدی او ویویل: بیخی ښه یم یاره ته څنګه یی؟

شهاب وویل: ښه یم خو ته نن ډیر خوشحاله معلومیږی څه خبره ده؟

ساحل موسکی سو او ویویل: هیڅ خبره نه ده بس داغسی خوشحاله یم،

شهاب وویل: ساحل هغه د خزاندار وظیفه چې موږ اعلان ته سپارلی وه د هغې وظیفې لپاره زهرا راغلی ده وایی هغه وظیفه ما ته راکې،

ساحل حیران سو او ویویل: زهرا راغلی ده؟

شهاب وویل: هو یاره هغه دا څو ساعته کیږی تاته په انتظار ځای کی انتظار وه بیا ما غوښتل چې ستا دفتر ته یی درولم خو ستا د دفتر دروازه تړلی وه بیا ما خپل دفتر ته راوستل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل په حیرانی سره د شهاب د دفتر خواته ورغلی ویلیدل چی زهرا هلته انتظار وه زهرا د ساحل په لیدو ژر ولاړه سوه او ساحل ته یی سلام ووایه ساحل په حیرانی سره زهرا ته کتل او بیا یی د سلام جواب ورکړ او ورته یی وویل: کښینه مهربانی،

کله چی ساحل د شهاب دفتر ته ننوتی نو شهاب ژر د ساحل دفتر ته ولاړی او هلته یی په حیرانی شاوخوا کتل،

زهرا وویل: هغه تاسو په اخبار کی یو وظیفه اعلان کړی وه که تاسو هغه وظیفه ماته راکې نو مهربانی به مو وی،

ساحل په حیرانی وویل: تاسو یی د ځان لپاره غواړی دا وظیفه؟

زهرا وویل: بلی هو،

ساحل وویل: سمده تاسو سر د سبا څخه وظیفی ته راسی،

زهرا په زهیره لهجه وویل: ډیره مننه،

وروسته زهرا ولاړه او شهاب دننه دفتر ته راننوتی او ساحل ته یی وویل: ساحل خبری دی ور سره وکړی؟

ساحل وویل: هو،

شهاب وویل: نو وظیفه دی ورکړه؟

ساحل وویل: هو ما ورته وویل چی سر د سبا څخه دی وظیفی ته راځه خو یاره په یو خبره می سر نسو خلاص چی د دومره غټ سړی د لور څخه څنګه داسی غریبه انجلۍ جوړه سویده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: زه هم دي ځای ته فکر وړی یم یاره،

ساحل وویل: خامخا یو کیسه پیښه سویده خو خیر موږ یی څه کوو ته راته ووایه چی د هغه قراردادیانو سره دي خبری وکړی؟

شهاب وویل: هو خبری می ور سره وکړی خپل محصولات مو ورته تشریح کړه د هغو زموږ تولیدات ډیر خوښ سول او د پنځو کالو قرار داد یی را سره وکې،

ساحل ډیر خوشحاله سو او ویویل: ډیر ښه نو قرار داد دی ورسره لاسلیک کې؟

شهاب وویل: ساحل د فابریکی مشر ته یی نو ته به یی لاسلیک کوی،

ساحل ډیر خوابدی سو او ویویل: شهاب دا فابریکه زما او ستا په دواړو ده ځکه چی ته زما تر ټولو ښه ملګری یی دلته ته هم د هر څه صلاحیت لری بل وار په داسی خبرو سره زما زړه مه را ماتوه،

شهاب موسکی سو د ساحل لاس یی په لاس کی ونیوی او ویویل: خو یاره دا هر څه خو ستا په زیار تا تر لاسه کړیدی نو ددې د امتیاز څښتن هم ته یی،

ساحل وویل: ددی فابریکی په جوړیدو او پرمختلو کی تا راسره مرسته کړیده زه نورې خبری نه اورم ونیسه قرار داد امضاء که او ژر یی ور وړه چي پر مخ ولاړ سو،

شهاب وویل: خو ساحل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل یی خبری ور پری کړی او ویویل: خو خو پریږده قرار داد امضاء که هله،

شهاب موسکی سو او بیا یی قرار داد امضاء کړ،

د ساحل فابریکی ډیر پرمختګ وکړ څو چي نورې فابریکې یی هم جوړی کړی پلار او ورونه یی ټول پر وظیفو ودرول یوه ورځ شهاب په خپل دفتر کی ناست وو چی یو دم یی هغه ورځ ذهن ته راغله په کمه ورځ چی زهرا د وظیفی لپاره راغلی وه چي ده د ساحل د دفتر دروازه ور وټکول خو هغه بنده وه بیا یی د هغې ورځې د ساحل د کوټې عکاسی وکتل شهاب ډیر پریشانه سو بیا یی هغه چوکیدار راوغوښتی چی په هغه ورځ د ساحل د دفتر څخه راوتلی وو کله چی هغه راغلی نو شهاب ورته وویل: زه غواړم ستا څخه یو پوښتنه وکم خو ګوره چي ساحل در څخه خبر نه سی که خبر سو نو ته به دي خپله وظیفه د لاسه ورکې،

چوکیدار وویل؛ سمده صاحب نه به خبریږی،

شهاب وویل: هغه ورځ ستا پیاد ده چی زموږ خزانداره زهرا ساحل صاحب ته په انتظار ځای کی انتظار وه هغه د وظیفی لپاره چی راغلی وه؟

چوکیدار وویل: هو هو صاحب پیاد می سوه،

شهاب وویل: په هغه ورځ د ساحل صاحب دفتر ته ته څو واری ورغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوکیـــدار وویـــل: دوه واری ورغلـــم یـــو واری د ســـاحل صـــاحب پـلار او ورونــه راغلــی وه د هغــو پــه اړه ورغلـم او بیا د زهرا اغلې په اړه ورغلم،،

شـــهاب وویـــل: پـــه هغـــه ورځ د ســـاحل صـــاحب ســـره نـــور څوک وه په دفتر کی،

چوکیدار وویل.............................. :،

شـــهاب ډیـر حیـران سـو سـترګې یـی وپړسـیدلی بیـا یـی پـه حیرانـی سـره چوکیـدار تـه وویـل: ښـه ورسـه خـو ګـوره چـي په دی اړه چاته ونه وایی،،

چوکیدار وویل: سمده صاحب،

شهاب د ځان سره وویل: زما شک صحی وو،

شـهاب ژر د سـاحل د کـوټې عکاسـی خپـل موبایـل تـه ولیـږل او پـه مـوټر کـی سـپور سـو او د سـاحل د کـور پـر طـرف رهـی سـو کلـه چـي هلتـه ورسـیدی نـو سـاحل هـم د کـور څخـه د دفتـر پـر خـوا روان وو شـهاب خپـل مـوټر شـاته کـړ او د سـاحل څخـه پـټ سـو کلـه چـی سـاحل ولاړی نـو شـهاب د سـاحل کورتـه دننـه سـو کلـه چـی هلتـه ورسـیدی نـو د سـاحل د مـور او پـلار سـره یـی روغبـړ وکـړ او بیـا کښینسـتی شـهاب ډیـر پریشـانه وو بیـا یـی د سـاحل مـور او پـلار تـه وویـل: بابـا په کور کی نور څوک سته؟

د سـاحل پـلار وویـل: څـوک نسـته یـوه د کـور مـزدوره ده هغـه په اشپز خانه کی لوښې پریولی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وويل: بابا زه غواړم تاسو ته يو خبره وكم خو تاسو دباندي راسی،

د ساحل مور او پلار ډير حيران سول او بيا د شهاب سره دباندي ووتل د ساحل پلار وويل: خير دی زويه څه خبره ده؟

شهاب ډير وارخطاء وو او بيا يی وويل: بابا زه غواړم تاسو ته يو خبره وكم خو تاسو وعده را سره وكې چي ساحل به زما تر ويلو پوری نه خبروئ؟

د ساحل پلار وويل: سمده زويه نه يی خبرؤ خو څه خبره ده خيريت خو به وی،

شهاب وويل: بابا................................ ،

د ساحل د مور او پلار سترګې وپړسيدلی او مخان يی تک سره سوه بيا ساحل د خپل جيب څخه تليفون را وايستی او عكاسی يی ور ښكاره كړه په دی سره د ساحل مور او پلار نور هم حيران سول بيا شهاب وويل: بابا تاسو په دی خبره ساحل تر هغه وخته مه خبرؤی چی زه درته ونه وايم،

د ساحل د مور تر سترګو اوښكې راغلی او د ساحل پلار ته يی وويل: دا ټول ستا لكبله رامنځته سول كچيری تا په هغه ورځ ساحل د كوره نه وای ايستلی نو نن به زموږ زوی دومره په لوی مصيبت كی نه وای اخته سوی،،،

د ساحل د پلار تر سترګو هم اوښكې راغلی او بيا يی شهاب ته وويل: زويه ددي حل لاره څه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: بابا زه خپل کوښښ کوم چې ساحل وژغورم خو ډیر پام به کوو ځکه چې په دی کی د مرګ ویره هتمن سته د مرګ امکان هلته زیاتیدای سی چې په دی خبره ساحل خبر سی،

د ساحل پلار د شهاب په پښو کی ور ولویدی او په ژړا یی ورته وویل: زویه هیله کوم زما زوی وژغوره هغه زموږ یوازینی زوی دی موږ بیله هغه بل اولاد نه لرو،

شهاب په دی خبره ډیر حیران سو او بیا یی په حیرانی وویل: څنګه یوازینی زوی؟

د ساحل پلار وویل: هغه زموږ زوی دی موږ داغه یو زوی لرو،

شهاب وویل: او د ساحل دا نور ورونه دا ستاسو زامن نه دی؟

د ساحل پلار وویل: نه دا زما د ورور زامن دی هغه او میرمن یی په ټکر کی مړه سول دوی موږ ته را پاته سول موږ لویان کړل د زامنو پڅیر خو زموږ اصلی زوی ساحل دی،

شهاب وویل: په دی خبره ساحل خبر دی؟

د ساحل پلار وویل: هو په کومه ورځ چې زه او د اکا زامن یی دفتر ته روغلی وو په هغه ورځ یو چا ورته ویلی وه بیا یی زما څخه پوښتنه وکړه ما هم ټول رښتیا ورته وویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب حیران سو او ویویل: په کمه ورځ؟

د ساحل پلار وویل: په هغه ورځ چې زه د لومړی ځل لپاره د ساحل فابریکې ته د هغه د لیدو لپاره ورغلی وم،

ساحل حیران سو او ویویل: اوه زما شک خو نور هم لیری سو پوه سوم،

وروسته شهاب د ساحل د مور او پلار څخه خدای په امانی واخیستی او د دفتر پر خوا روان سو کله چې دفتر ته ورسیدی نو د ساحل سره یې ولیدل او د فابریکې پر موضوعاتو یې خبری سره وکړي شهاب وویل: ساحل! زه د یو څو ورځو لپاره په رخصتۍ ځم،

ساحل وویل: ولی خیریت دی ښه خو به یې کوم مشکل خو به نه وی؟

شهاب وویل: هو خیریت دی مور می د نیکه کور ته بیایم نو یو څو ورځې وخت نیسی ځکه د هغو کور ډیر لیری دی،

ساحل وویل: سمده خو په یوه شرط اجازه درکوم،

شهاب وویل: څنګه شرط؟

ساحل د دفتر د پیسو الماری خلاصه کړه او د هغه څخه یې دوې بستې پیسې را وایستلی او شهاب ته یې پر میز کښیښولی،

شهاب وویل: دا څه په وکم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: انا و نیکه ته دی یو ډالی ویسه او مور جانۍ ته میله هم ورکه،

شهاب وویل: مننه ساحل خو زما سره پیسې سته دا بیرته واخله،

ساحل وویل: شهاب ته نه یی خبر چی زه یو چاته ورکړی څه بیرته نه اخلم؟

شهاب وویل: خو ساحل دا بیخې زیاتی پیسې دی او موږ په کمپنۍ کی د قرارداد د پوره کولو لپاره زیاتو پیسو ته اړتیا لرو دا بی ځایه مه مصرفوه،

ساحل وویل: ته کمپنۍ پریږده ته ورسه رخصتۍ دی په ښه ډول تیره که زما سره زیاتی نوری پیسې هم سته په هغه به قرار داد پوره کړو،

شهاب وویل: خو ساحل..

ساحل یی خبري قطعه کړی او ویویل: ورسه یاره او پر مور جانۍ انا او نیکه می ډیر ډیر سلامونه وایه،

شهاب ساحل په غیږ کی ونیوی او بیا د کمپنۍ څخه ووتی د نیکه کور ته د مور بیول د شهاب بهانه وه شهاب چي کله د کمپنۍ څخه ووتی نو مخ د نارنج کلاء د کلی پر طرف روان سو د زیات وخت وروسته کلی ته ورسیدی ماښام وو شهاب د کلی و یو ساده هوټل ته ورغلی او ډوډی یی را وغوښتل کله چي شهاب ډوډی وخوړل نو هوټل کی څوک نه وه بیله دوو شاګردانو او دوو د هوټل د مالکانو پرته کله چی شپه تیاره سوه نو د هوټل دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالکــان د شــهاب خواتــه راغلــل د هوټــل شــاګردان هغــه دوه کســان وه چــې ســاحل بــه یــې پــه کــلاء کــې ولیــدی نــو ورتــه خنــدل بــه یــې وروســته د هوټــل د مالکــانو څخــه یــوه یــې وویــل: ځوانه د ښار رامعلومیږی؟

شهاب وویل: هو د ښار څخه راغلم،

د هوټل مالک وویل: ایا دلته مو د خپلوانو کور دی؟

شــهاب وویــل: نــه دلتــه پــه یــو حقیقــت پســې راغلــی یــم غــواړم ځانته یې معلوم کم،

د هوټل مالک وویل: د څه شي حقیقت ځوانه؟

شهاب وویل: د نارنج کلاء حقیقت؟

د هوټــل مالکــان دواړه حیــران ســول او بیــا یــې وویــل: چــپ ســه ځوانــه تــه خــو بــه پــه بــلاء واوړی ناحقــه بــه دی مــوږ لا پــه بــلاء اختــه کــړی یــو در ســره تــه نــه یــې خبــر چــې هلتــه پیریــان دی هغــوی هیڅــوک نــه پریــږدی کــلاء تــه چــې څــوک ورســی د ژونــد څکــه بیــا نســی ځنــی کــولای خــو یــو څــه وخــت مخکــې یــو ښــاری ځــوان راغلــی وو هغــه ډیــر وخــت هلتــه تیــر کــې هغــه خــو یــې مــړ نــه کــې خــو هــر څــوک چــې بــه هلتــه تیریــدل نو ویل به یې چې دا ځوان لیونی دی،

شــهاب حیــران ســو ســترګې یــې وپړســیدلی بیــا یــې پــه حیرانــې هغــو تــه د ســاحل نښــانې وویلــې هغــو وویــل: هــو هــو همــدا ځوان وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هوټـل شــاګردان د ســاحل د نښــو پــه ليـدو ډيـر حيـران سـول او بيــا يـــی پـــه رږديـــدلی اواز وويـــل: د خـــدای و روی تـــه وګورئ د هغه ځوان نوم مه يادوی،

شهاب په حيرانی پوښتنه ځنی وکړه چی ولی؟

هغـو ټولـه کيسـه ورتـه وکـړه چـی مـوږ داسـی خنـدل پـر هغـه ځوان بيا د شپي..... ،

شـهاب د هغـو پـه خبـرو ډيـر حيـران سـو شـک يـی نـور هـم پـه يقـين بـدل سـو تـر ډيـر بانـډار وروسـته ټـول بيـده سـول څـو ســاعته وروســته ســهار ســو د ســهار تــر چــايو وروســته شــهاب د هوټـــل پيســـې ورکـــړی او روانيـــدی چـــی هـــوټلی وويـــل: ځوانه کلاء ته مه ځه ناحقه ولی ځان په غم اخته کوی؟

شـهاب وويـل: زمـا تـر ژونـد مـا تـه د يـو بـل چـا ژونـد مهـم دی او اوس زه داســی فکــر کــوم چــي د هغــه ژونــد پــه خطــر کــی دی او زه نه غواړم چي هغه د لاسه ورکم،

وروســته شــهاب د کــلاء پــر خــوا روان ســو مــوټر يــی د کــلاء ومختـــه ودروی او کـــرار يـــی د کـــلاء دروازه خلاصـــه کـــړه او د دننه کلاء په خوا ور روان سو،

د ســاحل د قــرار داد ورقــې پکــار ســوی ټــول دفتــر يــی پســی وکتـی خـو پيـدا يـی نـه کـړی بيـا يـی تليفـون راوکښـی او شـهاب تـه يـی تليفـون وکـړ خـو د شـهاب د تليفـون اواز بنـد وو نـه يـی اوريـدی سـاحل بيـا تليفـون ورتـه وکـې خـو شـهاب نـه اوريـدی او پـــه جيـــب کـــی يـــی صـــرف لګيـــدی خـــو بږغ يـــی نـــه کـــوی شـــهاب دننـــه کـــلاء تـــه ننـــوتی شـــاوخوا د جولاګيـــانو تارونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موښتی وه شهاب هغه سره لیری کړل هلته ساحل هر وار شهاب ته تلیفونونه کوی خو شهاب یی نه وینی او نه یی هم اوری، په کلاء کی شاوخوا کوترې والوتلې شهاب شاوخوا کتل بیریدی هم په کلاء کی داسی نه معلومیدل چی د ډیره وخته دی ځوک راغلی وی ورته وروسته شهاب د کلاء لوړ منزل ته پورته سو او هلته ګرځیدی چی وروسته هغه کوټې ته ننوتی چې ساحل پکښی اوسیدی کله چی هلته ننوتی شاوخوا یی وکتل وروسته یی د خوب کټ ته پام سو چی کتابچه پر پرته وه پر هر څه دوړی او ګرځ پروت وو خو کتابچه همداسی تازه پرته وه لکه یو چا چی تازه ایښی وی شهاب هغه کتابچه راواخیستل او خلاصه یی کړه ګوری چی د ساحل د شعرو کتابچه وه شهاب موسکی سو د شهاب لا هغه کتابچه په لاس کی وه چی دباندې د پانزیبو د شرنګهاری ږغ سو شهاب فکر وکړ چی تصادفی ږغ وو خو څه وخت وروسته بیا د پانزیبو شرنګهاری سو داسی معلومیده لکه یو ځوک چی پکښی روان وی شهاب ژر د ساحل کتابچه په جیب کی واچول او د کوټې دباندې ووتی د پانزیبو شرنګهاری لیری سو شهاب د پانزیبو د شرنګهاری پر خوا ور روان وو د پانزیبو شرنګهاری د کلاء د بام وخواته وو شهاب هم هغه وخت پسی ولاړی کله چی زینو ته ورسیدی نو ویلیدل چی د کلاء د بام دروازه خلاصه ولاړه وه د پانزیبو شرنګهارې پر بام وو شهاب هلته کرار کرار پسی ور پورته سو کله چی بام ته وختی شاوخوا یی په وارخطایی وکتل ځوک نه وه او د پانزیبو ږغ هم ورک

(c) ketabton.com: The Digital Library

سو شهاب د کلاء پر بام ودریدی او شاوخوا یی کتل د شاه له طرف داسی معلومیده لکه یو څوک چی دده و طرف ته ور روان وی شهاب یو دم مخ ور واړوی د مخ ور اړول کیدو مخکی یو چا په لغته ووهی او لیری یی وغورځوی د شهاب سر د دیوالـه وموښتی او ډیر ټپی سو کله چی راپورته سو بیا د شاه له طرف لغته ورکول سول شهاب نور هم ډیر ټپي سو تر پزه یی وینی راغلی او د ولاړیدو نه وو خو بیا هم په ډیر تکلیف ولاړ سو شاوخوا یی وکتل هیڅوک نه وه خو لږ وروسته بیا د مخ له طرفه ووهل سو شهاب د کلاء د بام څوکۍ ته نیږدی ولویدی وروسته یو څوک راغلی چی معلومیدی هم نه شهاب یی تر غاړه ونیوی او پورته یی کړ غوښتل یی چی د کلاء د بام څخه یی لاندي وغورځوی چي په دی وخت کی د شهاب تلیفون ته زنګ راغلی او تلیفون د شهاب د جیبه ولویدی او پر مځکه اوکی سو د تلیفونه څخه ږغ راووتی ویویل: اوری شهابه زه ساحل یم د کمپنۍ څخه می زنګ در وهلی دی،

په دی سره شهاب او نامعلومه کس دواړو د شهاب تلیفون ته وکتل بیا د تلیفون څخه اواز راووتی ویویل: اوری شهابه زه ساحل یم یاره تا دا تلیفون ولی نه جوابوی هغه د قرار داد ورقې تا چیری کښیښولی زما ضروری پکار سوی اوری شهابه شهابه،

وروسته تلیفون قطعه سو په دی سره هغه نامعلومه شهاب راکښته کړ او پر بام یی وغورځوی شهاب د سختو زخمو له امله بی هوښه سو کله چی پر هوښ راغلی نو د کلاء د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانـۍ مختـه پـروت وو بغلتـه يـی اوبـه هـم پرتـی وی شـهاب هغـه د ځـان سـره واخيستی او پـه ځغاسـته د کـلاء څخـه ووتـی او پـه خپـل مـوټر کـی کښينسـتی مـوټر يـی چلانـده کـی روان سـو د کـلاء څخـه څـه ليـری يـی مـوټر ودروی او پـه اوږده سـاه يـی اوبـه وڅيښـلی ډيـر ټـوخی يـی کيـدی کلـه چـی لـږ ارام سـو پښـو او لاسـو يـی سـم کـار نکـوی خـو مـوټر يـی چلـولای سـوای شـهاب د ښـار پـر طـرف روان سـو څـه وخـت وروسـته خپــل د پــلار ورکشــاف تــه ورســيدی د مــوټر دروازه يــی خلاصـه کـړه او د مـوټر څخـه لانـدي را ولويـدی پـلار يـی ژر پـر راوځغسـتل او پـر نـاريٖ يـی کـړی: شـهابه شـهابه زويـه څـه وسوه شهابه،

پـلار يـی شـهاب پـه غيـږ کـی ونيـوی او ژر يـی خپـل کـاريګر تـه ور نـاره کـړه چـی امبـولانس راوغـواړه خـو شـهاب ورتـه وويل: نه بابا زه سم يم امبولانس مه راغواړه،

وروســته يــی پــلار شــهاب تــر اوږه ونيــوی او دننــه ولاړل پـلار يـی ورتـه ويـل: زويـه دا څـه در وسـوه خيريـت خـو بـه وی د چا سره دی جنګ وکيٖ؟

شــهاب خپــل تليفــون وکتــی هغــه بنــد ســوی وو بيــا پــلار تــه وويل: بابا زه بيا وروسته درته وايم ته ستا تليفون راکه،

پــلار يــی تليفــون ورکــيٖ شــهاب د ســاحل پــلار تــه زنــګ ووهلـی کلـه چـی هغـه اوکـيٖ کـړ نـو شـهاب ورتـه پـه ريږديـدلی اواز وويل: کاکا تاسو ژر زما د پلار ورکشاف ته راسی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساحل پلار ډیر وارخطاء سو بیا یې وویل: څه خبره ده زویه هر څه خو به سم وی؟

شهاب وویل: هو کاکا بس تاسو ژر زمونږ ورکشاف ته راسی،

د شهاب پلار وویل: زویه زه به ساحل ته تلیفون وکم،

شهاب وویل: نه بابا هغه ته زنګ ونه وهی او که یی پوښتنه در څخه وکړه نو ورته ووایه چی مور یی د نیکه کور ته بیولی ده،

څه وخت وروسته د ساحل مور او پلار راغلل کله چی یی شهاب ته وکتل نو ډیر وارخطاء سول د ساحل پلار په وارخطایی وویل: دا څه در وسوه زویه؟

شهاب خپل پلار ته وویل: بابا هیله کوم مونږ د یو څه وخت لپاره یوازی پریږده،

پلار یی وویل: سمده زویه،

کله چی یی پلار دباندي ووتی نو شهاب د ساحل مور او پلار ته د کلاء ټوله کیسه وکړه د ساحل د مور او پلار د ډیرې وارخطایی نه سترګې وپړسیدلی تر څه وخت باندې وروسته د ساحل مور او پلار ولاړه، شهاب خپل تلیفون چارج ته ورکې کله چی لږ چارج سو نو یی چالانده کې او ساحل ته یی تلیفون وکې کله چی ساحل تلیفون پورته کې نو ویویل: شهابه چیری یی یاره دومره زیات تلیفونان می در وکړه خو تا جواب نه وایه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: وبخښه یاره د تلیفون زنګ می بند وو نه می اوریدی،

ساحل وویل: پخیر ورسیدلاست؟

شهاب وویل: هو الحمدالله په خیر ورسیدو،

ساحل وویل: ما د هغه قرار داد د ورقو لپاره تلیفون در وکې هغه زما څخه ورکې سوی وی،

شهاب وویل: هغه ما ستا د دفتر په الماریَ کی ایښی وی،

ساحل وویل: پیدا می کړی خو ته څه وخت راځی یاره ډیر دیغت می کړی دی در پسی،

شهاب وویل: بس یو دوې درې ورځې وروسته درځم ان شاء الله،

ساحل وویل: ژر راسه یاره ډیر می یادیږی،

شهاب وویل: زما هم ډیر یادیږی،

وروسته دواړو خدای په امانی سره واخیستی او تلیفون یی بند کې شهاب څو ورځې وروسته سم سو او وروسته دفتر ته ولاړي کله چی ورغلی نو ساحل ډیر خوشحاله سو دواړو ټینګ په غیږ کی سره ونیول شهاب لږ ګوډ ګوډ تلی ساحل ورته وکتل او حیران سو بیا یی وویل: شهابه خیریت دی دا ولی داسی ګوډ ګوډ ځي؟

شهاب وویل: هو خیریت دی په کلی کی د یو ډبری سره ولګیدم هلته یو څه زخمی سول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: یو څه زخمیسوه؟ ولی ډېره یی د پنبې څخه جوړه کړی وه ته یی راښکاره که هله،

ساحل د شهاب پښه وکتل هغه ډېره پټې سوی وه بیا یی وویل: ساحل دا خو د ډېرې زخم نه معلومیږی هتمن په یو بل شی زخمی سوی یی،

شهاب موسکی سو او ویویل: نه یاره په ډېره زخمی سوم،

ساحل وویل: دا چا در پټۍ کړه؟

شهاب وویل: بابا را پټۍکړه،

ساحل وویل: دا که ډېره زخمی سوی وه او زخم یی پر خرابتیا واوښتی نو بیا؟

شهاب وویل: نه یاره زیاته نه وه زخمی سوی،

ساحل شهاب تر لاس ونیوی پورته یی کړ او ورته یی وویل: هله راپورته سه راځه،

شهاب وویل: چیری؟

ساحل وویل: بس ته مازی را روان سه،

ساحل شهاب تر اوږی ونیوی او د کمپنۍ څخه ووتل ساحل شهاب ته خپل د موټر دروازه ور خلاصه کړه او شهاب یی مخته کښینوی او خپله یی موټر چلولو ته کښینستی وروسته روان سول شهاب وویل: ساحل چیری ځو یاره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وويل: ته صبر وکه چې را ورسیدی بیابه یی خپله ووینی،

لږ وروسته ساحل د یو غټ روغتون ومخته موټر ودروی او شهاب یی د موټر څخه راکښته کې شهاب وویل: ساحله دا تا زه روغتون ته ولی راوستم؟

ساحل د شهاب سوال ته جواب ور نه کې د ګوډانو بایسکل یی را واخیستی او شهاب یی په کښی کښینوی او روغتون ته ننوتل وروسته د ایکسری واټ ته ننوتل هلته ساحل د یو ایکسری اطاق ته ننوتل ډاکټر ته یی سلام ووایه ډاکټر وویل: اوه تاسو ساحل صاحب دلته خدای مو راوله،

تر روغبړ وروسته ډاکټر وویل: ساحل صاحب موږ خواران مو څنګه پیاد سوو؟

ساحل شهاب ته اشاره وکړه او ویویل: دا زما ورور، اندیوال او هر څه می دی ډیر راباندي ګران دی پښه یی ډیره زخمی سویده خو ما ته وایی چې د ډبری سره ولګیدم لږ زخمی سوم ته دده د بدن ټوله ایکسری وګوره چې خدای مکړه بل ځای یی ټپی سوی نه وی،

شهاب وویل: ساحل یاره زه سم یم ایکسری ته حاجت نسته،

ساحل شهاب تر اوږه ونیوی او د ایکسری د ماشین کټ ته یی یوړی کله چې ډاکټر د ایکسری ماشین د شهاب پر بدن وګرځوی نو د ساحل د بدن پر هډوکو یی د ضربې نښانی ولیدلی څه وخت وروسته یی ساحل ته وویل: ساحل

(c) ketabton.com: The Digital Library

صــاحب هــډوکي یــی نــور ســم دی کــوم مشــکل نــه لــری خــو داســی معلوميده لکــه دده ټــول بــدن چــی د يــو ســخت شــی ســره لګيــدلی وی د پُښــتې او د پښــو پــر هــډوکو يــی داســی نښــانې معلوميږی چی د دباندي لخوا څخه ضربه باندي سويده،

ســاحل ډيــر پريشــان ســو بيــا يــی پــه درد وويــل: خــو ده رزيــل ويل چی صرف د يوی ډبرۍ سره می پښه ولګيده،

ډاکټــر وويــل: نــه دا د ډبــره ضــربه نــه ده داســی معلــوميږی لکه يو چا چي پر يو کلک ځای غورځولی وی،

ساحل په حيرانی وويل: څه؟

ډاکټــر وويــل: هــو داســی معلــوميږی لکــه يــو چــا چــی پــر يــو کلــک ځــای پــوری وهلــی وی خــو د تشــويش خبــره نــه ده هــډوکې يــی ټــول ســم دی ماتيدنــه نــه لــری زه بــه يــو څــه دوا در وليکم هغه ورکوه ان شاءالله سميږی،

وروســته ســاحل او شــهاب د ډاکټــر څخــه خــدای پــه امــانی واخيســتی او د روغتــون څخــه راووتــل ســاحل ډيــر پريشــانه وو وروســته يــی دوا ورتــه راواخيســته خــو د شــهاب ســره يــی خبــری نــه کــولی شــهاب يــی پــر لاس خپــل لاس کښيښــوی خــو ســاحل د شــهاب لاس د خپــل لاس څخــه ليــری کــې او هــيڅ يــی ونــه ويــل شــهاب د بايســکل بريــک ونيــوی بايســکل ودريــدی بيــا يــی وويــل: ســاحل زه رښــتيا درتــه وايــم چــی زه پــه کلــی کــی غوځار سوم هلته زخمی سوم،

ساحل وويل: رښتيا وايی؟

شهاب وويل: رښتيا وايم ياره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ساحل وویل: نو تا ماته صرف د پښې ولې وویل چې پښه مې زخمي سوه،

شهاب وویل: د نور بدن درد مې نه دی احساس کړی،

بیا شهاب وویل: اوس خوشحاله سوی؟

ساحل موسکی سو او ویویل: هو،

بیا دواړه په خندا د روغتون څخه ووتل کله چې دباندي ووتل نو د روغتون مخته هغه دوکاندار چې ساحل د حسام د بانک په ورځ لیدلی وو چې په دوکان کې بې هوښه وو چې بیا ده اوبه پر واچولې هغه ناری کړی چې پیری دی د روغتون مخته هغه دوکان کوی چې پر ساحل یې سترګې ولګیدی ساحل هم هغه ولیدی او وپیژندی دوکاندار د ساحل په لیدو ډیر وارخطاء سو په وارخطایی کې یې وویل: پیپپیری! پیری،

د دوکاندار بدن په رږدیدو سو ساحل او شهاب دواړو هغه ته وکتل چې ډیر وارخطا وو بیا ساحل ورته وویل: پیری به دی نیکه وی،

شهاب موسکی سو خو د شهاب سترګې په هغه نفر کې ښخې وی او تر ډیره ځایه یې ورته کتل کله چې موټر ته وختل نو شهاب ساحل ته وویل: ساحل! دا څوک وو چې د پیری ناری یې وهلې؟

ساحل وویل: ایله لیونی دی په هغه ورځ چې ما د بانک څخه پیسې راوړلې ده د بانک سره دوکان کوی زه چې د بانک څخه راووتم غوښتل مې دده د دوکان څخه یو بوتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبــه راواخلـم خــو دی هلتــه بــی هوښــه پــروت وو مــا اوبــه پـر وپاشـلی چــی پــه هــوښ راغلــی او ماتــه یــی وکتـل نــو یــو دم یــی وځغستل او د پیری پیری ناری یی وهلی چی پیری دی،

شــهاب ډیـر حیـران ســو خـو څــه یــی ونــه ویـل وروسـته دواړه د روغتـون څخــه روان سـول چــی څــه مختــه ولاړل نـو شــهاب وویــل: ســاحله مــا همدلتــه کښــته کــه زه د کــور لپــاره یــو څــه سودا وړم بیا پسی درځم،

ساحل وویل: زه به یی درته راواخلم،

شــهاب وویــل: نــه یــاره زه یــی خپلــه را اخلـم د مـور د خوښــې په شیانو ته نه پوهیږی؟

ســاحل موســکی ســو او ویویــل: ســمده خــو زه بــه دلتــه درتــه ودریږم؟

شــهاب وویــل: نــه نــه یــاره تــه ورســه دفتـر هـم یـوازی دی هلتـه باید په ما و تا کی یو وی،

ساحل وویل: سمده خو ژر بیرته راسه،

شهاب وویل: سمده،

وروســـته دواړو خـــدای پـــه امـــانی ســـره واخیســـتی شـــهاب د مــوټر څخــه کښــته ســو او ســاحل ولاړی شــهاب ســاحل تــه کتـل چــی کلــه هغــه د سـترګو لیـری ســو شــهاب ټکســی را وګرځـول او پـــه کښـــی کښینســـتی ټکســـی ولا تـــه یـــی وویـــل: ښـــارې روغتون ته درځه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څــه وخــت وروســته شــهاب بیرتــه هغــه روغتــون تــه راغلــی چــی دی او ســاحل ورتــه راغلــی وه شــهاب هغــه دوکانــدار تــه ورغلـی چـی پـه سـاحل پسـی یـی د پیـری نـاری وهلـی کلـه چـی دوکانــدار شــهاب ولیــدی نــو ډیــر وارخطــاء ســو خــو شــهاب هغـه ټینـګ تـر لاس ونیـوی لاس یـی ور وپیچـی او ورتـه یـی وویـل: راتـه ووایـه چـی تـا ولـی زمـا پـه ملګـری پسـی نـاری وهلی چی پیری دی پیری دی؟

دوکانــدار پــه وارخطــایی او پــه ریږدیــدلی اواز وویــل: ســمده صاحبه درته وایم درته وایم،

شهاب وویل: ووایه،

دوکانـدار ورتـه وویـل: صـاحبه مـا مخکـی د بـای فـاس سـره د ښــار څخــه څــه لیــری دوکــان کــوی یــوه شــپه ناوختــه زه پــه دوکــان کــی ولاړ وم هغــه ســتا ملګــری پــر ســړک را روان وو او د یـو چـا سـره یـی خبـری کـولی زمـا د ډیـر لیـری ځایـه پکښی فکر وو،

شهاب وویل: د چا سره یی خبری کولی څوک وو هغه؟

دوکانــدار وویــل: صــاحبه ســتا د ملګــری ســره هیڅــوک نــه وو ور سـره هلتـه بیلـه مـا او سـتا د ملګـری ماسـیوا بـل څـوک نـه وه،

شــهاب ډیــر حیــران ســو او بیــا یــی وویــل: نــو د چــا ســره یــی خبری کولی،

دوکانــدار وویــل: صــاحبه مــا درتــه وویــل چــی هلتــه هیڅــوک نــه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب نور هم ډېر حيران سو سترګې يې د حيرانتيا څخه وپړسيدلی او بيا يې وويل: بيا څه وسوه؟

دوکاندار وويل: ما تر ډيره وخته ورته کتل چې ده خبری کولی خو کله چې زما د دوکان څخه لږ تير سو بيا يو دم ورک سو،

شهاب د دوکاندار لاس ايله کې او د ډيری حيرانتيا څخه خولې پر راوبهيدلی بيا دوکاندار وويل: صاحبه ما چې کله دا حالت وليدی نو ډير وبيريدلم او د ډيری بيرې بی هوښه سوم يو وخت يو چا پر مخ اوبه را واچولی زه چي په هوښ راغلم نو ستا ملګری می مخ ته ناست وو او پر ما يی اوبه اچولی زه د هغه څخه ډير وبيريدم د هغه ځايه وتښتيدم بيا می هغه دوکان پريښوی او دلته راغلم،

شهاب وويل: ستا هغه دوکان چيری وو؟

دوکاندار وويل: د بای فاس سره وو د ښار څخه څه ليری،

شهاب وويل: د هغه پيسو د بانک سره؟

دوکاندار وويل: کوم بانک صاحبه هلته خو هيڅ بانک نسته،

شهاب وويل: تا به نه وی ليدلی هلته د پيسو بانک هم سته،

دوکاندار وويل: صاحبه ما هلته پنځه کاله دوکان وکې هلته زه ډير ګرځيدلی يم ما خو تر اوسه کوم بانک نه دی ليدلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب ډیر حیران سو بیا یی خپل پلار ته تلیفون وکې او ورته یی وویل: بابا زه د ښارې روغتون مخته ولاړ یم ته یو چاته ووایم چی زما موټر د روغتون مخته راولی،

پلار یی وویل: سمده زویه،

بیا شهاب دوکاندار ته وویل: ستا د یوی اوونۍ د دوکانداری پیسې زه درکوم ته زما سره د یو ساعت لپاره هلته ولاړ سه چیری چی تا دوکان کوی،

دوکاندار ډیر خوشحاله سو او بیا یی وویل: سمده صاحبه،

څه وخت وروسته موټر را ورسیدی شهاب او هغه دوکاندار دواړه په موټر کی کښینستل او د دوکاندار د دوکان پر طرف روان سول څه وخت وروسته هلته ورسیدل دوکاندار هغه ځای ور وښوی ویویل: صاحبه دلته ما دوکان کوی داغه خالی دوکان زما وو،

شهاب هلته شاوخوا وکتل رښتیا هم هلته هیڅ بانک نه وو شهاب دوکاندار بیرته خپل ځای ته را ورسوی او هغه ته یی ډیری پیسې ورکړی او ورته یی وویل: ګوره ددي کیسې په اړه بیا چاته ونه وایی زما هغه ملګری د څو غټو کمپنیو مشر دی که یی درد درته راغلی بیا دی نه پریږدی بندی کوی دی،

دوکاندار وویل: سمده صاحبه نه وایم،

ساحل چی کله د موټر څخه کښته سو نو د ساحل دوا یی ولیدل د ځان سره یی واخیستل او ویویل: اوف دا دوا خو یی هم دلته پاته سول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل خپل کمپنۍ ته ننوتی زهرا او یوه بله همکاره یی په خپله شعبه کې ناستې وی کله چې یی ساحل ولیدی نو دواړو ښه راغلاست ورته ووایه د زهرا همکارې وویل: زهرا! ریس صاحب لکه چې مریض سویدی،

زهرا وویل: ولې؟

همکارې یی وویل: تا یی په لاس کی دوا نه ولیدل؟

زهرا وویل: نه نه مې ولیدل شاید د بل چا وی ریس صاحب خو داسی تازه او تکړه معلومیدی،

همکاره یی موسکې سوه بیا یی وویل: زهرا! ریس صاحب ته ډیر مه ګوره نظر یی نه کې؟

زهرا موسکې سوه بیا یی کرار خپله همکاره پر اوږه ووهل ورته یی وویل: چپ سه لیونې،،

د زهرا همکارې وویل: ایی زهرا رښتیا ووایه ریس صاحب دي خوښیږی؟

زهرا وویل: لیونې دا ته څه وایې لیونۍ سوی خو به نه یی؟

همکارې یی وویل: زهرا ته راته ووایه ونیسه نو ووایه،

زهرا موسکې سوه خو بیرته یی ځیهره خوابدتیا ته واوښته همکارې یی وویل: څه پیښه سوه؟

زهرا خپلې همکارې ته ددي او ساحل ټوله کیسه وکړل او بیا یی اوږده ساه و ایستل او ویویل: ما دده د لاسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړلـو موقـع د لاسـه ورکړیـده سـاحل بـه هیڅکلـه بیـا زمـا وخواته وهم نه ګوری،

همکـاریٔ یـی وویـل: زهـرا تـه خـو کوښـښ وکـه ځکـه چـی اوله مینه هیڅکله نه هیریږی،

زهـرا وویـل: خـو مـا سـاحل تـه دومـره غمونـه ورکـړه چـی هغه به یی هیڅکله نه کې هیر،

همکـاریٔ یـی وویـل: زهـرا وخـت چاتـه دوهمـه موقـع نـه ورکـوی تـه اوس هـم موقـع لـری کـه چیـری سـاحل سـتا څخـه نفـرط کـولای نـو پخپلـه کمپنـیٔ کـی بـه یـی کـار هـم نـه درکولای،

زهـرا پـه دی خبـره خوشـحاله سـوه او بیـا یـی همکـاریٔ ورتـه وویـل: زهـرا! هلـه ورسـه ریـس صـاحب اوس یـوازی دی بیـا داسـی موقـع پـه لاس نـه درځـې د اوبـو ور وړلـو پـه بهانـه ورسه کرار کرار باندار هم ور سره شروع که،

زهـرا هـم د اوبـو ګـیلاس واخیسـتی او د سـاحل د دفتـر پـر خـوا ورغلـل کلـه چـی د سـاحل د دفتـر دروازیٔ تـه ورسـیده نـو دوه درې اوږدې سـاوی یـی واخیسـتی بیـا یـی پـر زړه لاس ونیـوی او بیـا یـی د سـاحل د دفتـر دروازه ور وټکـول ساحل وویل: راځې مهربانی،

زهـرا هـم دننـه ورغلـه سـاحل پـه کمپیـوټر اختـه وو زهـرا د اوبـو ګـیلاس سـاحل تـه پـر میـز کښیښـوی سـاحل چـی زهـرا او د اوبـو ګـیلاس ولیـدی نـو یـو دم ولاړ سـو او ویویـل: تاسـو؟ او دا اوبه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهـرا رېږدیـدل او بیـا یـی وویـل: هغـه تاسـو مـریض یاسـت ستاسـو د دفتـر اوبـه یخـی دی هغـه تـاوان درتـه کـوی پـه همدې اوبو مو دوا وخوری،

سـاحل وویـل: زه نـه یـم مـریض هغـه دوا د شـهاب ده او بیـا تاسـو ولـی تکلیـف کـوی خـو یـو کـاریګر تـه بـه مـو پـلاس ورکړی وای؟

زهـرا وویـل: هغـوی ټـول پـه کـار اختـه وه نـو مـی ځکـه خپلـه راوړی،

شـهاب هـم کمپنـۍ تـه را ورسـیدی د زهـرا همکـاره ډیـره وارخطـا سـول نـه یـی غوښـتل چـی شـهاب د سـاحل دفتـر تـه ورسـی تـر څـو سـاحل او زهـرا پـه یوازیتـوب کـی خبـری سـره وکې نو یی شهاب ته ورناره کړه: صاحبه صاحبه ګوری،

شهاب په درد ورته وویل: څه خبره ده؟

د زهـرا همکـاره ډیـره وبیریـدل بیـا یـی وویـل: صـاحبه تاسـو راسـی دا زمـا کمپیـوټر یـو څـه خـراب دی دا خـو راسـم کـې فاسورډ یی راڅخه هیر سویدی،

شـهاب دننـه شـعبۍ تـه ورغلـی او د هغـۍ ترڅنـګ کمپیـوټر تـه کښینسـتی د کمپیـوټر پـر لیکـدړی(کیبورډ) یـی لاسـونه کښیښوول او په فاسورډ خلاصولو اخته سو،

سـاحل بیرتـه پـر خپلـه چـوکۍ کښینسـتی او زهـرا تـه یـی وویل: مننه،

زهرا وویل: د مننې وړ نه ده صاحبه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستــه ســاحل پــه خپـل کــار اختــه ســو زهــرا لا هــم هلتــه ولاړه چــی اوس بــه ســاحل نــورې خبـری شـروع کـې او مــا تــه بـه د کښېنستو موقـع پیدا سی خو ساحل څـه نـه ورتـه ویـل بیـا زهـرا کـرار کـرار د دروازې پـر طـرف روانـه سـول پـه داغـه فکـر چـی سـاحل بـه ږغ بانـدی وکـې خـو سـاحل هیڅ نـه ورتـه وویـل زهـرا بیرتـه مـخ را واړوی د سـاحل خواتـه او ویویـل: صاحبه تاسو خو به بل کوم شی ته ضرورت نه لری؟

ساحل وویل: نه مننه،

زهــرا بیــا مــخ د دروازې پــر طــرف واړوی خــو بیــا یــی د ســاحل طـرف تــه وکتـل او ورتــه یــی وویـل: صـاحبه تاسـو زمـا ځخـه پوښـتنه نــه وکـړه چـی زه کــار کولــو تــه ځنګـه مجبـوره سوم؟

ســاحل پــوه ســو چــی زهــرا دده ســره خبـری زیاتــه وی نــو یــی کمپیـــوټر پریښـــوی او ویویـــل: ضـــرورت یـــی نـــه وو چـــی پوښـــتنه مـــی در ځخـــه کـــړی وای ولـــی چـــی زه دلتـــه د کــاریګرو د شخصــی ژونـد د پوښـتنو لپــاره نــه یم ناسـت او نــه هـم زه کــاریګرو تــه معـاش د هغـو پـر شخصـی ژونـد بیـانولو ورکوم،

د ســاحل پــه دي خبـره سـره د زهـرا زړه ډیـر غمګـین سـو او تـر سـترګو یـی اوښـکې راغلـی پـه ژړا یـی وویـل: فکـر نکـوی چی ستا په دی خبرو سره به د یو چا زړه مات سی؟

ســاحل د خپـل چــوکۍ ځخــه ولاړ ســو او د زهــرا و خواتــه ورغلــی او ورتــه یــی وویـل: زهـرا تــه د زړه مــاتولو پــه معنــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــوهيږی کـــه تـــه پوهيــدای نــو تـــا بـــه د بــل چـــا زړه نـــه ورماتولای،

زهــرا وويــل: ســاحله زه پــوهيږم چــی مــا ســتا زړه در مــات کړی وو خو زه پر هغه پښيمانه يم هغه زما تير وخت وو،

ساحل وويـل: زمـا هـم هغـه تيـر وخـت وو چـی سـتا سـره مـی مينـه کـول خـو هيلـه کـوم زمـا ژونـد تـه بيـا د راتلـو کوښـښ مکوه،

شـــهاب لا هـــم د زهـــرا د همکـــارۍ ســـره د کمپيـــوټر پـــه جوړولـــو اختـــه وو د شـــهاب لاس پـــر کمپيـــوټر پـــروت وو د زهـرا همکـارۍ غوښـتل شـهاب ځانتـه جلـب او مينـه ور سـره شــروع کــې نــو يــی کــرار خپــل لاس د شــهاب پــر لاس ور کښيښــوی شــهاب د هغــۍ لاس خپــل پــه بــل لاس پــه چکــه ووهلــی او ور ليــری يــی کــې د زهــرا همکــاره ډيــره وبيريــده ژر يی خپل لاس د شهاب څخه را ايسته کې،

زهـرا پـه ژړا وويـل: سـاحل! مـا تـه يـوه موقـع لا هـم راکـه بيـا به هيڅکله چم در سره ونه کم،

ســاحل موســکی ســو او ويويــل: موقــع؟ کــه مــی تاتــه موقــع درکـړه نـو زه بـه موقـع د لاسـه ورکـم ځکـه چـی زه اوس د يـو بـل چـا سـره مينـه کـوم هغـه زمـا ژونـد زمـا سـاه او زمـا هـر څـه ده،

زهـرا ډيـر وژړل بيـا سـاحل ورتـه وويـل: هيلـه کـوم نـور مـه زمـا وخـت را ضـايع کـوی او مـه هـم خپـل وخـت ضـايع کـوی مهربانی کار ته مو ولاړه سی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهـرا پـه ژړا د ســاحل د دفتــره څخــه ووتــل شــهاب هـم د زهـرا د همکـارۍ د شـعبې څخــه را ووتــی د زهـرا همکـارۍ د شـاه لخـوا د خـولې پیښـې پسـی وکـړی کلـه چـی شـهاب د سـاحل دفتـر تـه تلـی نـو یـی زهـرا پـه لاره کـی ولیـدل چـی ژړل یی شهاب حیران سو او ویویل: څه خبره ده؟

زهرا خپل اوښکې پاکې کړی او ویویل: هیڅ خبره نه ده،

وروسـته زهـرا د خپـل شـعبې پـر خـوا روانـه سـول او شـهاب د سـاحل دفتـر تـه ورغلـی شـهاب ولیـدل چـی سـاحل ډیـر پریشـانه دی شـهاب وویـل: څـه خبـره ده یـاره چـی داسـی پریشانه ناست یی او دا اغلې ولی ژړل؟

سـاحل اوږده سـاه واخیسـته او ویویـل: څـه درتـه ووایـم یـاره د نـن زمـانې انجـونې دی د مینـې څخـه یـی پسـخند جـوړ کړیـدی چـی خوښـه یـی سـی ژونـد تـه مـو راسـی او چـی خوښـه یـی سی پریږدی مو او د بل چا سره ولاړې سی،

شـهاب وویـل: ښـه ښـه د مینـې کیسـه وه خـو یـاره تـا بایـد د هغې زړه نه وای ور مات کړی،

ساحل وویل: ولی هغه زما زړه چی یی را مات کې؟

شـهاب وویـل: یـاره انسـان عـاجزه دی کلـه کلـه غلطـې ځنـی کیږی وییخښه،

ساحل وویل: یاره هغه بیا وایی چی زما سره مینه وکه،

شـهاب موسـکی سـو او ویویـل: نـو خـو ور سـره ویکـه پـه دی کی مشکل څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: چپ سه لیونیه په هغه بلي مې لکه چې ډبوی،

شهاب حیران سو او ویویل: کمه بله هغه د کلی دا یادوی؟

ساحل موسکی سو او ویویل: پریږده یې یاره ته دي دوا وخوره چي ژر جوړ سی،

ساحل د شهاب دوا راواخیستل او شهاب ته یې ورکړه بیا شهاب وویل: نن ماښام ته یو ځای میلمانه یو ځان تیار که،

ساحل وویل: یاره ددي میلمستیاؤ څخه پر نفس راغلی یم زه نه ځم یاره ته ورسه،

شهاب وویل: سمده نو زه هم نه ځم ما ته هم یوازی خوند نه راکوی چی ولاړ سم،

ساحل شهاب په غیږ کی ټینګ کې او ویویل: احمقه زما کمزوری در معلومه ده ته پوهیږی چی ته پر ما ډیر ګران یی نو ځکه داسی راته وایی سمده پر څو بجې ځو؟

شهاب موسکی سو او ویویل: زه موټر ستاسو کورته در ولم بیا دی راپورته کوم،

ساحل وویل: سمده،

ماښام ته ساحل ځان تیار کې او څه وخت وروسته شهاب د کور مخته د موټر هارنګ ووهی او دواړه د میلمستیا په خوا روان سول د شهاب هدف بانک وو نو ځکه د شپی چی د میلمستیا څخه راتلل نو د بای فاس پر سړک را روان سول کله چی هغه دوکان ته را ورسیدل نو ساحل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیده سوی وو شهاب موټر لېږ کرار کې بیا یې موټر سره یو و بل بغلته کې تر څو ساحل راکښېنی خو ساحل نه راکښېنستی شهاب غوښتل چې ساحل ته لاس ور وړی او هغه راکښېنوی خو کله چې یې لاس وروړی نو لاس یې ساحل ته نیږدی ودریدی او جام سو هیڅ حرکت یې نه کوی شهاب پوه سو نو یې ژر ساحل ته ناره ور وکړه خو خوله یې هم بنده سول د شهاب ور سره زوری وی خو لاس او خولۍ یې هیڅ حرکت نه کوی شهاب غوښتل موټر ودروی خو پښه یې د بریک څخه لیری سول او پر سکلیټر او سټرینګ یې پښه او لاس ټینګ سول شهاب ډیر کوښښ وکې چې ځان خلاص کې خو هیڅ یې نسوای کولای موټر د دوکان او د هغه بانک د ځایه څخه ډیر لیری ولاړی یو دم یې لاسونه پښې او خوله ایله سول ژر یې موټر ودروی او ټوخې ونیوی ساحل هم د خوبه راکښېنستی او په حیرانتیا یې شهاب ته وویل: څه پیښه ده څه در وسول،

شهاب خبرې نسوای کولای بیا ساحل ژر په خوله کی اوبه ورکړي د څه وخت وروسته ارام سو ساحل وویل: څه پیښه ده څه در وسول،

شهاب شاته وکتل ډیر لیری راغلی وه چې ساحل وارخطاء نسی نو یې وویل: هیڅ خبره ده بس مازې می یو څه ساه لنډې وسول او ټوخې په درد کړم،

ساحل یې پر تندي لاس کښیښوی او ویویل: تندی دی هم ډیر تود دی تا دوا وخوړل بیا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وويل: نه یاره هیره می سول،

ساحل په درد وویل: شهابه ډاکټر دوا د څه شي لپاره درکړل چې ته یې نه خورې؟

شهاب وویل: وبخښه یاره هیره می سول بیا یې خورم،

ساحل وویل: راکه موټر ماته راکه زه یې چلوم ته مریض یې،

شهاب موټر ساحل ته ورکې او بیا د کور په خوا روان سول ساحل شهابه تر خپله کوره ورسوی او ورته یې وویل: ګوره دوا پر وخت خوره او پر ځان فکر کوه،

شهاب وویل: سمده،

سهار سو ساحل د دفتر څخه ووتی غوښتل یې چې شهاب ته تلیفون وکړی خو بیرته یې تلیفون جیب ته واچوی فکر یې وکړ چې شهاب ناروغه وو هغه به اوس بیده وی وروسته یې د زهرا همکارۍ ته وویل: که شهاب راغلی ورتهووایه چې زه کلی ته تللی یم،

شهاب د سهار تر ناشتې وروسته د دفتر پر خوا روان سو کله چې هلته ورسیدی نو د ساحل دفتر ته ورغلی هلته یې وکتل خو ساحل نه وو بیا یې وغوښتل چې زنګ ور ووهي خو د ساحل تلیفون هم د ساحې څخه بهر وو شهاب د ساحل د دفتره څخه پریشانه لاندی راکښته سو زهرا ولیدی چې شهاب په ساحل پسې پریشانه دی نو یې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویــل: صـــاحبه! ســـاحل صـــاحب ســـهار کلـــی تـــه ولاړی زمـــا همکـــارۍ تـــه یـــی وویـــل چـــی کـــه شـــهاب راغلـــی ورته ووایه چی زه کلی ته تللی یم،

شـــهاب وویـــل: ښـــه! ښـــه! مننـــه چـــی خبـــر مـــو کـــړم زه ډیر پریشانه وم،

ســـاحل څـــو ورځـــې وروســـته راغلـــی خـــو پـــه اوونـــۍ کـــی بـــه هتمـــاً کلـــی تـــه تلـــی د ســـاحل مـــور پـــلار او شـــهاب ډیـــر پریشـــانه وه پـــه دي اړه څـــه وخـــت تیـــر ســـو یـــوه ورځ ســـــاحل د دفتـــــر څخـــــه د کـــــور پـــــر طـــــرف روان وو د کمپنـــــۍ د کـــــار کوونکـــــو د وظیفـــــو وخـــــت هـــــم خـــــلاص ســـوی وو ټـــول دبانـــدی ووتـــل بـــاران هـــم شـــروع وو ټـــول موټرانـــــو او رکشـــــو تـــــه وختـــــل او ولاړل خـــــو زهـــــرا د مـــوټر پـــه تمـــه ولاړه وه خـــو مـــوټر نـــه پیـــدا کیـــدی کـــالۍ یـــی ټـــول لانـــده ســـول، ســـاحل د پارکینـــګ څخـــه مـــوټر را وایســـتی کلـــه چـــی د کـــور پـــر طـــرف روانیـــدی نـــو ویلیـــدل چـــی زهـــرا د مـــوټر پـــه انتظـــار پـــر ســـړک بـــاران تـــه ولاړه ده ســـــاحل ورغلـــــی او مـــــوټر یـــــی د زهـــــرا مختـــــه ودروی د مـــوټر هنـــداره یـــی کښـــته کـــړل او ورتـــه یـــی وویل: راځې زه به مو ورسوم،

زهـــرا وویـــل: نـــه نـــه صـــاحبه تاســـو تکلیـــف مکـــوی اوس به موټر راسی د لاری په موټر کی ځم،

ســـاحل وویـــل: بـــاران مـــو لنـــدوی راځـــې زه هـــم ستاســـو د کور خواته ځم زه به مو ورسوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهـــرا د ســـــاحل مــــوټر تــــه ور وختــــل او روان ســـــول زهــرا ډيــره لنـــده ســوی وه د يــخ هــم نيــولی وه نـــو ځکـــه ډيـــره ريږديـــدل ســـاحل د چـــرګ د ښـــوروا ولا د ليـــږی مختـــه مــــوټر ودروی او ورغلـــی شـــوروا ولا تـــه يـــی وويـــل چـــی دوه ګيلاســـه ښـــوروا راجـــوړه کـــه کلـــه چـــی ښـــوروا امـــاده ســول نـــو ســاحل خپــل ګـــيلاس واخيســـتی او ښـــوروا ولا تـــه يـــی وويـــل: دا بـــل ګـــيلاس پـــه مـــوټر هغی ناستي اغلی ته وروړه،

ښـــوروا ولا هغـــه ګـــيلاس زهـــرا تـــه ورکـــې زهـــرا هغـــه پـــه ريږديـــدلی لاســـو ونيـــوی او ښـــوروا يـــی وڅيښـــل او د بـــدن يخـــوالی يـــی کـــم ســـو کلـــه چـــی ښـــوروا خلاصـــه ســـول نـــو ســـاحل مـــوټر تـــه وختـــی او روان ســـول ســـاحل د زهـــرا د معصـــومی څيـــری پـــه ليـــدو نـــرم ســـو او زهـــرا تـــه يـــی وويـــل: زه د هغـــی ورځـــې پـــر خبـــرو بخښـــنه غـــواړم پـــه احساســـاتو کـــی وم نـــو ځکـــه مـــی داســـی خبـــری وکـــړی خـــو هـــو دا فکـــر مکـــوه چـــی زمـــا پـــه زړه کی دی تاسو ته ځای پيدا سوی وی،

څـــه وخـــت وروســـته د زهـــرا کـــور راورســـيدی او زهـــرا د مـــوټر څخـــه کښـــته ســـول او ســـاحل تـــه يـــی وويـــل: مننـــه صاحبه،

کلـــه چـــی ســـاحل زهـــرا د کـــور مختـــه کښـــته کـــړل پـــه دی وخـــت کـــی د زهـــرا کـــوژدن ارمـــان چـــی د زهـــرا د کـــور هاخواتـــه پـــټ وو وليـــدل ډيـــر پـــه درد کـــی ســـو د درده يـــی مـــخ تـــک ســـور ســـو، ســـاحل د زهـــرا تـــر کښـــته کولـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته پر خپل لار روان سو، ماښام ساحل میلمه وو د شپې ناوخته د میلمستیا څخه را ووتی د پارکینګ څخه یی موټر را وایستی او مخ د کور پر طرف روان سو په لار کی یی شهاب ته تلیفون وکړ کله چی شهاب تلیفون اوکې کړ نو ساحل په خندا ورته وویل: شهابه یاره هغه د شپږو میلیونو قرارداد می تر لاسه کې،

شهاب ډیر خوشحاله سو او ویویل: مبارک دی سه یاره،

ساحل وویل: مننه یاره خو دا ټول ستا لکبله ځکه چی دا قراردادیان خو تا پیدا کړی وه او تا دیته تشویق کړل چی موږ ته دا قرارداد راکې،

شهاب وویل: نه یاره د هغوی زموږ تولیدات خوښ سول ما خو هیڅ هم نه دی کړی،

ساحل غوښتل چی شهاب ته د هغه د زحمت مننه ووایی خو یو دم یی موټر د یو شی سره ولګیدی او ساحل ژر ودروی، شهاب وویل: څه پیښه سوه یاره؟

ساحل وویل: فکر کوم ټایر یی پنچر سو،

ساحل چی کله د موټر څخه کښته سو نو ویلیدل چی د موټر څلور سره ټایرونه یی پنچر سوی وه ساحل وویل اوه خدایه،

شهاب وویل: څه وسوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: د موټر څلور سره ټایرونه مې پنچر سول لکه چې یو چا قصداً پر سړک یو شی راته ایښی وو،

شهاب ډیر حیران سو او بیا یې په حیرانتیا وویل: ته چیری یی؟

ساحل وویل: دا ستاسو د کور لر دی خواته چې ځنګل دی ددی ځنګله....،

ساحل لا خبره نه وه خلاصه کړی چې یو چا د شا لخوا پر سر په اوسپنیز پایپ ووهلی،

ساحل ناره کړه او تلیفون یې لاندی ولویدی شهاب وویل: څه در وسوه ساحله!؟

د ساحل د سر څخه وینې وبهیدلی کله چې یې شاته وکتل نو یو چا بیا پر سر ووهلی ساحل بیا نارې کړی شهاب هم په تلیفونه کې ناری ور وهلی: ساحله! ساحله! ساحله څه وسوه؟

د نارنج کلاء ټول کلکینان یو دم سره وکړپیدل او د دیواله څخه ووهل سول د کلاء د ګروفان کنډل هم سره پر ښوریدو سو د کلاء د کوټو دروازې ټولی خلاصې او بندې کیدلای درختې هم باد پر مخ واخیستې یو دم د یو کلکین څخه سپینه کوتره والوتل او کلکین یی مات کړ دباندي ووتل،

شهاب ژر موټر ته وختی او د ځنګله پر طرف ور روان سو او په تلیفون کی یی هم نارې پر وهلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـاحل پـــر ســـر لاس نیـــولی وو مختـــه یـــی شـــپږ نفـــره ولاړ وه ټولـــو مخـــان پـــټ کـــړی وه ســـاحل پـــه وینـــو کـــې رنـــګ ســـو او بیـــا یـــی پـــه ریږدیـــدلی اواز وویـــل: تاســـو څوک یاست او ولی مې وهی؟

د هغـــو څخـــه یـــی یـــوه د ســـر څخـــه مـــخ پـــوټی (ماســـک) ایســـته کـــړ ســـاحل ولیـــدل چـــی د زهـــرا کـــوژدن ارمـــان وو،

ارمـــان وویـــل: پیـــاد دي ســـوم پـــه هغـــه ورځ خـــو دي د زهـــرا احمقـــۍ مختـــه ډیـــر ووهلـــم نـــن بـــه دی هغـــه حســـاب در ادا کم،

ارمـــان خپلـــو ملګـــرو تـــه وویـــل چـــی ونیســـئ ویـــوهئ، ټولـــو ســـاحل راونیـــوی او وهـــل یـــي پـــر شـــروع کـــړل، د کـــلاء څخـــه پـــه هـــوا ســـوی کـــوتر د غرونـــو پـــر ســـر ډیـــره پـــه تیـــز کـــي روانـــه وه ســـترګې یـــی د اور پڅیـــر لګیـــدلې، څـــه وخـــت وروســـته شـــهاب ســـاحل تـــه راورســـیدی شـــهاب ولیـــدل چـــی ارمـــان او د هغـــه ملګـــرې ســـاحل وهـــی شـــهاب خپـــل مـــوټر ودروی او د هغـــو پـــر طـــرف یـــی وروځغســـتل او هغـــوی ټـــول یـــی د ســـاحل څخـــه پـــوری وهـــل او ســـاحل یـــی د مځکـــې څخـــه راپورتـــه کـــې او پـــه خپـــل غیـــږ کـــی یـــی ونیـــوی شـــهاب ډیـــر وارخطـــا وو بیـــا د ارمـــان یـــو ملګـــری شـــهاب هـــم پـــر ســـر پـــه لرګـــې ووهـــي د شـــهاب ســـر ګرځـــې وســـو ســـاحل یـــی د مـــوټر تـــر څنـــګ کښـــینوی او شـــهاب د ارمـــان او د هغـــه ملګـــرو تـــه ور حملـــه کـــړل خـــو هغـــوی بانـــدي زیـــات وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــهاب یــی پــه ټولــو ټینــګ کــړ او پــه ګــډه یــی ووهــي ســاحل غوښــتل چــی شــهاب د هغــو څخــه خــلاص کــړی نــو د هغــو پــر طــرف ور روان ســو او هغــوی یــی د شــــهاب څخــــه لیــــری کــــړل شــــهاب او ســــاحل دواړه د ډیــرو وهلــو څخــه کمــزوری ســول او ډیــره وینــه ځنــی ولاړل د ارمــــان ملګــــرو ســــاحل او شــــهاب ونیــــول او ارمــان د جیــب څخــه چــاکو راوکښــی تــر څــو ســاحل او شــهاب پــه ووهــی کلــه چــی یــی د هغــو پــر طــرف ور وځغســتل پــه دی وخــت کــی د کــلاء څخــه پــه هــوا ســوی کــوتره راورســیدل لویــه نــاره یــی وکــړل او د ارمــان پــر طــرف یــی پــه ډیــره تیــزې ســره ور وځغســتل او پــه خپلــه مشــوکه یــی ارمــان ووهــی، ارمــان او ملګــري یــی ډیــر وبیریــدل ارمــان پــر خپــل مــخ لاس ونیــوی د مــخ څخــه یــی وینــی وبهیــدلی ټولــو شــاوخوا وکتــل هــیڅ شــی نــه وه د ارمــان ملګــرو ســاحل او شــهاب ایلــه کــړل او د بیــرې یــی شــاوخوا کتــل خــو هــیڅ شــی نــه معلومیــدل وروســته یــو دم ارمــان او د هغــه ملګــري پــه چپلاخــه ووهــل ســول د دوی ویــره نــوره هــم زیاتــه ســول ټــول پــر مځکــه وغورځیــدل شــاوخوا یــی وکتــل چــی دا چــا ووهلــو خــو هلتــه هیڅــوک هــم نــه وه بیلــه ســاحل او شــهابه خــو هغــوی د ډیــرو وهلــو څخــه پــر مځکــه لویــدلی وه، د ارمــان هغــه ملګــری چــی ســاحل یــی پــر ســر وهلــی وو د مځکــې څخــه لــوړ پورتــه ســو د هغــه خــوا څخــه ســرچپه پــر مځکــه راولویــدی د ارمــان ملګــرو ټولــو د بیــری نــاری کــړی شــهاب چــی کلــه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی پر طرف وکتل نو ویلیدل چې هغوی ټول وهل کیږی خو وهونکی نه معلومیږی چې څوک یی وهی وروسته ساحل سر راپورته کړ د مځکی څخه او شهاب ته یی وویل: ته ښه یی؟

شهاب په حیرانی د ارمان او د هغه د ملګرو خواته اشاره وکړه او ویویل: ساحل هلته وګوره،

کله چې ساحل د ارمان او د هغه د ملګرو خواته وکتل ډیر حیران سو او د حیرانه یی سترګې وپړسیدلی ساحل ولیدل چې زینت ارمان او د هغه ملګری د مځکی څخه لوړ پورته کړیدی او د مځکی څخه یی راویشتل بیا یی په حیرانی وویل: زینت!؟

شهاب ساحل ته وکتل او ویویل:څه؟ څوک؟

ساحل وویل: دا خو زینت ده هغه زما سره چې د کلی په کلاء کی ملګری سوی وه،

شهاب د ارمان او د هغه د ملګرو پر خوا وکتل خو هلته هیڅوک نه معلومیدل بیله ارمانه او د هغه د ملګرو ماسیوا بیا یی ساحل ته وکتل او ویویل: څوک یادوی؟

ساحل د ارمان او د هغه ملګرو ته اشاره وکړه او بیا یی وویل: هغه دوی چې وهی هغه انجلۍ در یادوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــــهاب بيـــا ارمـــــان او د هغـــه ملګـــرو تــــه وکتــــل او ويويل: ساحل هلته خو هيڅوک نسته،

ســـاحل ډيــر حيــران ســـو او بيـــا يــي پــه درد شـــهاب تـــه وويل: دا د مسخرو ځای دی چی ته مسخرۍ کوی؟

شـــهاب وويـــل: ســـاحل پـــه مـــا بـــاور وكـــه هلتـــه هيڅـــوک نسته،

ارمــــان او د هغــــه ملګـــرو ډيـــر وهـــل وخـــوړل د ټولـــو د ســـرو او پـــزو څخـــه وينـــی را روانـــی وی بيـــا شـــهاب وويل: ته دلته کښينه زه به موټر راولم،

شـــهاب د مـــوټر پـــه خـــوا ولاړی ســـاحل د ارمـــان او د هغــه د ملګــرو خواتــه کتــل چــی زينــت وهــل وروســته زينـــت د ســـاحل خواتـــه وکتـــل او د ســـاحل پـــر طـــرف روانــه ســوه کلــه چــی ســاحل تــه ورســيدل نــو تــر ســترګو يـــی اوښـــکې روانـــې ســـوی د ســـاحل مـــخ تـــه يـــی خپـــل لاس ونيـــوی او ژړل يـــی ســـاحل وويـــل: زينـــت تتتتتـــه دلته څنګه؟

پـــه دی وخـــت کـــی شـــهاب مـــوټر چـــالان کـــې او د ســـاحل پر خوا يی ور وستی،

زينت وويل: ساحل ته روغتون ته ولاړ سه ژر،

ساحل وويل: خو ته؟

زينـــت وويـــل: مـــا پريـــږده ســـتا څخـــه زياتـــه وينـــه تللـــی ده ته ژر ولاړ سه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروســـته شـــهاب راغلـــی ســـاحل یـــی د مځکـــې ځخـــه راپورتـــه کـــې او مـــوټر تـــه وختـــل او روان ســـول کلـــه چـــی ســـاحل او شـــهاب روان ســـول زینـــت خپـــل لاس تـــه وکتـــل چـــي د ســـاحل پـــه وینـــو لړلـــی وو تـــر ســـترګو یـــی اوښـــکې وبهیـــدلی ډیـــره پـــه غوســـه ســـوه او د ارمـــان او د هغـــه د ملګـــرو پـــر خـــوا ور رهـــی ســـول ســـاحل د مـــوټر د هنـــدار ځخـــه شـــاته وکتـــل او شـــهاب پـــه هنـــداره کـــی ورتـــه کتـــل چـــی ارمـــان او د هغـــه ملګـــری د مځکـــې ځخـــه پورتـــه ســـول او پـــر مـــلاء بانـــدي قطعـــه ســـول ســـاحل او شـــهاب د حیرانیـــه ســـترګې پټـــې کـــړی، ځـــه وخـــت وروســـته ســـاحل او شـــهاب دواړه روغتـــون تـــه ورســـیدل ســـاحل ډیـــر زخمـــي وو او ډاکټرانـــو ژر هغـــه بیســـتر کـــې او د شـــهاب پانســـمان شـــروع ســـو ځـــه وخـــت وروســـته د ســـاحل او شـــهاب مـــور او پـــلار روغتـــون تـــه راغلل شهاب هغوی ته ټوله کیسه وکړه،

د ســـاحل ټپونـــه ژور وه نـــو ځکـــه یـــی عملیـــاتو زیـــات وخـــت ونیـــوی نیمـــه شـــپه وه شـــهاب او د ســـاحل او شـــهاب مـــور او پـــلار د عملیـــات خـــونی مختـــه انتظـــار وه ځـــه وخـــت وروســـته عملیـــات پـــای تـــه ورســـیدل او ډاکټـــران دبانـــدي راووتـــل او د ســـاحل مـــور او پـــلار تـــه یـــی وویـــل: مبـــارک مـــو ســـه ستاســـو زوی روغ او جـــوړ ســـو بـــس تـــر ســـبا پـــوری بـــه همدلتـــه بیســـتر وی، پـــه دي ســـره ټـــول ډیـــر خوشـــحاله ســـوه بیـــا شـــهاب خپـــل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـاحل مـــور او پـــلار تـــه وویـــل: تاســـو ولاړ ســـئ زه د ساحل سره پاته کیږم،

د ســاحل پــلار وویــل: نــه زویــه تــه هــم ډیــر زخمــی یــی ته باید کور ته ولاړ سئ زه ورته پاتیږم ساحل ته،

شـــهاب هغـــوي ټـــول مجبـــوره کـــړل چـــي ولاړ ســـی هغـــوی ټـــول ولاړل او شـــهاب د ســـاحل ســـره پاتـــه ســـو، شـــهاب د ســـاحل د کـــټ تـــر بغـــل کښینســـتی او د ســـاحل تبه یی وکتل بیا همهلته ورته انتظار سو،

د ســـهار مرغـــانو خپـــل ســـندرې شـــروع کـــړي د ســـاحل نشـــه هـــم تللـــی وه او د خوبـــه راکښینســـتی ویلیـــدل چـــی شـــهاب یـــی د کـــټ تـــر څنـــګ بیـــده ســـوی دی او ســـر یـــی دده پـــر کـــټ ایښـــی دی ســـاحل ورنـــاره کـــړه: شـــهابه! شهابه!،

شـــهاب د ســـاحل پـــه نـــارو راویښ ســـو او بیـــا یـــی پـــه موسکا وویل: اوه ته راکښینستی؟

ســاحل وویــل: بــی عقلــه تــه نــه وینــی چــی تــه هــم زیــات زخمــی ســوی یــی بیــا هــم دلتــه دي ماتــه ټولــه شــپه تیــره کړه،

پــه دی وخــت کــي د ســاحل مــور او پــلار بیســتر خــونی تــه راننوتــل او ویویــل: زویــه مــوږ هــم مابښــام ډیــر ورتــه وویــل چــی تــه ولاړ ســه تــه هــم ډیــر زخمــی ســوی یــی خو دی په هیڅ رکم نه تلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یی مور او پلار د ساحل د صیحت پوښتنه وکړه ساحل وویل: اوس ښه یم،

بیا ساحل حیران سو او په فکر کی ډوب سو او بیا یی وویل: خو زینت څه سول؟

ټولو یو وبل ته سره وکتل او بیا د ساحل پلار په حیرانی وویل: زویه زینت څوک ده؟

ساحل وویل: هغه مور چی یی ماښام وژغورلو هغه د کلی ده په نارنج کلاء کی زما ملګری ده،

بیا ساحل شهاب ته وکتل او ویویل: شهاب! ته ولی داسی پټه خوله ناست یی راته ووایه چي زینت څه سول؟

شهاب د ساحل مور او پلار ته وکتل او بیا یی ساحل ته وویل: ساحل! مور به بیا پر دي وروسته بخث وکو چی ته جوړ سی،

ساحل په غوسه سو او ویویل: شهابه زما د پوښتنی جواب راکه،

شهاب وویل: ساحل هلته هیڅوک نه وه ته چی څوک یادوی هغه انسان نه بلکی هغه د کلاء پیری دی چي په سلهاوه انسانان یی وژلی دی،

ساحل ډیر حیران سو او بیا یی په درد سره شهاب تر کالو ونیوی او ویویل: شهابه د خولی سره دی احتیاط کوه ته پوهیږی چی ته څه وایی ولی په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ چې ماته یې په پوهنتون کې جایزې راکولې کله چې پروګرام ختم سو زه د پوهنتون په دروازه کې نه وم ور سره ولاړ چې تا هم ولیدلم،

شهاب وویل: ساحله په هغه ورځ هم هلته هیڅوک نه وه ستا سره په هغه ورځ هلته ته یوازې ولاړ وې او خبرې دې کولې،

ساحل وویل: شهابه د تیرې شپې په پېښه کې لکه چې تا خپل عقل او حافظه د لاسه ورکړیده،

شهاب د جیب څخه خپل تلیفون راوکښی او تلیفون یې وکړ او په تلیفون کې یې وویل: اورې سلطانه هله یواړی خو روغتون ته راسه،،،

څه وخت وروسته د ساحل د کمپنۍ چوکیدار عملیات خونې ته راغلی ساحل د هغه په لیدو ډیر حیران سو بیا شهاب ساحل ته وویل: ساحله په هغه ورځ چې زهرا د کار غوښتلو لپاره راغلې وه ایا هغه ورځ ستا پیاد ده؟

ساحل حیران سو او بیا یې وویل: هو هو په هغه ورځ زینت هم راغلې وه زه د هغې سره زما په دفتر کې ناست وم چې سلطان هم راغلی سلطانه تا خو هغه انجلۍ ولیدل اوه؟

سلطان ډیر حیران سو او هیڅ یې ونه ویل بیا

شهاب سلطان ته وویل: سلطانه! په هغه ورځ چې زهرا اغلې د کار لپاره راغلې وه چې هغې تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویـــل چـــی زه د ریـــس صـــاحب ســـره د لیـــدو لپـــاره راغلی یم ایا ته د ساحل دفتر ته ورغلی؟

سلطان وویل: هو صاحبه ورلم،

شـــهاب وویـــل: هلتـــه د ســـاحل صـــاحب ســـره بـــل څـــوک وه په دفتر کی؟

سلطان وویل: هلته بل هیڅوک نه وه،

ســـاحل پـــه ددي خبـــری پـــه اوریـــدو ډیـــر حیـــران ســـو بیـــا شـــهاب وویـــل: نـــو ســـاحل صـــاحب د چـــا ســـره خبـــرې کولی؟

ســـلطان وویـــل: صـــاحبه هلتـــه هیڅـــوک نـــه وه ســـاحل صـــاحب د چـــوکۍ تـــر څنـــګ ناســـت وو او د ځـــان ســـره یی خبرې کولی،

ساحل په غوسه سلطان ته وویل: چپ سه بی عقله،

شـــهاب خپـــل تلیفـــون د جیبـــه راویســـتی او ســـاحل تـــه یـــی وویـــل: ســـاحله کـــه تـــه زمـــا او د ســـلطان خبـــرې نـــه منـــي واخله دا عکاسی وګوره،

کلـــه چـــی ســـاحل د شـــهاب تلیفـــون وکتـــی نـــو ویلیـــدل چـــی دی پخپـــل دفتـــر کـــی د چـــوکۍ تـــر څنـــګ ناســـت وو او خبـــری یـــی کـــولی هلتـــه هیڅـــوک بـــل نـــه وه ســـاحل پـــه فکـــر کـــی ډوب وو بیـــا یـــی خپـــل تلیفـــون را واخیســـتی ځکـــه پـــه کـــلاء ده او زینـــت عکـــس ســـره نیـــولی وو کلـــه چـــی یـــی تلیفـــون راوکښـــی او هغـــه عکـــس یـــی پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستي نو ویلیدل چې په عکس کې یوازې دی ولاړ دی بل څوک نه وه ور سره،

ساحل په فکر کې ډوب سو بیا شهاب وویل: ساحله ستا هغه ورځ پیاد ده چې ما تاته وویل چې زه مې مور د انا کورته بیایم په هغه ورځ زه د مور سره نه وم تللی په هغه ورځ زه نارنج کلاء ته تللی وم چې دا معلومه کم چې هلته ستا سره څه پیښ سوی وه خو کله چې هلته ورلم غوښتل مې تحقیق وکم خو څه وخت وروسته په کلاء کې د پانزیبو د شرنهګارې بږغ سو زه چې په هغه بږغ پسې ور روان سوم بام ته وختلم زه پر بام ولاړ وم چې یو دم یو چا ډېره ټینګه لغته راکړه او زه یې د دیواله سره وجنګولم تر داسې حاله یې ووهلم چې ما د راپورته کیدو طاقت لا د لاسه ورکې بیا یې غوښتل چې د کلاء د بام څخه مې لاندې وغورځوی او مړ مې کې چې په دي وخت کې ستا تلیفون راغلی کله چې هغې بلا ستا نوم واوریدی نو زه یې پریښولم زه هلته بې هوښه سوم چې کله په هوښ کې رالم نو ومې لیدل چې زه یې د بام څخه راکښته کړی وم او لاندې یې د کلاء د دروازې سره غورځولی وم په هغه ورځ زه د ډېرو سره نه وم لګیدلی بلکې هغې بلا وهلی وم هغه انسانه نه بلکې بلا ده بلا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل په حیرانۍ سره شهاب ته وکتل او بیا شهاب وویل: ساحله هغه پیسې چې تا دا کمپنیان په جوړې کړی تاته هغه پیسې چا درکړی؟

ساحل په حیرانۍ وویل: هغه د زینت په غوښتنه د هغې د اکا زوی راکړی چې په بانک کې یې کار کوی،

شهاب وویل: ساحله هلته هیڅ بانک مانک نسته هغه د هغو بلاوو بانک وو،

ساحل په فکر کې سو او هغه صحنه ور پیاد سوه چې کله دی بانک ته ننوتی نو ټولو د بانک کارکوونکو ورته حیران حیران کتل او بیا هغه خبره ور یاد سوه چې زینت ورته ویلې وه: ساحل! بیا چې کله بانک ته ورتللی بیا د شپې لخوا ورسه ځکه چې هغه د ورځې نه وی، چې بیا ده پوښتنه ځنې وکړه چې دا بیا څنګه بانک دی چې د ورځې نه وی د شپې وی؟ بیا چې زینت موسکۍ سوه او ویویل: دا بیا زموږ بانک دی،

بیا شهاب وویل: ساحله په هغه ورځ چې ته ددوی سره بانک ته ننوتلی نو ته هم د هغو سره ورک سوی نو ځکه هغه دوکاندار چې هلته یې دوکان کوی داسې فکر وکې چې ته پیری یې نو ځکه هر واری چې به یې ولیدلی نو وبه بیریدی او د پیری پیری ناری به یې وهلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل ددي کیسو په اوریدو ډیر حیران سو او په فکر کی ډوب سو بیا یی یو دم د لاس څخه د سیروف پایپ لیری کې او د کټ څخه ولاړ سو، ټولو ناري پر وهلی چی ساحله ساحله دا څه کوی خو ساحل هغوی ټول پوری وهل او د بیستر خونی څخه ووتی د ساحل مور و پلار او شهاب پسی ځغستل چی ساحل ودروی خو ساحل د روغتون څخه ووتی او د شهاب په موټر کی کښینستی او د کلی پر طرف روان سو شهاب هم موټر ته وختی او په ساحل پسی روان سو، پر لاري ساحل ته د زینت خبری ور یادیدلی،

چی کله یی اول وار په کلاء کی زینت ولیدل: وبخښه زه ددی کلاء مختته تیریدم نو ومی لیدل چی د کلاء دروازه خلاصه وه نو ځکه راغلم چی وګورم چي په کلاء کی څوک دي،

ساحل د کلاء دروازی ته وکتل چی بنده وه او بیا یی په حیرانتیا ورته وویل: د کلاء دروازه خو تړلی ده نو څنګه تاسو راغلاست؟

چی بیا ساحل ورته وویل: زه دی وبیرولم ما فکر کاوه چی د کلاء پیری دی،

چی بیا زینت موسکی سوه او ویویل: همداسی می وبوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library

-زینــت: زمــا د پوښــتنی لپــاره تلیفونــه تــه حاجــت نســته صرف ما یاده که زه به درته راسم،

ساحل موسکی سو او ویویل: ولی ته پیری یی؟

زینت موسکې سوه او ویویل: همداسی فکر وکه،

ســاحل پــه همــدا فکــرو کــی وو چــی کلــی راورســیدی ســاحل مــوټر د کــلاء پــر طــرف ور روان روان کــې کلــه چــی کــلاء تــه ورســیدی نــو پــه ډیــر تکلیــف د مــوټر څخــه راکښــته ســو او د کــلاء پــر طــرف یــی ور وځغســتل کلــه چــی کــلاء تــه ننــوتی نــو د کــلاء پــه دننــه صــالون کــی یــی شــاوخوا وکتــل او بیــا یــی پــه لــوړ اواز وویل: زینت! زینت!!!! زینت!!!،

خــو څــوک نــه معلومیــدل ســاحل پــر ځنګنــو ولویــدی لاس یــی پــر ســر ونیــول او پــه ژړا یــی وویــل: زینــت!!! زینت!!!،

ســاحل هلتــه پــر ځنګنــو ناســت وو او ژړل یــی چــی څــه وخــت وروســته پــه کــلاء کــې بــاد ســو او بیــا د ســاحل شــاته د پــانزیبو د شــرنګهاې ږغ ســو، ســاحل ډیــر حیــران ســو کلــه چــی یــی شــاته وکتــل نــو ویلیــدل چــی پــه مــخ پــوټې پــوړنۍ کــی زینــت ولاړه وه، ســاحل د هغــی پــه لیــدو ډیــر حیــران ســو او بیــا یــی د زینــت پښــو تــه وکتــل چــی هغــه پانزیبونــه یــی پــه پښــو وه چــی ده بــه هره شپه په کلاء کی اوریدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل زینت ته ور ولاړ سو او په ژړا یی وویل: زینت ټول وایی چی ته پیری یی خو زه یی نه منم،

زینت وویل: هغوي رښتیا وایی،

ساحل ډیر حیران سو او سترګې یی د حیرانیه وپړسیدلې او بیا پر مځکه ولویدی ډیر وخت هم هلته چپ ناست وو زینت یی لاس ته وکتل چی وینې تر بهیدلی زینت یی خواته ورنیږدی سوه غوښتل یی چی لاس یی ور وتړی خو چی کله ساحل ته نیږدی سوه نو ساحل ځنی شاته سو او وبیریدی بدن یی په ریږدیدو سو، زینت ساحل ته وکتل او بیا یی وویل: مه بیریږه که ما ته وژلای یا می تاته تاوان در رسولای نو اول به می دا کار کړی وای،

ساحل ارام سو او زینت یی بیا و ښنګته ور نیږدی سوه او د ساحل لاس یی په خپل لاس کی ونیوی او بیا یی زخمی ځای ور وتړی کله چی ساحل ارام سو نو یی وویل: تا ما ته مخکی ولی نه ویل چی ته انسان ذاته نه یی؟؟

زینت وویل: که می درته ویلی وای نو تا به زما څخه نفرظ کړی وای او زما څخه به بیریدلای،

ساحل وویل: تا خو ډیر انسانان په دې کلاء کی مړه کړل نو زه دی ولی پرینښوولم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینت اوږده ساه واخیسته او بیا یې وویل: ته مې هم وژلې،

ساحل حیران سو او بیا یې په غوسه خپل لاس د زینت د لاس څخه لیری کې خو زینت بیرته د هغه لاس په خپل لاس کې ونیوی او ویویل: په هغه ورځ چې تا د مور سره خبری کولی خو هغې نه غوښتل چې ستا سره خبری وکړی په هغه ورځ ما غوښتل چې تا ووژنم ستا د وژلو لپاره د کلاء بام ته درلم خو کله چې مې هلته وکتل تا غوښتل چې له ډیرو غمونو خپله خپل ځان ووژنې زما زړه دربانـدي وسوځیدی ستا معصومه څیهره چې مې ولیدل چې د ډیرو غمونو ښکار ګرځیدلی وه نو ومې غوښتل چې ستا سره کمک وکم او تا ددې تاریک ژوند څخه دباندې راوباسم ساحل که چیری په هغه ورځ زه هلته نه وای درغلې نو تا به هتماً ځان وژنه کړی وای،

ساحل وویل: د یوه نفر ژوند ژوغوری خو د سلګونو انسانانو ژوند دی واخیستی ایا دیته ستا مهربانی ووایم که بی عقلی؟

زینت وویل: ساحل زه نه غوارم چې ددي سبب درته ووایم چې هغوی ما ولی مړه کړه،

ساحل وویل: سبب؟ ایا زما د ملګری وژل هم یو سبب درلودی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینت وویل: ساحل زه نه وم خبره چې هغه ستا ملګری دی که نه ما به داسی نه وای کړی،

ساحل خپل لاس د زینت د لاس څخه لیری کې او ولاړ سو غوښتل یی چې د کلاء څخه ووځې خو کله چې د کلاء دروازې ته ور نیږدی کیدی د کلاء دروازه ورته وترل سوه ساحل چې کله شاته وکتل نو د زینت سترګې د یو تیز څراغ پڅیر لګیدلی وروسته بیرته عادې حالت ته واوښتی بیا یی وویل: ساحل ته زما یی ته زما څخه هیڅ چیری نسی تلای،،،،

ساحل وویل: څه به وکې ایا ما به هم مړ کې؟؟

زینت وویل: تا داسی فکر لا څنګه وکې چې زه به تا مړ کم ددې څخه مخکې به زه خپل ځان مړ کم،

ساحل وویل: زینت پوهیږم نن ورځ چې زه څه لرم مور،پلار، ورونه زما کمپنیانې زما موټران دا ټول تا راکړیدی ماته زه دی اسحانمند یم خو زینت زه ستا څخه بیریږم ټول عمر به په ویره ژوند در سره کوم،

د زینت تر سترګو اوښکې روانې سوی د ساحل خوا ته ورغله د ساحل لاس یی په لاس کی ونیوی او بیا یی وویل: ساحل! زه ستا سره مینه کوم ته زما هر څه یی نو ته بیا ولی زما څخه بیریږی ته خو زما مینه یی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: زینت ما او تا یو ځای نسو سره اوسیدلای ځکه ستا په څیهره کې ما ته د هغو کسانو جسدونه معلومیږي چې تا وژلي دي نو هیله کوم ما پریږده چې زه مې خپل ژوند یوازې وکم زه به په ټول ژوند واده ونکم،

وروسته ساحل خپل لاس د زینت د لاس څخه وکښې او روان سو د کلاء دروازه ورته خلاصه سوه، زینت پر خپل ځای کښینستل او ډیر یې وژړل ساحل هم د کلاء څخه راووتی په دروزاه کې ورته شهاب ولاړ وو شهاب ساحل په موټر کې کښینوی او د ښار پر طرف روان سول، ساحل خپل سر د موټر پر هنداره ایښی وو تر سترګو یې اوښکې روانې وې او د زینت یادونه ور یادیدل،

څه وخت وروسته خپل کور ته را ورسیدل د ساحل مور او پلار هغه ته انتظار وه خو ساحل چې کله د موټر څخه راکښته سو نو د هیچا سره یې خبرې ونه کړې او خپلې کوټې ته ننوتی او دروازه یې په ځان پسې بنده کړه وروسته خپل د کټ تر څنګ کښینستی او ډیر یې وژړل،

ساحل تر ماښامه خپل د کوټې څخه نه راووتی مور او پلار یې ډوډۍ ورته راوړل خو د ساحل کوټه همهغسې قلف وه مور یې د دروازۍ تر شا ورته وویل: ساحله زویه دروازه خلاصه که د سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

راهیسی دي هیڅ شي نه دي خوړلی صیحت ته دی تاوان لری،

خو ساحل دروازه نه خلاصول بیا یی پلار ورته وویل: ساحله زویه دروازه خلاصه که هله زویه مور او ما دي ډوډۍ درته راوړیده،

خو ساحل بیا هم دروازه نه کړل خلاصه مور او پلار یی ډیر ورته وویل خو هیڅ فایده یی نکول وروسته هغوی ځنی ولاړل څه وخت وروسته شهاب راغلی ویلیدل چی د ساحل مور او پلار ډیر پریشانه دی شهاب وویل: څه خبره ده ولی داسی پریشانه یاست ساحل خو به ښه وی؟

د ساحل مور وویل: زویه د سهار راهیسی یی هیڅ هم نه دي خوړلی دروازه یی همغسې په ځان پسی تړلی ده،

شهاب وویل: ډوډۍ ماته راکې زه یی ور وړمه تاسو دلته کښینې،،

د ساحل مور شهاب ته ډوډۍ ورکړه او شهاب د ساحل کوټی ته ورووړه، شهاب د ساحل د کوټی دروازه ور وټکول او ویویل: ساحل دروازه خلاصه که زه یم،

ساحل بیا هم دروازه نه خلاصول شهاب بیا دروازه وټکول او ویویل: ساحل دروازه خلاصه که یاره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــږ وروســـته ســـاحل دروازه خلاصـــه کـــړه خـــو ســـترګې یـــی د شـــهاب د ســـترګو ســـره ونـــه موښـــلولی او بیرتـــه خپـــل پـــه ځـــای کښینســـتی، شـــهاب یـــی تـــر څنـــګ کښینســـتی او ورتـــه یـــی وویـــل: ســـاحل مـــور ویـــل چـــی د سهار راهیسی دي هیڅ هم نه دي خوړلی؟

ســـاحل پـــه ژړغـــونی ږغ وویـــل: اشـــتهاء مـــی نـــه ورتـــه کیږی،

شـــهاب د ډوډۍ ګولـــه جـــوړه کـــړه او د ســـاحل خـــولۍ تـــه یـــی ونیـــول خـــو ســـاحل ورتـــه وویـــل: زه وږی نـــه یـــم یاره خواته می نه کیږی،

شهاب وویل: زما لپاره یی وخوره،

ساحل وویل: نه یاره وږی نه یم،

شـــهاب بیـــا هـــم د ډوډۍګولـــه د ســـاحل خـــولۍ تـــه ور نیـــږدی کـــړه او ورتـــه یـــی وویـــل: دا بـــه زمـــا لپـــاره هتمـــاً خوری،

ســـاحل هـــم د شـــهاب د لاس ډوډۍ وخـــوړل بیـــا شـــهاب وویـــل: نـــن مـــی د هغـــه نـــوی قراردادیـــانو ســـره خبـــرې وکـــړی هغـــوی مـــی ســـبا تـــه دفتـــر تـــه راغوښـــتي دی یـــو غونـــډه لـــرو نـــو ســـبا د وختـــي ځـــان تیـــار کـــه زه در پســـی راځم بیایم دي،

ســـاحل وویـــل: تـــه خبـــرې ور ســـره وکـــه زمـــا طبعیـــت نـــه دی سم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهاب وویل: ما هغو ته همداسی وویل چی د ساحل طبعیت نه دی سم خو هغو ټینګار کوی چی موږ د ساحل صاحب سره وینو،

ساحل وویل: سمده ور سره وبه وینم،

شهاب وویل: نو زه اوس ځم پر ځان دی پام کوه دوا دي بیا پر وخت وخوره،

شهاب ولاړ سو او د دروازئ پر طرف روان سو کله چي دروازئ ته ورسیدی نو بیرته یی ساحل ته مخ ور واړوی نو ویلیدل چی ساحل ډیر غمګین وو شهاب بیرته راوګرځیدی او د ساحل تر څنګ کښینستی او ساحل یی په غیږ کی ونیوی، د ساحل تر سترګو اوښکي راغلی شهاب هغه ته ډاډګیرنه ورکول،

سهار سو څه وخت وروسته ساحل او شهاب دواړه دفتر راغلل ټولو کارکونکو ساحل ته ښه راغلاست ووایه وروسته ساحل او شهاب د غونډو تالار ته ولاړل نوی قراردادیان را رسیدلي وه ټولو د ساحل سره روغبړ وکي بیا یوه قراردادی ساحل ته وویل: موږ شهاب صاحب ته وویل چی د ساحل صاحب طبعیت به نه وی سم موږ به ستاسو سره خبري وکو خو شهاب صاحب ټینګار کوی چی باید موږ ستاسو سره خبرې وکو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل په دي خبره سره شهاب ته وکتل او شهاب موسکی سو، څه وخت وروسته غونډه پیل سوه ټول نظریات او وړاندیزونه پیل سوه خو ساحل هیڅ هم ونه ویل بیا یوه قراردادی وویل: ساحل صاحب تاسو په دي اړه څه وایست؟

ساحل په فکر کې غرق وو او د قراردادی اواز یی نه واوریدی بیا هغه قراردادی وویل: ساحل صاحب تاسو ښه یاست؟

ساحل یو دم راویښ سو او بیا یی وویل: وبخښې زه لږ ارام ته ضرورت لرم تاسو د شهاب سره خبرې وکې دی به تاسو ته هر رنګه تشریح او معلومات درکې،

وروسته ساحل د غونډو د تالار څخه ووتی او خپل دفتر ته ولاړی خپل چوکۍ ته یی ځنګ واچوی او د زینت په خیالو کی ډوب سو او کرار کرار یی تر سترګو اوښکې روانی سوی،

ساحل به ټوله ورځ غمګین وو او هیڅ به ژوند خوند نه ورکوی تل به یی ژړل او د زینت په فکرو او خیالو کی به ډوب وو،

یوه ورځ ساحل دفتر ته راغلې او شهاب ورته وویل: ساحل څو خبریالان راغلی دی چی ستا سره مرکه وکې د غونډو په تالار کی تاته انتظار دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: شهاب یاره زه نسم کولای ته ورسه خبرې ور سره وکه،

شهاب ساحل تر لاس ونیوی او د غونډو تالار ته یی کش کې کله چي خبریالانو ساحل ولیدی نو ټولو روغبړ ور سره وکې او بیا یی مرکه شروع کړه، خبریالانو د ساحل د کاروبار اړوند ټولې پوښتنې وکړی او په پای کی یو خبریال وویل: ساحل صاحب یوه اخیری پوښتنه کوم دا داسی پوښتنه ده چی ټول یی په اړه غواړی خبر سی او دیته انتظار دی چی تاسو به دي پوښتنې ته کله جواب وایست هغه دا چي ویل کیږی د هر کامیاب نارینه تر شاه د یوې ښځې لاس وی تاسو دا راتع ویلای سی چی هغه څوک ده چی تاسو یی دي ځای ته راورسولاست؟

ساحل او شهاب په دي پوښتنه زیات حیران سول بیا ساحل شهاب ته وکتل او بیا یی مرکه پریښوول او د غونډو د تالار څخه ووتی او خپل دفتر ته ولاړی د دفتر دروازه یی وتړل او پر چوکۍ کښینستی د هغه خبریال دا پوښتنه یی ذهن ته راغلل چی ویل یی د هر کامیاب نارینه تر شاه د یوی ښځې لاس وی هغه څوک ده چی تاسو یی دي ځای ته راورسولاست په دي سره ساحل ته زینت وریاد سول او تر سترګو یی اوښکې روانی سوی وروسته یی سر پر میز کښیښوی او د زینت په جدایی کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـی ډیـر وژړل سـاحل سـر همداسـی پـر میـز ایښـی وو چـی څـه وخـت وروسـته پـه دفتـر کـي د سـاحل د میـز د سـر څخـه څـه شـیان لانـدي ولویـدل، سـاحل پـه حیرانـی سـره سـر راپورتـه کـې او شـاوخوا یـی وکتـل څـوک نـه وه خـو وروسـته بیـا داسـی معلومـه سـوه لکـه یـو چـا چـی د دفتـر پـر غـالۍ پښـه کښیښـول سـاحل پـه حیرانـی اوښـکې پـاکې کـړی او پـه ژړا یـی وویـل: نـو سـتا هـم زه نـه یـم هیـر سـوی تاتـه هـم زمـا بغیـر ژونـد خونـد نـه درکوی اوه؟

پـه دفتـر کـی چوپتیـا خپـره وه سـاحل چـی تـر سـترګو یـی اوښـکې بهیـدلی وویـل: زینـت زه پـوهیږم چـی تـه همدلته یی ځان راښکاره که،

لـږ وروسـته زینـت راښـکاره سـوه چـی د سـاحل میـز تـه نیـږدي ولاړه وه او تـر سـترګو یـی اوښـکې روانـي وی، کلـه چـی سـاحل زینـت ولیـدل نـو دواړو پـه ژړا ژر یـو او بـل پـه غیـږ کـی سـره ونیـول او ډیـر یـی سـره وژړل سـاحل پـه ژړا کـې وویـل: زه مینـه در سـره لـرم زینت مینه در سره لرم زه بیله تا ژوند نسم کولای،

زینـت هـم وویـل: زه هـم ډیـره مینـه در سـره کـوم سـاحل زه هـم بیلـه تـا ژونـد نسـم کـولای بیـا هیڅکلـه مـا یـوازې مه پریږده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: نه دی پریږدم زینت زه به تا هیڅکله یوازې پرینږدم زه مینه در سره لرم زینت مینه در سره لرم،

شهاب د خبریالانو سره جنجال وو او هغو ته یې وویل: ما تاسو ته نه وه ویلې چې د ساحل صاحب څخه به د شخصي ژوند په اړه پوښتنې نه کوی؟

خبریالانو وویل: موږ بخښنه غواړو صاحبه،

شهاب د هغو څخه روان سو ډیر پریشانه وو او بیا خپل دفتر ته ولاړې او پر خپل چوکۍ کښېنستی اوږده ساه یې واخیستل او بیا یې خپل کمپیوټر چالاند کې په کمپیوټر کې اخته وو چې بیا یې یو دم ځار کیمرو ته فکر سو کله چې یې کیمرې چالانده کړې نو د ساحل دفتر یې په کیمره کې رانیږدی کې شهاب ډیر حیران سو ځکه د ساحل د دفتر په کیمره کې یې ولیدل چې ساحل د خپل دفتر پر یو اوږده چوکۍ ناست دی او خاندي او خپل لاس یې داسې نیولی دی لکه د یو چا په غاړه کې چې یې ور اچولی وی، په دي سره شهاب ډیر پریشانه سو،

ساحل او زینت به هره ورځ سره لیدل د ساحل مور او پلار او شهاب ډیر پریشانه وه،

یوه ورځ چې کله شهاب نارنج کلاء ته تللی وو د ساحل په کور کې څو میلمانه وه د ساحل مور او پلار او شهاب سره ناست وه او د ساحل په اړه ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریشان وه او د ساحل په اړه یې هېرې سره کولی کله چې د شهاب او د ساحل د مور او پلار خبرې خلاصې سوی نو د ساحل کور ته راغلی میلمه وویل: څه وخت مخکې زموږ په ښار کې هم داسې کیسه پېښه سوی وه زموږ یو ځوان باندي هم داسې پیریان ناست وه او هغه یې نه پرېښوی بیا د هغه ځوان کورنۍ د ښار یو بزرګ پیر ته ور وستی بیا هغو پیریانو هغه ځوان پرېښوی،

د ساحل پلار وویل: ایا هغه پیر او بزرګ اوس هم ژوندی دی؟

میلمه وویل: متاسیفانه چې هغه یو کال مخکې مړ سویدی د هغه پر ځای یې اوس زوی ناست دی اوس هغه دا کارونه پر مخ وړی هغه ته به ورسو او مشوره به ځنی واخلو،

د ساحل پلار وویل: سمده سبا ته به ورسو،

کله چې راتلونکی ورځ راغلل نو شهاب خپل موټر راوستی د ساحل مور او پلار او میلمه په موټر کې کښېنستل او د هغه پیر او بزرګ په طرف روان سول د څو ساعتو مزل وروسته هغه ښار ته ورسیدل،

ساحل د کلاء پر بام د زینت په غیږ کې خپل سر ایښی وو او زینت د هغه په وریښتیانو کې خپل لاس وهی او باندار یې سره کوی ساحل وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینــــت! تـــه بـــه مـــی کلـــه خپـــل د مـــور او پـــلار ســـره معرفی کې؟

زینـــت موســـکی ســـوه او ویویـــل: ســـاحل زمـــا د پـــلار د انســـان ذاتـــو ســـره نـــه لګیـــږی خـــو پـــر هغـــه زه ډیـــره ګرانـــه یـم مـــا هغـــه تـــه سـتا پـــه اړه وویـــل هغـــه زمـــا څخـــه بیـــا څـــو ورځـــې خوابـــدی او خفـــه وو خـــو بیـــا راســـره پخـــلاء ســـو او راتـــه یـــی وویـــل چـــی زه غـــواړم د ســـاحل ســـره وویـــنم بیـــا مـــا ورتـــه وویـــل چـــی ســـاحل پـــه دي تـــر اوســـه نـــه دی خبـــر چـــی مـــوږ انســـانان نـــه یـــو بیـــا مـــی بابـــا وویـــل چـــی کلـــه دي خبـــر کـــې نـــو بیابـــه یـــی راســـره مـــخ کې چی زه مو ژر تر ژره واده دروکم،

ســـاحل د زینـــت د غیـــږ څخـــه خپـــل ســـر پورتـــه کـــې او پـــه تعجـــب ســـره یـــی وویـــل: ډیـــر ښـــه دا خـــو ډیـــر ښـــه وســـوه چـــی هغـــه زه ومـــنلم کـــه نـــه زمـــا پخیـــر بدرنګـــه تـــه بـــه خپله شهزاده ګی لور چا ورکولای،

زینـــت وویـــل: داســـی مـــه وایـــه ســـاحل شـــهزاده خـــو زمـــا په نصیب سو ته زما شهزاده یی،

ســـاحل وویـــل: زه او شـــهزاده؟ دا خـــو ناممکینـــه ده خـــو خیـــر بخـــت مـــی ســـم دی چـــی مـــا تـــه د نـــړۍ تـــر ټولـــو ښکلی ناوې را په نصیب کیږی،

زینت وویل: او ما ته د نړۍ تر ټولو ښکلی خاوند،

ســـاحل د زینـــت لاس پـــه لاس کـــی ونیـــوی او هغـــه یـــی ښـــکُل کـــې او ویویـــل: اوس نـــو هیڅکلـــه مـــا یـــوازې مـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریـېـږده او هیڅکلــه زمــا څخــه مــه جـدا کیـږه کــه نــه پــه قسم سره چې بیله تا به زه ژوندی پاته نسم،

زینـــت د ســـاحل لاس ځانتـــه راکـــش کـــې او هغـــه یـــی ښـــګُل کـــې د ســـاحل ســـر یـــی پخپـــل غیـــږ کـــی کښیښـــوی او ویویـــل: هیڅکلـــه نـــه هیڅکلـــه بـــه زه یـــوازې تـــا پرینـــږدم، او بیـــا د زینـــت ســـترګې د خپـــل حالـــت څخـــه واوښـــتی او پـــه درد ســـره یـــی وویـــل: او نـــه هـــم څـــوک پریږدم چې موږ سره جلا کې،

کلـــه چـــی زینـــت دا وویـــل نـــو پـــه لاس کـــی یـــی څلـــور میخونـــه ونیـــول او هـــوا تـــه یـــی وغورځـــول ســـاحل هغـــه ونه لیدل،

شـــهاب د ســـاحل مـــور او پـــلار او میلمـــه د پیـــر پـــر طـــرف روان وه چـــی یـــو دم مـــوټر ودریـــدی د ســـاحل پلار شهاب ته وویل: څه پیښه سوه زویه؟

شهاب وویل: نه پوهیږم،

خـو کلــه چـی شــهاب د مـوټر څخــه کښـته سـو نـو ویلیـدل چـــی د مـــوټر څلـــور ســـره ټایرونـــه پنچـــر ســـوی وو شـــهاب ډیـــر پریشـــانه ســـو ویویـــل: اوه زمـــا خدایـــه دا څـــه وسوه،

کلـه چـی یـی د مـوټر ټایرونـه وکتـل نـو پـه ټولـو میخونـه ننـــوتلی وه کلـــه چـــی شـــهاب هغـــه میخونـــه د مـــوټر د ټـــایرو څخـــه راوکښـــل نـــو د ســـاحل پـــلار تـــه یـــی وویـــل: بابـــا جالبـــه نـــه ده ټـــول ټایرونـــه پنچـــر ســـول او پـــه ټولـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم میخونه ننوتل او بله جالبه لا دا چی ټول میخونه یو رکم دي،

د ساحل د پلار بدن له ویری په ریږدیدو سو بیا میلمه وویل: پریشانه کیږی مه د هغه پیر صاحب ځای نیږدی دی پر پښو به ورسو وروسته ټول د پیر ځای ته پر پښو ور روان سول کله چی هلته ورسیدل نو د ساحل پلار پیر ته ټوله کیسه وکړه پیر ډیر حیران سو او بیا یی په حیرانتیا پوښتنه وکړه: ستا زوی د هغې سره چیری وینی؟

د ساحل پلار وویل: کله په نارنج کلاء کی کله بیا د هغه په دفتر کی کله چیری کله چیری،

بیا د ساحل پلار وویل: پیر صاحب زموږ زوی د خدای لپاره د هغې بلا د شره خلاص که،

پیر وویل: تاسو څه غواړی؟

د ساحل پلار وویل: موږ غواړو چی زموږ زوی د هغې له شره وساتل سی چی هغه کوم شر ور ونه رسوی،

پیر وویل: سمده تاسو ستاسو زوی او هغه بلا خپل کورته راوغواړی زه به دم و درود پر وکم چی ستاسو زوی ته کوم تکلیف ونه رسوی،

د ساحل پلار وویل: خو پیر صاحب موږ به هغه ځنګه راولو هغه خو موږ وینو هم نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیــر وویـــل: ستاســـو زوی تـــه ووایســـت چـــی مـــوږ د هغــوی نکــاح ســره ور کــوو او بیــا د ښــه ژونــد دعــا ورته کوو،

د ســاحل پــلار وویــل: ســمده مــوږ بــه یــی پــه یــو طریقــه را وغواړو،

پیــر وویــل: راتلــونکی د جمعـــې ورځ ښـــه ورځ ده هغــه راوغواړی زه به دم و درود پر وکم،

شـــهاب وویـــل: پیـــر صـــاحب صـــرف بـــه ســـاحل د هغـــې د شـــره خلاصـــوی نـــور مـــوږ نـــه غـــواړو چـــی هغـــې تـــه کـــوم تاوان ورسیږی،

پیر وویل: سمده څنګه چی ستاسو خوښه وی.

د ســـاحل مـــور او پـــلار شـــهاب او میلمـــه د پیـــر څخـــه رخصـــت واخیســـتی او د ښـــار پـــر طـــرف روان ســـول، کلـــه چـــی دوی روان ســـول نـــو پیـــر پـــه هغـــو پســـی د شـــا لخـــوا وکتـــل چـــی ویلیـــدل چـــی هغـــوی ولاړل نـــو یـــو دم پـــه خنـــدا ســـو او ډیـــر یـــی وخنـــدل ټـــول مریـــدان یـــی حیـــران ســـول او بیـــا یـــی د پیـــر څخـــه د خنـــدا علـــت وپښتی،

پیــر وویــل: ددي خنــدا ســبب بــه تاســو د جمعـــې پــه ورځ ووینی،

د ســـاحل مـــور او پـــلار پـــه کـــور کـــی ناســـت وه چـــی ســـاحل کورتـــه راننـــوتی او ډیـــر خوشـــحاله وو تـــر ســـلام او روغبـــړ وروســـته ســـاحل خپـــل اطـــاق تـــه ولاړی، څـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت وروسته یی مور اطاق ته پسی ورغله او پر کټ یی تر څنګ کښېنستل ساحل خپل سر د مور په غیږ کی کښېښوی ډیر خوشحاله معلومیدی مور یی ورته وویل: څه خبره ده زویه نن ډیر خوشحاله معلومیږی؟

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: مور نن می د ژوند یو لوی ارمان پوره سو هغه ورځ می نن ولیدل چی هر ځوان یی په ارمان وی،،،

مور یی وویل: کوم ارمان زویه؟

ساحل وویل: نه اوس نه درته وایم،

مور یی وویل: اسمده زویه خو زویه زما یو خبره منی؟

ساحل وویل: هو ولی نه مور ستا هره خبره می پر سر سترګو قبوله ده،

مور یی وویل: ایا ته اوس هم نارنج کلاء ته د هغې د لیدلو لپاره ورځی؟

ساحل وویل: هو مور بیله هغې می ژوند نیمګړی وو،

مور یی وویل: زویه ما او ستا پلار د یو ملا سره ولیدل موږ ورته وویل چی زموږ د زوی او زموږ د راتلونکی مېږور د ښه ژوند لپاره دعا وکړی او هلته به ستاسو نکاح هم در وکې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل ډیر خوشحاله سو او مور ته یی وویل: دا خو ډیره ښه خبره ده مور ما فکر کوی چی ته او بابا به په دي اړیکه خوښ نه یاست،

مور یی وویل: نه زویه زه خو ډیره خوشحاله یم او ملا صاحب موږ د جمعې په ورځ راغوښتی دی ته به می مړ.ور دلته کورته راولی،

ساحل وویل: سمده مور زه به همدا اوس زینت ته ووایم،

مور یی وویل: نه زویه بیا چی کله د جمعې ورځ راورسیدل بیا به په هغه ورځ ورته ووایی ځکه چی زه غواړم مړ.ور می حیرانه کم،

ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: سمده مور،

څو ورځې تیری سوی د ساحل مور او پلار او شهاب په کور کی د دعا او خیرات لپاره اماده ګی نیول، پیر صاحب هم مقصد درلودی هغه هم د جمعې د ورځې لپاره تیاری نیوی، کله چی د جمعې ورځ را ورسیدل نو سهار د وخته د ساحل مور د ساحل اطاق ته ورغله او ورته یی وویل: زویه نن د جمعې ورځ ده پیر صاحب به هم را روان وی ته ورسه ژر زما مړ.ور دلته راوله،

ساحل هم ډیر خوشحاله وو ژر یی حمام وکی نوی کالی یی واغوستل او په بیړه د کوره ووتی او د نارنج کلاء پر طرف روان سو څه وخت وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیــر صــاحب را ورســیدی او د ســاحل پــه کــور کــی یــی خپــل د کــار تیــاری شــروع کــې د څــه وخــت وروســته ســاحل نــارنج کــلاء تــه ورســیدی او پــه خوشــحالی ســره کــلاء تــه ننــوتی او پــه لــوړ اواز یــی پــه خوشــحالی ســره ناره کړه: زینت! زینت! زینت!،

زینــت د دوهــم منــزل د زینــو څخــه لانــدی را روانــه وه ســاحل د هغــې پــه لیــدو ډیــر خوشــحاله ســو او ژر ورغلــی او زینــت یــی پــه غیــږ کــی ونیــول خــو زینــت پــه حیرانــی ورتــه وویــل: ســاحل څــه پیښــه ده نــن ډیــر خوشحاله را معلومیږی؟

ســاحل اوږده ســاه واخیســتل او ویویــل: نــن مــی الله پــاک یــو ســتر ارمــان را پــوره کــوی مــا تــه زمــا د ژونــد تــر ټولو غټه خوشحالی راکوی،

زینت وویل: خو څه خبره ده ساحل راته وخو وایه؟

ســاحل پــه تعجــب ســره ورتــه وویــل: زمــا مــور او پــلار غــواړی زمــوږ نکــاح راوکــی او زمــوږ لپــاره د ښــه ژوند دعاوی کوی،

زینت وویل: خو ساحل زما و ستا نکاح خو....،

ســاحل یــی خبــره پــری کــړه او ویویــل: تــه خــو خــو پریــږده تــه ژر امــاده ســه او زمــا ســره زمــوږ کورتــه ولاړه سه،

زینت وویل: خو ساحل..... ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل یی بیا خبره ونیول او ویویل: زینت ما څه درته وویل چی ته دا خو خو پریږده ځان اماده که او زما سره ژر ولاړه سه،

زینت په ناخوښي وویل: زه اماده یم،

ساحل وویل: نو راځه!،

ساحل تر مخه سو او زینت د شاه لخوا په پسی سول،

زینت د ځان سره وویل: ساحل ته نه پوهیږی ته نن ما هغه ځای ته بیایی چیری چی به زه ستا څخه د تل لپاره جدا سم هلته به زما د ژوند اخیری ورځ وی ته نن ډیر خوشحاله یی زه نه غواړم ستا دا خوشحالی له تا څخه واخلم که څه هم زما ژوند په دی کی لمنځه ځی،

د زینت تر سترګو اوښکې د ملغلرو پڅیر د هغې پر رخسار بهیدل د ساحل هغې ته پام نه وو ځکه چی ساحل غوښتل دوی ژر کورته ورسیږی او دی او زینت ژر د مور او پلار په مخ کی نکاح سره وکی کله چی موټر ته ختل نو ساحل ولیدل چی د زینت تر سترګو اوښکې بهیږی ساحل د هغې طرف ته ورغلی او په حیرانی یی ورته وویل: زینت ته ژاړی؟

زینت ژر خپلی اوښکې پاکي کړی او په ژړغونی اواز یی وویل: دا د خوشحالي اوښکې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: لیونۍ په خوشحالی کی څوک ژاړی نه بلکې خاندي هله ونیسه وخانده هله نو،

زینت موسکی سوه ساحل هم ډیر خوشحاله سو بیا ساحل د موټر دروازه زینت ته خلاصه کړه او زینت په موټر کی کښینستل،

په لاره کی زینت خپل سر د موټر پر چوکۍ ونیوی او مخ یی د ساحل خواته ور واړوی او ساحل ته یی په مینه مینه کتل څه وخت وروسته د ساحل ورته پام سو چی زینت ده ته ډیره په مینه ګوری ساحل موسکی سو او بیا یی وویل: څه خبره ده ولی داسی راته ګوری؟

زینت موسکی سوه او ویویل: پریږده چی نن خو دي سم ووینم او خپله تنده دربانډي لیری کم،

ساحل موسکی سو او ویویل: لیونۍ زه خو هر وخت او تل ستا یم او ته زما یی موږ د یو او بل لپاره جوړ سوی یو،

د زینت تر سترګو بیا اوښکې روانی سوی ساحل چی کله ورته وکتل نو موټر یی ودروی او ویویل: ته بیا ژاړی؟ ته نه پوهیږی چی ستا په ژړا سره زه څومره غمجن کیږم؟

زینت خپل اوښکې پاکې کړی او د ساحل په غیږ کی ور ولویدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساحل په کور کې تولـه تیاری نیول سوی وو ځه وخت وروسته ساحل را ورسیدی او د موټر څخه راکښته سو زینت په مات زړه په موټر کې ناسته وه، ساحل ورغلی او دروازه یې ورته خلاصه کړه او ورته یې وویل: راځه اغلې را ورسیدو،

ساحل حیران سو چې زینت ولې دومره زیاته خوابدې ده،

کله چې زینت د موټر څخه راکښته سوه نو ساحل تر لاس ونیول او دواړه کورته ننوتل ټول ډیر حیران سول ساحل د زینت لاس په لاس کې نیولی وو او خندل یې خو زینت نورو نه لیدل،

ساحل د مور تر څنګ کښینستی او زینت یې خپل څنګ ته کښینول او مور ته یې پټ وویل: مور دا ده ستا مړور مې درته را وستل، خو مور یې هیڅ ونه ویل او ډیره حیرانه وه وروسته د ساحل پلار پیر صاحب ته وویل: پیر صاحب مهربانی دعاوی مو پیل کې نکاح به یې په اخیره کی سره ور وکو،

پیر صاحب او مریدانو یې هم خپلې دعاوی پیل کړی زینت خپل سترګې د ساحل په څیهره کې ښخې کړی وی او یوازی یې ساحل ته کتل ساحل د زینت لاس پخپل لاس کې نیولی وو پیر صاحب او مریدانو ته یې کتل تر زیاتو دعاوو وروسته چې ټولو سترګې پټې کړی وی او امین یې وایه نو پیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب خپلې سترګې خلاصې کړې او شا وخوا یې وکتل چې ټولو خپلې سترګې بندې کړې وې پیر صاحب خپل مرید ته اشاره وکړه هغه هم د ټولو په پټه کرار د خپله ځایه ولاړ سو او غوښتل یې چې اور ولګوی خو زینت هغه ته کتل کله چې هغه غوښتل اور ولګوی نو زینت په قهر سول او هغه ته یې پر مخ ټینګه چپلاخه ورکړه په دې سره ټولو سترګې خلاصې کړې او زیات وبیریدل د مرید د لاسه د اور اورلګیت ولویدی خو پیر صاحب ژر هغه اورلګیت را واخیستی او اور یې بل کی چې په دې سره د کور پر شا وخوا اور بل سو د اور په لګیدو سره پیر صاحب په خندا سو او په خندا کی یې وویل: اوس زه خپل مقصد ته ورسیدم اوس تا زما څخه هیڅوک نسی خلاصولای، او بیا پیر صاحب نور کلمات شروع کړل ټول ډیر حیران وه،

ساحل د زینت لاس په لاس کی نیولی وو چې لږ وروسته د ساحل لاس په ریږدیدو سو ساحل چې کله خپل او د زینت لاس ته وکتل نو ویلیدل چې د زینت په لاس کی چاکونه (درزونه) پیدا سول او ټول بدن یی د اور پڅیر سور سو،

ساحل په حیرانی سره زینت ته وکتل د زینت تر سترګو اوښکې روانی وی ساحل وویل: زینت څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زینــت خپــل لاس پــه دې چـــې د ســـاحل لاس ونـــه سـوځل ســـې د ســـاحل د لاس څخـــه لیـــری کـــې او پـــه ژړا یـــې وویــل: ســاحل زه نــوره در څخــه ځــم مــا وبخښــه زه بــه نوره ستا سره نه یم دوی زه وسوځولم،

ساحل په حیرانی وویل: څه؟

ســاحل پــه حیرانـــی شـــهاب او خپــل مـــور او پـــلار تـــه وکتــل او بیرتـــه یـــې زینـــت تـــه مـــخ ور واړوی د زینـــت بــدن تــول داســـی ســو لکــه د دننــه څخــه چــی اور پکښــې بــل وی ســاحل ژر زینـــت پـــه غیـــږ کـــی ونیــول او ورتـــه یی وویل: زینت! زینت! ما یوازی مه پریږده،

بیــا یــی پیــر صــاحب تــه ور نــاره کــړه چــی چپــه ســه نــور داســـی مکـــوه، خـــو پیـــر صـــاحب د ســـاحل خبـــری نـــه اوریـــدی تـــول پـــوه ســـول چـــی پیـــر صـــاحب زینـــت وســـوځول شـــهاب ژر د پیـــر صـــاحب تـــول شـــیان ور وغورځـــول او پیـــر صـــاحب یـــی پـــوری وهلـــی او پـــر مځکه یی وغورځوی،

زینــت د ســاحل پــه غیــږ کــی ســر ایښـــی وو او بیــل یـــی پـه موســکا وویــل: ســاحل پــوهیږی زمــا لــوی ارمــان څــه وو زمـــا ارمـــان دا وو چـــی زه ســـتا پـــه غیـــږ کـــی ســـاه ورکم او کړه سم هغه ارمان می دا دی پوره کیږی،

ســـاحل پـــه ژړا وویـــل: داســـی مـــه وایـــه پـــه تـــا هـــیڅ نـکیږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زینت بدن کرار کرار سوځل کیدی او بیا په اخیره کی زینت وویل: د الله په امان ساحل،

زینت دا وویل او بیا ورکه سول، ساحل پر هغه ځای ناست وو او ژړل یی او بیا ولاړ سو او په ژړا یی شهاب او خپل مور او پلار ته وویل: زینت مړه سول تاسو ولی زما سره داسی وکړه ولی ولی؟،

شهاب ډیر حیران سو او بیا پیر ته ورغلی او هغه یی تر غاړی ونیوی او ټینګ سوک یی پر مخ ووهلی او ورته یی وویل: مور نه وه درته ویلی چی صرف د دوی د ښه ژوند لپاره دعا وکړه او د دوی نکاح سره ور وکه خو تا ولی داسی وکړه؟

شهاب لا د پیر په وهلو اخته وو پیر صاحب د وهلو په وخت کی وویل: دې زما دوه زامن را وژلي وه ما هم نن خپل انتقام ځنی واخیستی،

شهاب لا هم د پیر او د هغه د مریدانو په وهلو اخته وو چی په دې وخت کی یی مور یو لویه ناره وکړه: ساحل!!!!!،

کله چی شهاب د ساحل خواته وکتل نو ویلیدل چی ساحل پر خپل زړه لاس نیولی وو او د مځکی خواته ولویدی ټولو ور وځغستل او د ساحل ساحل ناري یی پر وهلی، کله چی یی ساحل راپورته کې نو ساحل په هوښ کی نه وو شهاب ژر ساحل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیبر کـــی پورتـــه کــې او روغتـــون تـــه یـــی ورســـوی کلـــه چـــی یـــی عملیـــات خـــونی تـــه ننباســـی نـــو څـــه وخـــت وروســـته ډاکټـــران را ووتـــل ټـــول ورمختـــه ســـول او بیـــا د ســـاحل پـــلار پوښـــتنه ځنـــی وکـــړه: ډاکټـــر صـــاحب ساحل اوس څنګه دی؟

ډاکټرانـــو پـــه خواشـــینی ســـر لانـــدې وزړوی، ټـــول ډیـــر حیـــران ســـول او بیـــا د ســـاحل پـــلار وویـــل: ډاکټـــر صـــاحب ســـاحل زوی خـــو بـــه مـــی ښـــه وی؟ ډاکټـــر وویـــل: کـــریم صـــاحب مـــوږ بخښـــنه غـــواړو ستاســـو پـــر زوی د زړه حمله راغلی وه،

پـــه دې ســـره ټـــول هـــک حیـــران ســـول او ســـترګې یـــی غټې سوی،

او بیـــا ډاکټـــر وویـــل: کـــریم صـــاحب مـــوږ خپـــل کوښـــښ وکې ساحل مو وژغوری خو؟

د ساحل پلار وویل: خو څه؟

ډاکټـــر وویـــل: خـــو ســـاحل بـــه صـــرف د دوو ســـاعتو لپاره ژوندی وی،

پـــه دې اوریـــدو ســـره ټولـــو خپـــل حـــواس د لاســـه ورکـــړل او بدنونه یی په ریږدیدو سول،

بیا ډاکټر وویل: تاسو اوس ور سره لیدلای سی،

کلـــه چـــی ټـــول دننـــه ورغلـــل نـــو ســـاحل بـــی هوښـــه وو مـــور او پـــلار یـــی پـــه ژړا څنګتـــه کښینســـتل شـــهاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ښځه څه لیری ولاړ ودریدی، څه وخت وروسته ساحل په هوښ راغلی،

ساحل په وچو شونډانو او په وچ حلق مور ته وویل: مور! ته مه ژاړه تقدیر ما او زینت په ژوند کی سره یو ځای کړی وو اوس تقدیر غواړی مور بیا سره یو ځای کې ځکه چی زموږ ژوند یو د بل سره تړل سوی وو..... ،

ساحل د خپل مور او پلار سره اخیری خبرې وکړی بیا یی مور او پلار د ډیره غمه دباندې ووتل د ساحل ورونو د ساحل څنګته نیږدی سول او ویویل: لالا موږ ته بخښه وکه موږ هم تاته ډیر غمونه درکړل،

د ساحل او ورونو خبرې یی هم خلاصی سوی او هغوی هم دباندې ووتل په عملیات خونه کی ساحل او شهاب پاته سول په شهاب کی ژړا وچه سوی وه هغه د لیونی پڅیر لیری ولاړ وو ساحل ور ږغ کړه: شهابه زما و څنګته راسه،

شهاب هم د لیونی پڅیر د ساحل و کټ ته ور روان سو او د هغه تر څنګ کښینستی او تر سترګو یی اوښکې روانې سوی د ساحل لاس یی په لاس کی ونیوی او ښکُل یی کې او بیا یی په ژړا وویل: دا هر څه زما لکبله وسول زما لکبله ته دې حالت ته راورسیدې ما ستا ښځه ستا زینت واخیستل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحل وویل: نه شهاب ته ځان مه خجالت کوه تا خو زموږ د ښه ژوند لپاره دعا کول او زموږ نوی ژوند مو راپیلوی خو تقدیر بل څه ویل د تقدیر پریکړه همداسی وه اوس تقدیر وایی چی زه باید یو ځل بیا د هغی سره یو ځای سم هغه زما په انتظار ده،

شهاب په ژړا وویل: داسی مه وایه یاره داسی مه وایه،

ساحل وویل: بس ده نور د کوچنیوالی څخه ستا وم اوس می زینت غواړی اوس زه غواړم د هغی سره په یو اوږده رخصتی ولاړ سم،بیا ساحل په ژړا وویل:....خو ګوره د کوچنیوالي دوست دي هیروه مه،

په دې سره شهاب ساحل ټینګ په غیږ کی ونیوی او دواړو ډیر سره وژړل څه وخت وروسته د ژړه ماشین ودریدی د ساحل لاسونه د شهاب د اوږو څخه لاندې ایله سوه،

شهاب په حیرانی وویل: ساحله**!؟**

شهاب چی کله ساحل پر کټ کښینوی نو ویلیدل چی ساحل مړ سوی وو په دې سره د شهاب د خولې څخه یو لویه چغه ووتل: ییییییییا!!!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د ساحل مور او پلار او د هغه ورونو د شهاب چغه واوریدل نو په ځغاسته عملیات خونې ته ور ننوتل هغو هم ولیدل چې ساحل مړ سوی وو.

کله چې د ساحل کیسه خلاصه سول نو د قاضي او په محکمه کې د ناستو ټولو خلکو تر سترګو اوښکې بهیدل او بیا قاضي وویل: ثبوتو ته په کتو سره دا محکمه شهاب بې ګناه ثابتوی او هغه په عزت سره ایله کوی او محکمه د هغه په راوستلو کې د هغه څخه بخښنه غواړی،

څو ورځې وروسته شهاب د ساحل د قبر څنګته ناست وو او د سطرنج تخته یې د هغه د قبر بغلته ایښې وه خپل واری یې تیر کې بیا یې وویل: ساحل اوس ستا وار دی ونیسه هله ځان دې وژغوره که نه زه یې در څخه ګټم،

بیا یې وویل: ځه زه به ستا پر ځای ټک وکم راته ووایه چیری یې کښیږدم دلته که هلته، بیا یې یو ځای ته لاس ونیوی او ویویل: ښه دلته یې کښیږدم؟

په دې سره د درختې له سره پاڼې باندې راشوه سوی شهاب چې ورته وکتل نو حیران سو او په موسکا یې وویل: ښه پوه سوم همدلته یې کښیږدم،

کله چې شهاب د سطرنج تختې ته وکتل نو ویویل: اوه دا خو دې مات کړم بیا دې راڅخه وګټل ډیر ناځوانه یې هیڅ وخت یې ستا څخه نسم ګټلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

(( د نارنج کلاء دوهمه برخه مه هیروی ))

ډیر ژر........

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نارنج کلاء تاریخ

د یـــو شـــمیر لرغونپوهـــانو پـــه وینـــا نـــارنج مـــانۍ ۲۳۴۱ کلونـــه مخـــکې د مقـــدوني ســـکندر د امپراطـــورۍ پـــر مهـــال ودانـــه ســـوې وه چې هغـــه مهـــال یـــوه پـــوځي اډه وه، ویـــل کـــیږي کلـــه چې ســـکندر لـــه یونانـــه راغی پـــه ټـــول هیـــواد کې يې ۱۲ دا ډول مـــــانۍ جـــــوړې کـــــړې چې د ( ســـــکندریه مـــانیو) پـــه نـــوم یادیـــدلې چې اوس يې ۱۱ مـــانۍ بـــیخي لـــه منځـــه تللـــي خـــو نـــارنج مـــانۍ د خـــاورو د یـــوې غونـــډۍ پـــه بڼه پاتې ده.

د اســـتاد حبیـــب الله رفیـــع پـــه وینـــا د کنـــدهار لرغـــوني ښـــار چې نـــارنج مـــانۍ يې ارګ بلـــل کیـــده. (( د چهـــل زینـــو جنـــوبي اړخ تـــه د قیتـــول د لـــوړ غـــره پـــه ختیځـــه لمنـــه کې جـــوړه ســـو و چې لـــه دود سره ســـم يې د یـــوې کلـــکې کـــلا بڼـــه درلـــوده چې هـــرې خواتـــه يې د ځـــار پاخـــه برجونـــه ودان وه))

اســـتاد رفیـــع وایي چې ددې ښـــار پـــه مـــنځ کې د نـــارنج پـــه نامـــه یـــوه لویـــه شـــاهي مـــانۍ وه چې پاچاهـــانو بـــه پکښې ناستې کولې او تصمیمونه به يې نیول.

دا مـــــانۍ د هوتکیـــــانو تـــــر مهالـــــه جـــــوړه وه ددې دورې وروســـــتي پاچـــــا شـــــاه حســـــین هوتـــــک هـــــم کارولـــــه وايي دلتـــه شـــاعرانو ادیبـــانو اونـــیزې مشـــاعرې او د کـــره کتـــنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډې کولې، ارواښاد پوهاند حبيبي پټه خزانه هم د همدغه مهال زيږنده ګڼي.

پوهاند حبيبي ددې مهال د زوال پر اړه کاږي ((د اوسني کندهارغرب ته د کندهار د زاړه ښارخرابې دي، چې تراوسه يې د ځينو مهمو ودانيو اثارپاته دي.

د حکومتي ځاى ارګ نخښې يې ښکاره دي، خندقونه او دښار کلا او د ځينو دروازو مواقع يې معلوميږي.

داښار د نادر افشار تريوکال محاصرې وروسته (۱۱۵۱ هجري) کې ونيوى او د هوتکو وروستى پاچا اعليحضرت شاه حسين، چې يوکال يې په ميړانه او شجاعت د ښارمدافعه کړې وه د نادرافشار په امر مازندران ته نفي سو))

نادر افشار له غوسې دا ښار وران کړ او د نادر اباد په نامه يې د يوه نوي ښار د بنسټ ډبره کښيښوده.

د کندهار لرغونى ښار د کرنو په ځمکو بدل سوى خو د نارنج کلاء په کې د خاورو د يوې غونډۍ په بڼه ولاړه ده.

۵۶کلونه مخکې په دې غونډۍ کې تاريخي کيندنې پيل سوې وې چې د جګړو له پيل سره نيمګړې پاتې سوې، تير کال د افغانستان اطلاعاتو او کلتور وزارت يو ځل بيا په دغه غونډۍ کې کيندنې پيل کړې دي چې تر اوسه يې يو ستر حمام، د اوبو سيستم او يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــمیر خـــاورین لـــوښي پـــه کې مونـــدلي دي ښـــايي څـــو نـــور کلونـــه وخـــت واخـــلي چې نـــارنج مـــاڼۍ پـــه بشـــپړ ډول سره وسپړل سي او اثار يې په فني ډول را وايستل سي.

ارواښـــاد حبيـــبي د نـــارنج مـــاڼۍ پـــه اړه لـــيکلي (( دا مـــاڼۍ لـــه مځـــکي څخـــه تخمينـــا ســـل مـــتره لـــوړه ده او ښـــايي پنځـــه يـــا شـــپږ پوښښـــه وي.اوس تقريبـــا مربـــع شـــکل لـــري، چې هـــره ضـــلعه يې ترســـل مـــتره کمـــه نـــه ده.لـــه کښـــتې دامـــاڼۍ پـــــه ډبروپخـــــه پورتـــــه ســـــوې ده او پـــــه مـــــنځ کي اوږده اوږده سوپان اوتورغارونه لري.

محمـــــد هوتـــــک، چي پـــــه خپلـــــو ســـــترګو يې داســـــلطنتي وداڼۍ ليـــــدلې ده، وايي چي د نـــــارنج قصر ـــــد کنـــــدهار پـــــه ارګ کښې ـــ و او اعليحضر ـــت شـــاه حســـين هوتـــک بـــه پـــه اوونۍ کي يـــوه ورځ پـــه خپلـــه کتـــب خانـــه کښې ـــ هلتـــه د علماء سره مجلس کاوه))


خـــــو د جګـــــړو پـــــه کلونـــــو کې د نـــــارنج مـــــاڼۍ تـــــه درانـــــه تاوانونـــه اوښـــتي خپلسر ـــې کينـــدنې پکښې ـــ ســـوي او اثـــار يې قاچـــاق ســـوي دي او تـــر ډيـــره خـــاوره يې هـــم پـــه شـــــاوخوا کې د کورونـــــو جوړولـــــو لپـــــاره وړل ســـــوې ده، خــــو اوس اطلاعــــاتو او کلتــــور وزات ددغې مــــاڼۍ لــــه احـــاطې نـــه اغـــزن تـــار تـــاو کـــړی او لـــه خلکـــو يې خونـــدې کړې ده.


(c) ketabton.com: The Digital Library

تمــه ده چې د فــني کينــدنو پــه تــرڅ کې بــه پــه نــارنج کــلاء کې د بيلو تاريخي دورو اثار وموندل سي.







(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسئله

یــو مســئله چــی یادونـــه او بحــث کــول پــری لازمــی بــولم ستاسو پام ورته را اړوم،

د نـــاول پـــه ویلـــو بـــه تاســـو تـــه دا پوښـــتنه حتمـــی پیـــدا ســوی وی چـــی ایـــا پیریـــانو تـــه د غیبـــو او پټـــو شـــیانو علـــم او خبر سته ؟

د رســـــول الله صـــــل الله علیـــــه وســـــلم د پیدایښـــــت څخـــــه مخکـــي بـــه شـــیطانان د یـــو و بـــل پـــر اوږو آســـمان تـــه وختـــل او هلتـــه بـــه یـــی د ملایکـــو خبـــرو تـــه غـــوږ نیـــوی ملایکـــو بـــه پـــه خپلـــو مینځـــو کـــی خبـــرې ســـره کـــولی چـــی الله جـــل جلالـــه وایـــی چـــی د فلانکـــی ســـړی بـــه زوی او د فلانکـــی ســـړی بـــه لـــور پیـــدا ســـی فلانکـــی بـــه مـــړ ســـی فلانکـــی بـــه داســـی ســـی او فلانکـــی بـــه هاســـی ســـی شـــیطانانو بـــه د ملایکـــو دا خبـــرې واوریـــدی او پـــه مځکـــه کـــی بـــه یـــی ســـاحرانو تـــه کـــولی خلـــک بـــه پـــر دي عقیـــده ســـوه چـــی العیـــاذ بـــالله د الله پرتـــه ســـاحران او شـــیطانان او پیریـــان هـــم پـــه غیبـــو خبـــر دي خـــو کلـــه چـــی رســـول الله صـــل الله علیـــه وســـلم دنیـــا تـــه تشـــریف راوړی نـــو پـــر شـــیطانانو دا لار بنـــده ســـول اوس پیریـــان او شـــیطانان بـــل چـــم کـــوی دوی پـــه هـــر ځـــای کـــی خپـــل کســـان درولـــی وی چـــی کلـــه د یـــو غیـــب بـــه بـــاره کـــی پوښـــتنه ځنـــی وســـی نـــو دوی یـــو و بـــل تـــه حـــال ســـره ورکـــوی چـــی پـــه فلانکـــی ځـــای کـــی د فلانکـــی ســـره

(c) ketabton.com: The Digital Library

داســـــی وســـــوه او د فلانکــــــی ســــره داســـــی او فلانکــــــی دا پــلان لــری خــو پیــاد ولــری چــی د الله پرتــه پــه غیبــو بــل هیڅــوک نــه دی خبــر او کــه څــوک بــل چــا پــه غیبــو د خبــــر عقیـــده ولـــری نـــو دا د الله ســـره شـــرک او کبیـــره ګناه ده، الله دی مو ځنی وساتی.

**په درنښت**

(( بارک ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال نور کتابونه

- ښځه په اسلام او غرب کی
- کوډې په اسلام کی
- حیثیت ناول
- عاشقې ناول
- د کندهار اتل ناول
- .......

---

## راتلونکی کتابونه

- ښې اړیکې
- د جنت او دوږخ صفتونه
- عاشقې ناول ((دوهمه برخه))
- نارنج کلاء ناول ((دوهمه برخه))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال په اړه

نیک محمد بارک موسوي د محمد عیسی موسوي زوی او د موسی جان لمسی دی چې په ۱۳۷۸ه ش کال کې یې د کندهار په ولایت کې دی دنیا ته تشریف راوړ. اسلامی زده کړی یې د کندهار په بیلابیلو مدرسو کې زده کړی او په دولس کلنی کې یې د قرانکریم د قاریتوب سند تر لاسه کې لومړنی عصری زده کړی یې د حاجی میرویس خان نیکه په عالی لیسه کې پای ته رسولی او په ۱۳۹۷ کال کې د کانکور په ازموینه کې د کندهار پوهنتون د انجینرۍ پوهنځی ته کامیاب سو چې د څه ستونزو لکبله یې ونسوای کولای چې نوموړی پوهنځی ته ادامه ورکړی چې بیا یې د عالی زده کړو لپاره د نرسنګ انستیټوټ ته امتحان ورکې او په ښو نمرو نوموړی رشتی ته انتخاب سو چې فعلن د نوموړی انستیټوټ د پنځم سمیستر محصل دی. نوموړی اوس ۲۰ کلن او مجرد دی تر ټولو لوی ارمان یې وطن او خپلی مورنی ژبی ته نه ستړی کیدونکی خدمت دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**